داطلاعاتو، فرهنگ اوتوریزم وزارت
دبیهقي دکتاب خپرولو ریاست

# دلرغوني غور استحکامي کلاوې اودهغوی تاریخي پیښې

لیکوال: پوهاند "رازقي" نریوال

# د لرغوني غور استکامي کلاوی
# او دهغوی تاریخی پیښي

د علامه سید جمال الدین افغان د یوسلو
لسم تلین په مناسبت علمي او څیړنیز
سیمینار ته وړاندې شو
د لیکوال له خوا

لیکوال : پوهاند « رزاقی » نړیوال
نشرات : موسسه نشراتي بیهقي وزارت اطلاعات ،فرهنګ و توریزم

ليکوال:
پوهاند رازقی نړیوال
لارښود استاد: سر محقق نصرالله "سوبمن"
د ليکلو نيټه: ۱۳۸۰ هـ . ل / ۱٤۲۱ ق
د چاپ نيټه: ۱۳۸۴
خپرونکي : د بيهقي د کتاب خپرولو موسسه
دچاپ ځاي : د آزادی مطبعه
تيراژ: ۱۰۰۰ ټوکه
کمپوز او ديزاين: محمديوسف "ستانکزی"

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرآغاز

وطن عزیزما سابقه تاریخی بیشتر از پنج هراز ساله دارد که در زمان های مختلف فرزانه مردمان آزاده آن ، کارنامه های جاودانه و گنجینه های سرشار علمی و فرهنگی از خود بیاد گار گذاشته اند که : تتبع و تحقیق در مورد آن یگانه راه معرفت و شناسایی فرزندان این وطن از مواریث گرانبهای فرهنگی و ارزشهای ملی گذشته گان می باشد .

وزارت اطلاعات وفرهنگ به پیروی از مشی فرهنگی دولت جمهوری اسلامی افغانستان که احیای مفاخر ملی و فرهنگی در سلسله اهداف عمده آن قرار دارد اثر حاضر بنام «دلرغوني غور استحکامي کلاوي او دهغوی تاریخی پیښي » تالیف رازقی نړیوال را که معرف غور باستان و مشخصات قلعه های استحکامی ، دفاعی و بیانگر شهکار ها وحماسه های بی نظیر پاسداران آنها می باشد طبع و جهت استفاده هموطنان عزیز آماده گردانیده تا بابهره برداری از این اثر به آگاهی بیشتر از پارینه پرافتخار خویش نایل آیند .

دکتور سید مخدوم «رهین »
وزیر اطلاعات ، فرهنگ و توریزم

# سريزه

د تاريخ د مستندو واقعيتونو او مدللو روايتونو له مخې زموږ ګران او لرغونی هيواد چې د اريانا ، خراسان او افغانستان په وياړلو نومونو ياد شوی دی، د پيړيوپيړيو په اوږدو کې د هميشه لپاره د کورنيو شخړو او جګړو سربيره د باندنيو يرغلګرانو او جهان کشايانو د تباه کوونکو جګړو او لوټماريو ډګر پاتې شوی‌دی او دا چې زموږ ميړنيوخلکو د خپل طبيعی او فزيکي جوړښت او ميراتی غورو مميزاتو له مخې د هغوئ د چپاوونو او خونړيو يرغلګريو په وړاندې د نړۍ دنورو ولسونو په نسبت زيات مقاومت او اتلولۍ له ځانه ښودلي دي، نو له همدې کبله يې د يادونې وړ زښته زيات مادي او معنوي خزانې چې زموږ دهيواد د نووښتګرو نوميالیو او سترو انسانانو د پيړيو د کار او پيکار په نتيجه کې تر لاسه شوی، له منځه تللی دی.

خو ددې پر ځای يې يوازې د تاريخی نيکنامۍ، مړانې، سرښندنې، زړورتيا او شهامت، دخاورې او خپلواکۍ سره د ناپايه مينې درلودلو يادګارونه، د تلپاتو اتلوليو هميشنۍ حماسې او کارنامې ګټلی دی.

همدا وجه ده چې د هر يو متجاوز ځواك غاښونه زموږ د هيواد په تړو او سر درو کې وتلی، ناولي استعماري او استبدادي ارمانونه يې په دې ارتو دښتونو او سمسورو ورشوګانو کې له خاورو سره خاورې شوی‌دي هوکې: له مقدوني سکندر او خونکارو چنګيزيانو څخه نيولی تر اورنګ او فرنګ او روس او بل هر وحشت او دهشت او تر نورو جابرانه ځواکونو پورې. په خلص مفهوم د نړۍ

ددغو ټولو فاتحانو او امپراطورانو بشپړی ماتې او بدنامی له همدې خاورې او له همدې سردرو او دښتو څخه راپیل شوي دي، چې زموږ د هیواد ددې مورچلیزی او قهرمانانه تاریخی سیمو څخه یو هم غور دی. او بیا لرغونی غور هغه چې د خپل ټاټوبی، خپلواکی اوملی ننګ او ناموس سره د بې ساري سرشارې مینې د درلودلو په وجه يې د يرغلګرانو او جهان کشايانو په مقابل کې تلپاتې حماسې په افغانی تاريخ کې يې د ځلاندو بيلګو او نه هيريدونکو خاطرو د تمثالونو په عنوان پريښي دی.

کله چې د غوريانو په اړوند تاريخی پېښې او واقعتيونه له نظره تيرو په هيڅ ډول سندان (مسندان)، المار، شعيب افغان، ملك قطب الدين او د غور نور قهرمان شخصيتونه د چا له يامه نه شي غورځيدلی او د غوريانو د بې سارو فداکاريو، شهامت، شجاعت او ځان تيريدنې مميزې نه شي هيريدای.

موږ د غور دجنګی کلا ګانو په منځ کې د غيرتونو، سربښندنو، قهرمانيو نه ماتيدونکی پاخه سنګرونه او پولادې مرچلونه او داسی نور په ډېر وياند ډول وپيژنو لکه:

کله چې مغلو زموږ په هيواد باندې ناتارونه او تاړاکونه پيل کړل او لکه د ملخانو لښکر زموږ پر خاوره راتويي شول نوزموږ د اسلافو د ډېرو سختو مقاومتونو سره مخامخ شول، دوئ زموږ دميړنو او جنګياليو خلکو څخه کله منارونه جوړ کړل، په ژونديني يې پوستکی ترينه و ايستل، ټول عمرانی اثار، مدنی او هنری ښکلي او بې نظيره ميراثونه يې ورته د خاورو سره خاورې کړل خو په غور کې ددې پخو کلاګانو د اوسيدونکو ډېرو سختو مقاومتونو او بې مثاله رشادتونو په واسطه مغلو ته وروښودله چې دوئ د غليمانو تسليمی او مغلوبيت منلای نه شي.

د غور ددې پخو او قهرمانو کلا ګانو څخه د فیوار، خیسار، کالسیون، سیفرود، دوکی داشیار کلا، د تولك کلا او داسې نورې د پوره یادونې وړ دی.
په همدې راز کله چې امیر مسعود بن محمود پر غور بریدونه پیل کړل، نو د غور هره سیمه ورته مورچل مورچل او قدم په قدم ورته استحکامی کلاوې مخې ته ولاړې وی که څه د ځینو په نظریه دا روایت دومره دقیق نه بریښي.
ددې تر څنګه په ښکلا، محکموالی، لوړوالی، دبدبو او په نورو مظاهرو کې د مندیش کلا، خول ماڼۍ، دکجوران ماڼۍ، د فیروز کوه کلا، د برکوشك ماڼۍ، دحصار درې کلا د درشك او بشوره کلا، پساوند، دجوز درې کلا او داسې نورې د غوری تاریخ په پاڼو کې دځلیدونکو ځراغونو په توګه تلقی کولای شو.
لنډه دا چې د غور جنګی کلا ګانې او دهغوئ په اړوند تاریخي پېښې او د داسی نورو واقعیتونو مطالعه موږ په دې قادروي چې د لرغونی غور تاریخ، دهیواد د غور ددغو پښتنو،د پښتني ژوند، پت او مړانې ویانده سمبولونه لري وپیژنو.
ددې اثرد لیکلو دمقدماتي موضوع په باب باید وویل شي چې په لومړی سر کې داموضوع د یوې اوږدې مقالې په شکل د امیر کروړ جهان پهلوان د نړیوال سیمینار په مناسبت ترتیب شوې وه چې د افغانستان د علومو اکادمۍ دنوموړی سیمینار د سکرتریت او د مقالو د کتنې اوتدقیق د کمیسیون د غړیو مثبت نظریې هم اخستلې وې. بیا وروسته مې پرې د یوې علمی پروژې په حیث کار شروع کړ اود افغانستان د علومو اکادمۍ د علمی سکرتریت (منشی) له خوا د باستانشناسی مرکز ته ارجاع شوه.
ددې لپاره چې د تحقیق او څېړنی په میتود برابر دا اثر لیکلی شوی وی په هغه مرکز کې د هغه رئیس محترم د سرمحقق معاون عبدالواسع فیروزی او

د پـــښتو ځيړنـــو د نـــړيوال مرکز علمی غړي او علمي منشي محترم ســـرمحقق نصرالله سوبمن تر لارښودنی لاندې د کتاب کار بشپړ او هغوئ خپل تقريظونه وليکل.

زه په دې برخه کې د دواړو نوموړو دانشمندانو د ښه نيت او په پيرزوناك ډول د ګټورو لارښونو او مشورو له کبله چې زما د اثر علمی غنا يې لا زياته کړه د زړه له کومې مننه کوم. ((د لرغونی غور کلاګانې)) دا اثر چې په څلورو فصلونو مشتمل دی، د لرغوني غور او د هغه د لرغونو مستحکمو کلاګانو په باب د غوريانو د زمانې په متعلق لاژم مستند معلومات لري او تر ممکنه حده پورې دمطالعې مينه وال د تاريخي غور دکلاګانو دمشخصاتو او د هغو په تړاو د تاريخي او سياسی پېښو سره اشنا کوي.

د لومړی فصل محتويات ((د لرغونی غور د جغرافياوی موقعيت، دغور دنوم تاريخی ريښې، غوريان څوك وو، او د ژبې له مخې د هغوئ نسبيت، د غور غرونه او رودونه)) څخه عبارت دی.

او په دوهم فصل کې ((د غورسياسیاوټولنيز موقعيت او د هغه په متعلق تاريخي پېښې، د غوريانو پوځي تشکيلات او مادي تامينات، د غوريانو وسلې، تجهيزات او تاکتيکی تدابيراو په غورکې د وسلو او حربی سامان الاتو د جوړولو صنعت په غور کې دمعماری صنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن)) موضوعات شامل کړی شوي دي.

د دريم فصل محتويات چې د اثر اساسی موضوع تشکيلوی: د غور جنګی کلاګانې او ښارونه، کوټونه او ماڼۍ دي. تر ممکنه حده په پوره تفصيل سره ليکل شوی دی او د اثر په څلورم فصل کې نتيجې، پيشنهادونواو اخستليکونو ته ځای ورکړ شوی دی.

د يادونې وړ بلل کيږي چې ماددې اثر په ليکلو هغه مهال پيل کړی وؤ چې تر دې دمخه مې د علمي تحقيقی فعاليت د اسلوب او د څېړنې دميتود سره چندان اشنايي نه درلودله.

نود ماخذونو څخه د مطالبو اقتباسول په نيمګړی توګه سرته رسيدلی دی او څه چې بايد په لمن ليك کې ليکل شوی وای په ميتوديکی شکل نه وؤ ليکل شوی اويا بيخی نيمګړی پريښودل شوي دي، چې متاسفانه اوس د هغو ماخذونو په واك کې راتلل له امکانه لېرې خبره ده. نو د لمن ليکونو نيمګړتياوې تر يوه حده په خپل حال پاتې شوي لکه له عينی تاريخ او نورو اثارو څخه اقتباس شوو معلوماتو لمن ليکونه.

بله موضوع چې هغه ډېره مهمه ده د کلا ګانو او ښارونو تر منځه د جلاوالی وضاحت دی چې په دی هم د دريم فصل د پيل په برخه کې لاژم نظر وړاندې شوی او يادونه ترې شوې ده.

لنډه دا چې د درنو محققانو او ګرانو فرهنګيانو څخه زما هيله داده چې ددې اثر په نيمګړتياوو د انتقاد ګوته ونه نيسی او دا زما دعلمی څېړنيزو پروژو دکار پيل وګڼي او ددې اثر د تکميل او خاليګاوو دليرې کولو په هکله خپلې لارښوونې ونه سپموي او په خپلو ليکنو زما اثر ته لاغنا ورکړي.

او ډېره اهمه دا چې د ساحوی ريسرچ امکانات می هم نه درلودل په دې اړه مې معذرت هم ومني.

*و من الله التوفيق*

*پوهاند ((رازقی)) نړيوال*

# د لارښود استاد نظر

**د غور لرغوني جنګي کلاګانې**

تر دې عنوان لاندې محترم استاد محمد صدیق رازقي نړیوال د غور تر (**۵۹**) زیاتې لرغوني جنګي کلاګانې څېړلې دي، د غور ستراتیژیکي سیمې یو وخت ډېر وسعت درلود او حتی د بامیانو او هرات په شمول د غزني او هلمند یوه برخه هم پکې راتلله په منځنیو پیړیو کې په تیره بیا په اسلامي دوره کې دخپلواکو امپراتورانو مرکز و او خپلواک واکمنان یې لرل، نړیوال صاحب دهمدغه تاریخي اهمیت په اساس د غور جنګي کلاګانې بیان کړې دي.

دغه اثر د بشپړتیا څخه مخکې ماته د ټولنیزو علومو د مرکز د تاریخ او اتنوګرافي انستیوت د علمي شورا له خوا وسپارل شو، د غو راو مطالعې وروسته مې نړیوال صاحب ته د هغه نیمګړتیاوې په ګوته کړې او په هره برخه کې مې لازمې مشورې ورته ورکړې له نیکه مرغه لیکوال په تحقیق کې پخه تجربه لري او هغه ټولې نقیصې یې په ښه توګه لیرې او خپله څېړنه یې په علمي میتود پای ته ورسوله.

پوهنوال نړیوال خپل اثر په یوه مقدمه پیل کوي او بیا په لومړي فصل کې د غور جغرافیایي ارزښت، د غور تاریخي پیښې، د غور د واکمنانو جنګي قوت او حربي وسایل بیانیږي، دغه راز د حربي وسایلو صنایعو ته یې هم کتنه کړې ده.

دریم فصل چې د اثر اصلي برخه ده د غور دجنګي کلاګانو په اړوند بحث کوي څه رنګه چې نړیوال صاحب د عسکري مسلك ماهر دی نو په ډېره ژوره توګه یې دا شان کلاګانې څېړلې دي.

د اثر په پای کې نړیوال صاحب یوه نتیجه کښلې او خپل وړاندیزونه یې جوت کړي دي ددې اثر د غنا په برخه کې لومړي لاس منابعو پوره مرسته کړې او لیکوال له هغو څخه ګټه تر لاسه کړې ده. په دغو منابعوکې تاریخنامه هرات، روضات الجنات فی اوصاف مدینه هرات، طبقات ناصری، تاریخ بیهقی، حدود العالم او پټه خزانه د یادونې وړ دي. دغه راز دویم لاس منابع یې هم غوره برېښي چې د پیاوړیو پوهانو لکه علامه پوهاندحبیبی، بارتولد، پوهاند عزیز احمد پنجشیری، علی احمد جلالی، عثمان صدقی او میر غلام محمد غبار له خوا تالیف شوي دي.

زما په نظر پوهنوال نړیوال صاحب ددې اثر په تحقیق کې زیار ایستلی او د فورم او محتوا له پلوه غنامند ګڼل کیږي، د لیکنې ژبه یې روانه او عام فهمه ده، نه یوازې مورخین بلکې محصلین او دحربي مسلك مینه وال ترې استفاده کولای شي.

دغه اثر د پوهاند علمي رتبې ته یو مناسب کاندید اثر دی او زه ددغه اثر په دې تکمیل سره محترم استاد محمد صدیق رازقی نړیوال د پوهاند د علمي رتبې مستحق ګڼم او سپارښتنه کوم چې دا کتاب دې د زیاتې ګټې اخستنې په منظور چاپ او خپور شي.

د اثر لیکوال نړیوال صاحب ته د لوی خدای څخه د نورو زیاتو علمي بریاوو غوښتنه کوم. امین.

**سرمحقق نصرالله سوبمن**

**د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز**

**علمي منشي**

**۱۴۲۲/۱/۱**

# تقریظ بر اثر

## د غور لرغونی کلاګانی او د هغوئ تاریخی پیبنی

بریاست محترم تعلیم و تربیه اردو وزارت دفاع ملی دولت اسلامی افغانستان!

اثر علمی و تحقیقی دانشمندمحترم پوهنوال **ډګروال محمد صدیق رازقی نړیوال** که تحت عنوان (**د غور لرغونی کلاګانی او د هغوئ تاریخی پیبنی**) نگاشته شده و جهت ارایه نظر به اینجانب ذریعهء مکتوب ۴۳ مورخ ذوالقعده ۱۴۱۸ ق (۱۳۷۶/۱۲/۲۷ ش) که از مکاتبه ۲۶۲ مورخ ۱۳۷۳/۱۰/۲۱ ش آن ریاست محترم فرستاده شده بود که از پس ازمطالعه و بررسی همه جانبهء علمی نظر خویش را مبنی بر آن چنین ابراز نموده بودم:

اثر مرتبهء یاد شده بر علاوه مقدمه و پیشگفتار حاوی چار فصل بوده مولف در فصل اول موقعیت جغرافیای تاریخی غور، ریشه و پیشینه تاریخی نام غور، غوریان کی بودند، و از روی زبان نسب آنها چه بود، همچنان کوها و دریاهای غور که به تشریح و توضیح گرفته است.

درین بخش محدودهء جغرافیای غور موجوده که به چهار قسمت معرفت نمود، و اندر باب هر یک آن معلومات بسندهای ارایه داشته است، متعاقباً ریشه های تاریخی غور باستان که به پژوهش گرفته و به استناد ماخذ معتبر آن را مورد بررسی قرار داده است. به همین منوال در بخش سوم این فصل غوریان را معرفی داشته و در بخش چهارم کوها و دریاهای غور را به شناسائی در آورده است که بر اهمیت این اثر افزوده است.

فصل دوم این اثر در زمینه موقعیت سیاسی و اجتماعی غور، پیامد های تاریخی متعلق به آن توام با تشکیلات نظامی و تامینات مالی و تجهیزات، مهمات و تدابیر تکتیکی غوریان اختصاص یافته است. درین فصل مولف کوشیده است موقعیت جیوپولتیکی و جیوستراتیژیکی غور را با وقایع و جریانات تاریخی آن بخصوص درازمنهء سلاله غوریان و تهاجماتیکه در زمان شان صورت گرفته است متکی با ارائهء ماخذ تشریح و بیان نماید.

مولف محترم با این شیوهء تحقیق که در خور ستایش فراوان است، کمال همت بخرج داده و مطالب ارزنده و مفیدی را جهت معلومات به خواننده عرضه داشته است. بگونه مثال میتوان از بیان چگونگی تشکیلات نظامی و تامینات مادی دورهء غوریان که به تفصیل نگاشته شده است یاد اور شد، موصوف از کار برد واژه ها و اصطلاحات نظامیکه در ساختار تشکیلاتی نظامی یا لشکری در زمان غوریان چون جاندار، سر جاندار، سر زراد، عارض و غیره که به مفاهیم محافظ گارد جعبه رسان، لوی درستیز، نایب لشکر بکار میرفت و متداول بود توضیحات لازمه ای ارایه داشته است.

فصل سوم این اثر که بخش اصلی و اساس انرا تشکیل میدهد، اندر باب قلعه های جنگی نامدار غور هر یک مفرداً به معرفی گرفته شده و در مجموع بیش ازپنجاه و نه قلعه وشهر استحکامی و دژهای نظامی به تشریح و تفصیل پرداخته شده است.

آنچه که مورد دلجسپی قرار گرفته اینست که با وجود مشکلات عدیده ناشی از عدم امکان بازدید مشاهداتی، ساحوی نویسنده گرامی توانسته است در زمینه معلومات خوب و ارزنده را ارایه نماید که در هر صورت قابل تقدیر و تحسین میباشد، امید است نویسنده خود بتواند روزی از نزدیک محلات یاد شده را بچشم سر مشاهده کرده و انطباق آنرا با یادداشت هایش نماید.

فصل چهارم مشتمل از بخش نتیجه و پیشنهادات میباشد که نویسنده در فرجام کار تحقیقاتی خویش به نتیجه گیری پرداخته، فشرده و عصارهء گرد اورد های تحقیقی مورد نظر خویش را

بیان نموده و با طرح پیشنهادات سازنده اثرش را پایان بخشیده است درین اثر تقریباً از بیست و سه ماخذ استفاده گردیده که حایز اهمیت است و نشان دهنده زحمات فراوان نویسنده محترم میباشد که بر غنامندی این اثر افزوده است، اما انچه مستلزم یاد اوری بود و بایست به شکل گذاری مولف محترم در جای مناسب بدان اشاراتی مینمودند همانا ماندگارهای فرهنگی هنر معماری دورهء غوریها است که میتوان از ان په افتخار یاد اور شده چنانچه نمونه های بارزی این دوره شگوفانی معماری را میتوان در مینار جام، مینار های مصلاح هرات و غیره دید و مشاهده کرد که بدون شبه هنر دوره غوری یکی از پردرخشش ترین عصر هنر مهماری کشور عزیز مان بحساب میرودکه حتی هنر دورهء غزنویان نیز ازان بی تاثیر نیست، چنانچه نمونه های آنرا درمینار های غزنه بوضاحت میتوان مشاهده نمود، خوشبختانه در کار رفع نواقص این اثر همین نقصیه نیز مرفوع ساخته شده و در فصل دوم آنرا بحیث بخش پنجم بحساب اورده است و در زمینه ((**په غور کې د معمارۍ صنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن**)) معلومات لازم ارایه گردیده است، میتوان در فرجام چنین نتیجه گرفته که اثر مذکور از چند جهت اهمیت فراوان بود و زحمات مولف قابل قدر و تمجید میباشد به نظر بنده اثر مذکور با در نظرداشت ویژگیهای خویش که دارد برای ترفیع علمی بر تبه بوهاندی بسنده بوده و محترم **نیروال** را که در نگارش این اثر با سعی و تلاش خستگی ناپذیر همت گماریده اند مستحق ترفیع میدانم از ریاست محترم تعلیم و تربیه اردو تقاضا میگردد تا در نشر و چاپ آن اقدام متقضی بعمل اورده تا باشد علاقمندان تاریخ و فرهنگ کشور عزیز ما از ان مستفید گردند

و من الله التوفیق

معاون سرمحقق میر عبدالروف "ذاکر"
امر انستیتوت پاستانشناسی
اکادمی علوم افغانستان ۱۳۴۴/۱/۲۷ هـ ق

معاون سر محقق عبدالواسع "فیروزی"
رئیس مرکز باستانشناسی
اکادمی علوم افغانستان ۱۳۴۴/۱/۲۷ هـ ق

# د مندرجاتو فهرست

موضوعات:

الف:

- سریزه
- مخکنی خبری اوتقریظونه
- ب :

فصلونه

لومړنی فصل

د لرغونی غور جغرافیائی تاریخی موقعیت،د غور د نوم تاریخی ریښی، غوریان څوك وو او دژبې له مخې د هغویٔ نسب، د غور غرونه او رودونه.


اول – د لرغونی غور جغرافیایی تاریخي موقعیت.
دوهـم – د لرغونی غور د کلمی تاریخی ریښی.
دریـم – غوریان څوك وو او دژبې له مخې د هغوی نسب
څلورم – د غور غرونه او رودونه


## دوهم فصل

د غور سیاسی او ټولنیز موقعیت او د هغو په متعلق تاریخی پیښی، د غوریانو پوځی تشکیلات او مادی تامینات. د غوریانو وسلی تجهیزات او

تکتیکی تدابیر، په غور کې د وسلو او حربی الاتو د جوړولو صنعت په غور کې د معماری دصنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن.

اول – د غور سیاسی او ټولنیز موقعیت او د هغوئ په تړاو تاریخی پیښې.
دوهم – د غوریانو پوځی تشکیلات او مادی تامینات.
دریم – د غوریانو وسلې، تجهیزات او تکتیکی تدابیر.
څلورم – په غور کې د وسلې او حربی الاتو د جوړولو صنعت.
پنځم – په غور کې د معماری صنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن.

## دریم فصل

د غور جنګی کلاګانې، ښارونه او کوټونه
الف – مقدمه.
ب – کلاګانې.
۱ - دمندیش کلا (ښار).
۲- د فیروز کوه کلا (ښار).
۳ – د اهنګران کلا (ښار).
۴ – د خیسار کلا (ښار) او تاریخی پیښې.
۵ - د استیه کلا (ښار).
۶ - دزرنی کلا (ښار).
۷ - د زمینداور کلا (ښار).
۸ - د بامیانو کلا (د غلغلی ښار او د هغه بالاحصار).
۹ - د غزنه کلا (ښار).
۱۰ - د برکوشک کلا (ښار) یا د برکوشک ماڼۍ (سلطانی کوشک)
۱۱ - خول ماڼۍ (قلعه سنګی یا سنجه)
۱۲ - د کالیون کلا

۱۳ - د فیوار کلا

۱۴ - د تیری کلا

۱۵ - د کهیرا کلا

۱۶ - د دوکی کلا

۱۷ - د سیفرود کلا

۱۸ - د خاسك کلا (کوټ)

۱۹ - د تولك کلا (ښار)

۲۰ - د کجوران کلا (ماهی)

۲۱ - داشیار کلا

۲۲ - دوالشتان (بالشتان) کلا

۲۳ - د تمران کلا

- تمزان

۲۴ - د تکانی کلا (کوټ)

۲۵ - دوجیرسان کلا (قلعهء وجیر)

۲۶ - د شهرك کلا

۲۷ - دکاسی کلا

۲۸ - د شور سنګ (شیرسنګ) کلا

۲۹ - د فیروز کلا

۳۰ - د ګزیو کلا

۳۱ - د ساجي کلا

۳۲ - د تیر دهنده کلا

۳۳ - د بندراو کلا

۳۴ - د بلروان کلا

۳۵ - د کوهتیز (کوهشیر) کلا

۳۶ - د سبکجی کلا
۳۷ - دخوست کلا
۳۸ - د ایثار کلا
۳۹ - د فخر آباد کلا
۴۰ - د بشلنګ کلا
۴۱ - د خوابین کلا
۴۲ - د خلج کلا
۴۳ - د روزګاران کلا
۴۴ - د قره باغ کلا
۴۵ - د دولت یار کلا
۴۶ - د چغچران کلا
۴۷ - د چهل آباد کلا
۴۸ - د چار دره کلا
۴۹ - د جوز دری کلا
۵۰ - د یامان کلا
۵۱ - د پساوند کلا (پسابند کلا)
۵۲ - د پساوند د علاقي کلا یاشین کوټ)
۵۳ - د ورشك کلا
۵۴ - د بشوره (پشوره) کلا
۵۵ - د سر مژګان کلا
۵۶ - د لروند کلا
۵۷ - د حصار دره کلا
۵۸ - د ګرزیوان کلا
۵۹ - د غوریانو نوری پاتی کلاګانی

- درنګک کلا
- لاغری کلا
- ساخانه کلا
- نای کلا
- د مرنج کلا
- د کوه سنګک کلا
- د ګچی ګرد کلا
- د خطیب کلا
- حصار تور
- نتیجه
- غوښتنی اوپیشنهادونه
- اخستلیکونه
- ژوند لیك

بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړی فصل

د لرغونی غور جغرافیوی تاریخی موقعیت، دغور د نوم تاریخی پیښی، غوریان څوك وو او د ژبې له مخې د هغوئ نسب، د غور غرونه او رودونه

اول – د لرغونی غور جغرافیوی تاریخی موقعیت:

اوسنی غور د دولت په اداری تشکیل کې د یوه ولایت نوم دی چې د طول البلد د ۶۴ او ۶۵ درجو ۳۸ دقیقو او ۳۹ ثانیو تر منځ پروت دی او عمومی مساحت یې ۳۸۷۵۸ کیلومتر مربع دی.

غور زموږ د هیواد یوه لرغونی، غرنۍ او تاریخی سیمه ده چې د لویو غرونو، خوړونو، درو او غونډیو څخه جوړه شوې، هوارې او د کر کروندې مځکی پکې لږې دی.

اوسنی غور په څلوروسیمو ویشل شوی دی:

۱ - ختیزه برخه: چې لعل سرخ، سرینك، خواجه وجیهه الدین او پساوند پکې شامل دی.

۲ - لویدیزه برخه: چې د نوروز، ملی علی، اندر اوسین څخه مرکبه ده.

۳– شمالی برخه: په دې برخه کې چشمه میران، او سرنای عاشقان شامل دی.

۴- جنوبی برخه: دا برخه د غارك، پشو، ارسیو او ځینو نورو کلیو څخه عبارت ده [۱]

مګر بیا د لرغونی غور حدود څه پراخ او څلور خواوي یې په لاندی ډول ښودل شوی دی:

- د شمال له خوانه: د بابا د غره او بامیانو.
- د جنوب له خوا: په ارزګان، تیری، هرات او اوسنی زمینداور.
- په ختیزکې: په اجیرستان (تاریخی وجیرستان) او غزنی پوری.
- د لویدیز له خوانه: په فراه، اسفزار،بادغیس او د هرات په سمسوری وادی پوری تړلی دی.

که پورتنی روایت سم شی نو د هیواد د اوسنیو اداری تشکیلاتو له مخې د غور ولایت د جوزجان، فاریاب، بادغیس، هرات، هلمند او د بامیانو د ولایت په منځ کې پروت دی.

غور چې نن ورځ د افغانسان په لویدیز کې یو کوچنی ولایت شمیرل کیږی په پخوانیو زمانو کې نسبتاً ډیره پراخه سیمه ګڼل کیدله چې د هرات او غزنی تر منځ د بابا د غره او د سپین غره (سفید کوه) له غرنیو سیمو او درو څخه تشکیله ده. او په یو بل قول دا پراخه غرنۍ سیمه چې غور او غورستان نومیده د غرجستان په ختیز او جنوب کې پرته ده، له هراته تر بامیانو د کابل او غزنی تر پولو پوری یې اوږدوالی درلود.

هر څومره چې تاریخی اسنادو ته ور وګرزو په هماغه اندازه د غور د سیمی ارتوالی زیاتیږی او لا زیاتې سیمی په هغه کې ورګډیږی.

غور او د هغه د غرونو لړۍ، د بې شمیرو چینو د درلودلو له کبله په هزار چشمه باندی مشهوره دی په پخوانیو پیړیو کې دا ولایت پوره آباد او سمسور

---

(۱) پښتو اریانا دایره المعارف، ۷ ج، د اطلاعاتو او کلتور د دایره المعارف ټولنه - ۱۳۵۵ کال - کابل ۶۳۵ - ۶۳۶ مخونه.

ؤ، لوړې ودانۍ، ښکلي او پرتمنی ماڼۍ، پخې او له برمه ډکې کلاګانې، ودان ښارونه، ترو تازه شنی درې، روڼی ویالي او صافي چینی یې لرلی د سرو او سپینو زرو د شتمنو کانونو د درلودلو په وجه یې په نړۍکې پوره شهرت درلود.

د غور همدا د پانګو ډك جغرافیوی سر شاره موقعیت چې دتاریخ په پړاوو کې یې نه یوازې سوق الجشی او ژیوپولتیکی اهمیت له لاسه نه دی ورکړی بلکې لا یې خوندی ساتلی دی.

غور په تاریخی دورو کې یو وخت ډېر زیات شهرت درلود ځکه چې غور د غوری پاچاهانو سترمرکز و او له دې ځای څخه یې تر لیریو لیریو ملکونو پورې حکمرانی کوله.

یو وخت غور د خراسان سیستان او تر ډیلي پورې د پنجاب د ولایتونو مرکز و چې په شمالی خواوو کې د مرو، بلخ، تخارستان ولایتونه پکې شامل وو او بریدونه یې د پامیر د غرونو او تر چتراله رسیدل.

د هولدچ انګریز په قول د غور نامه د اوریدلو سره سم د انسان سترګو ته یوه داسې لویه ځمکه ودریږی چې له هند څخه تر ایرانه پوری، او له امو څخه تر هرمز پورې غزیدلی ده.

د منځنیو پیړیو جغرافیه پوهانو د غور سیمه د لویو او جګو غرونو او سر دنګو تاترو په واسطه د هریرود، هلمند، خاشرود، فراه رود د سیندونوسر چشمه بولی، تر دې اندازې چې د مرغاب د سیندونو سرچشمه هم دغه ځایونه ګڼی.

د اوسنی غور د ولایت پوری تړلی حکومتونه او علاقدارۍ د شهرك لعل سرجنګل دغور او تیوری، پساوند او تولك د ولسوالیو او د ساغر د علاقدارۍ څخه عبارت دی.

## دوهم - د لرغونی غور د کلمی تاریخی ریښی:

تاریخ پوهان د غور کلمه د لرغونو کلمو لکه ګیری [۱] غرچ، غرج، ګریاغوش او داسی نورو کلمو څخه مشتق ګڼی.
((ګر)) او ((غر)) اوستایی کلمی دی او په دری کی د ((کوه)) په معنا راغلی چې په پښتو کي ورته ((غر)) واي. لکه د ((ګرشاه)) په کلمو کې چې د ملك الجبال په مفهوم او((سنګر ګروده)) او ((کروریه)) کلمی چې د درې په معنا دی او په ځینو نوروکې لکه ((ګردیز)) یا (ګردژ) چې د غرنۍ کلا په معنا راغلی دی د توماسك په عقیده د (غور، غرچه، غرج، خلج) کلمی ټولی د یوی ریښی درلودونکی دی چې د غر معنا افاده کوی.[۲] په هغه زمانه کې چې د اریانا یو ښاخ د میلاد ده دو زرو کلونو په حدودو کې پخوا له بخدۍ څخه په مهاجرتونو پیل وکړ، د دوئ څخه هغه برخه چې دجنوب لاره یې پر مخ کې ونیوله او د یوی مسافی تر وهلو وروسته د افغانستان دمرکزی غرونو لمنو ته راورسیدل، دا سیمي د ښکلو درو، شنو ورشوګانو او د طبیعی په زړه پوری منظرو د درلودلو له امله د هغوئ دهستوګنی د پاره ډیرې مساعدی وګڼل شوی او هماغه و چې په همدغو محلاتوکې میشته شول څه رنګه چې د دوئ دا نوی ټاټوبی یوه غرنۍ سیمه وه، نو یې د غور په نوم ونوموله چې د کوه معنا ورکوی.
غور چې د افغانستان له لرغونو ولایتونو څخه شمیرل کیږی، ډیر ځلانده، له برمه ډك تاریخی تیر مهال لری.

(۱) د ګیری کلمه د اوستا او سانسګریت له ریښی څخه د غر معنا افاده کوی.
(۲) عزیز احمد پنجشیری - جغرافیای تاریخی غور، انشارات پوهنتون کابل - مطبعه پوهنون ۱۳۶۰ ص.

دا ولایت تر اسلام نه دمخه دورو کې د یوه محلی مستقل حکومت درلودونکی و او د سوری کورنۍ دلته واکمنی کوله د ژبپوهنې له مخی (هور) یا (خور) چې د خاوران کلمه ترې مشتق شوی ده.
او په سانسکرت کې ورته (سور) یا (سیر) ویل کیږی او هغه د (لمر) معنا ورکوی چې دهمیشه د پاره په زړه پوری توده ځلا لری.
د خراسان اومنځنۍ اسیا په فرهنګی تاریخ کې د غور اهمیت او موقف خورا زیات او په زړه پوری دی [۱] او ښایي چې همداسی وی ځکه چې غوردهر پلوه څه د ښکلا، ښی آب و هوا و ښو منظرو، ښه موقعیت، ستراتیژیکی او ژیوپولتیکی اهمیت او طبیعي زیرمو د درلود له خاطره د هیواد د ډېرو په زړه پوری، مشهورو او غنی سیمو څخه دی.
لنډه دا چې بیخی ثابته ده چې د غور کلمه د (غر) سره تړلی انتساب لری او د ناصری طبقاتو په تعلیقاتو کې مرحوم عبدالحی حبیبی هم داسی لیکلي دی:
د (غرش) او(غرج) کلمی (غ = ګ) او (ز) چې (ګر) او (غر) له هغې څخه ترکیب موندلی دی او (ش = ج = چ) دا وروستنی حروف ممکن د عربانو تر نفوذ وروسته ورسره نښتلی وی او اضافی کلمی دی.
په هر صورت د غور کلمه لکه چې دمخه وویل شوه هماغه د غر د کلمی پښتو مفهوم دی.

## دریم – غوریان څوك وو او دژبې له مخې د هغو نسب:

څرنګه چې انسان لکه نور ژوندی حیوانات د خپل چاپیریال زیږندنه او محصول دی طبیعی ده چې د نوموړی محیط اغیزی او ځانګړتیاوی په کوم کې چې زیږیدلی او روزل شوی دی د دوئ په کړو وړو، کرکتر او نورو وړتیاګانو کې پوره تبارز کوی.

---

(۱) اتلس محلات افغانستان، اداره، مرکزی احصائیه، حوت ۱۳۶۴، کابل.

له دې ځایه هغه انسانان چې په غرینو سیمو کې زیزیدلی او هستوګنه لری نو خامخا په کړو وړو او خبرو کې ډېر زړه، زړور، مړنی، ازاد منش، په خاوری مین، جنګیالی، پاخه، سپیڅلی، ساده و رښتیاني،د قوی ارادی او هوډ او عزم خاوندان وی.

د غور اوسیدونکی هم د خپلی سیمی د جغرافیوی شرایطو له مخی د دغو انساني غریزو او ممیزاتو او پښتنی لوړو خصوصتیونو درلودونکی وو. او د جسمی قدرت له مخې هم لکه تاریخی سندونه چې په ډاګه کوی، پهلوانان او اتلان دی. چې امیر کروړ (جهان پهلوان) چا چې د سلو تنو جګړه مارو سره په یوه ځان مقابله کولای شوه ښه بیلګه ده. اودا موضوع د غور دخاوری په سوق الجشی پروسو باندی خاصه اغیزه درلودله.

راغلو دی خبری ته چې د غور اوسیدونکی (غوریان) څوك وو په تحقیقاتی توګه پرې دومره بحث کول نه غواړم ځکه چې اوږده څیړنه ایجابوی او زیاتی څیړنی پری شوی هم دی.

خو ددې خبرې توضیح لاژم بلل کیږی چې ((غوریان اصلاً پښتانه دی)) او دا په دی ارتباط چې په دی لیکنه کې په زیاتو برخو کې د غور د پښتنو(مردم افغان غور) په هکله زیاتي یادونی شوی دی.

زه د زیاتو تاریخی شواهدو په اعتبار په دی عقیده یم چې غوریان پښتانه دی د مثال په توګه: غوریان چې د افغانستان په لویدیز کې په ((غوریانو )) او په ختیز کې په ((سوریانو)) مشهور دی دا هغه کورنۍ دی چې په غور کې یې یوه لویه امپراطوری تشکیله کړی وه.

سوریان د خراسان او غورد افغانانو یو ټبر و چې تر اوسه پوری هم د هرات د لویدیز شمال د بادغیس د زورابد (زورابد - یاقوت) په خواوشا کې د زوری په نامه شته دی، تر اسلام نه دمخه دیکهول د تخارستان، غور او هرات او

خراسان په غرونو کې حکمروائي کوله او د غرشاه (ملك الجبال) په لقب یادیدل [۱]

څرنگه چې دلته د غر کلمه پښتو کلمه ده نو دا په دې دلالت کوی چې دغه غوریان پښتانه وو.

په یو بل ځای کې ویل شوی دی: قشون اسلام بعد از متوجه اریانای مرکزی از قبیل کابل، افاغنه سوری غور و غرجستان و ساکنین دامنه هاي مسلمان شد [۲] همدا شان په بیلا بیلو تاریخونو او لیکنو کې د غوریانو تر څنگه (افغان) افاغنه، پختون او پښتون څخه یادونې شوی دی د مثال په توگه، د تاریخنامه هرات په حواله د ((تیری))، ((دوکی)) او ((کهیرا)) د کلاگانو د جگړو په پیښو کې د ((المار افغان)) ((شعیب افغان))، ((سندان افغان)) نومونه راغلی دی او ددی تر څنگ په ډیرو نورو تاریخی پیښو کې د افغان کلمه راغلی ده لکه په پورتنی اثر کې ویل شوی دی.

کله چې ملك شمس الدین دکهیرا کلا ته راغی چې شعیب افغان ونیسی نو د پښتنو (افغان ها) پنځه سپین ږیری یې ورته ولیږل. [۳] نو ددی د پاره چې د افغان او افاغنی ددی کلمی نسبت د پښتون او پښتنو سره تصریح شوی وی ((د جغرافیه تاریخی ایران)) اثر ته مراجعه کوو: چې هلته داسی راغلی دی.

((افاغنه خود را پختون یا پشتون که جمع آن بختانا و پشتانا می گفتند [۴] د عینی په تاریخ کې چې نوموړی د یوولسمی پیړۍ مورخ دی د افغانانو سره د سلطان محمود جنگ د حالاتو په باب داسی یادونه شوی ده.

---

(۱) پوهاند عبدالحی حبیبی (ژباړه بینوا) د افغانستان لنډ تاریخ، انجمن تاریخ و ادب افغانسان اکادمی، ۱۳۴۹ کال، ۲۲۶ مخ.

(۲) علی احمد جلالی، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری ج۲ - مطبعه وزارت دفاع، ۱۳۴۱ کابل ۱۷۶ مخ.

(۳) عبدالحی حبیبی، ۵۰ مقالی، د ښوونې او روزنې مطبعه، کابل ۱۳۶۲.

(۴) بارتولد، ترجمه حمزه سر دا د دور (جغرافیای تاریخی ایران – تهران ۱۳۰۸.

«افغانها در سر زمین کهستانی خود که تقریباً کسی بدان دسترسی نداشت مدت مدیدی در مقابل سیادت سلاطین مسلمان و نفوذ تمدن اسلامی مقاومت ورزیدند، حتی در قرن ۱۴ در زمان اولاد امیر تیمور اکثراً افاغنه بت پرست بودند (۱)

او طبیعی ده چې ددغه کهستانی سرزمین اوسیدونکی هغه هم د غزنویانو په دوره کې پرته د همدې غوریانو څخه نور پښتانه نه وو.

په بل سندکې داسی راغلی دی.

محمود د هند تر فتحی وروسته غزنی ته راغی او د ابن اثیر په قول په لاره کې د افغانانو سره ونښت چې دوی تل د هند او غزنه په لار کې دمحمود مخه نیوله ده.

په پورتنیو او داسی نورو ډېرو مثالونو کې په ښکاره ډول لیدل کیږی چې سوری او غوریان پکې افغانان ښودل شوی دی او دا موضوع د پوره پاملرنې وړ ده چې په هغه زمانه کې دې خبرې ته کوم ضرورت نه لیدل کیده چې غوریان افغانان دی یا بل څوك، ځکه هغه وخت لکه اوس ددغسې لسانی او قبیلوی تعصب ذهنیت موجود نه وُ.

بیا هم لاندنیو تاریخی اسنادو ته مراجعه کوو چې د غوریانو د «پښتانه توب» د ادعا د تاکید ښه مثالونه کیدلای شي:

۱ - ابو الفضل بیهقی د غزنویانود دربار مورخ د امیر مسعود د غور د فتوحاتو او سفرونو په ترڅ کې وایي: چې سلطان محمود د خپل یوه استازی سره چې د غور په ژبه نه پوهیده امیر محمد سوری ته چې د غور په اهنگران کې کلا بند و د دوو تنو غوریانو سره ګوندی ترجمانی وکړی غور ته ولیږه. څه رنګه چې دغه وخت دغزنویانو درباری ژبه فارسی وه نو ښکاره ده چې د غوریانو ژبه فارسی نه او بله وه او د ډېرو

(۱) عبدالحی حبیبی د افغانستان لنډ تاریخ - انجمن تاریخ، ۱۳۴۹ ش، ص ۲۱۰.

دلــيلونو له مخې چې وروسته پرى بحث کيږى د دوئ ژبه دغه پښتو ژبه وه.

۲ - د غوريانو په ژبه کې داسي کلمى راغلى دى چې سوچه پښتو دى چې حتى همدا اوس هم په خپل سوچه توب او قوت سره رواج لرى لکه غرشا، خول مانۍ، او نور...

او يا د جوزجانى په روايت چې د غوريانود عصر يو ډېر سترګور او پوهيالى مورخ يعنى دا قاضى منهاج الدين سراج دى. نوموړى د غوريانو په دربار کې لوى شوى او د غور په ټولو سيموکې ګرزيدلى دى، د فارسى او عربى ژبو پوخ ليکوال دى نو طبيعى ده چې د غوريانو په باب دده معلومات بيخى موثق او مدلل دى، خو دامورخ په پښتو نه پوهيده، ده په ناصرى طبقاتو کې هم څو ځايه د غور ځانګړى ژبى ته اشاره کړى ده لکه چې د نوموړى اثر په ۳۸ مخ کې ويل شوى دى.

((... به بالا دوانيدن و به نشيب دوانيدن اسپ را ورلك تولك ګويند چې دا دواړه کلمى سوچه پښتو دى.

۳ - د سلطان محمودترزماني وروسته په۴۲۱ هـ کې چې د بيهقى په قول د سلطان استازى د غوريانو له پاره ترجمانۍ ته اړتيا درلودله، همدغه وخت د ((پټې خزانى)) په حواله د غوريانو لپاره موږ ته پښتو شعرونه او قصيدى لاس ته راغلى دى چې خورا ويانده مثال يې د امير کروړ (جهان پهلوان) وياړنه ده.

۴ - د غوريانو د شخصيتونو په نومونو کې هم ډېر نومونه پښتو دى لکه امير اميرپولاد امر کروړ، سيس (سيسى) سهاك سندان او نور او ددى تر څنګ دغور دځينو ځايونو نومونه هم پښتو دى لکه برکوشك، خول مانۍ، تولکيان او داسى نور، په جغرافيوى نومونو کې هم لکه اواره،

سپين ځای ( سپيد خاك يا د سپيد چه) اوبالاخره سپين جای، سيوری او داسی نور.

۵- د ابو ريحان البيرونی په اثارو کې هم چې د افغانستان او هند په ګوټ ګوټ کې ګرزيدلی دی ډېر پښتو اصطلاحات شته دی لکه ښوونه (زيتون) غوښنه (غوشنه) او نور. (۱)

۶ - د سهاکو نسبت هم د پښتو سره بيخی سم دی او ويلای شو چې سهاك پښتانه دی او هغه ضحاك (سهاك)دی نه افسانوی ضحاك.

په وروستني تحليل کې د غوريانودرباری ژبه پښتو او څنګه چې غوريان د پښتنو دسوری له تېر څخه وو نو ځکه د دوئ په دورو کې پښتانه دغور او سليمان له غرو څخه ترنك، ارغنداو، هلمند، کابل او هريرود ته راتيت شوی دی. (۲)

دپورتنيو څېړنو له مخې څرنګه چې د غوريانو ژبه پښتو وه نوپرته له کوم شك او ابهام څخه دوی هم پښتانه وو.

## څلورم – د غور غرو نه او رودونه:

کله چې د غور څخه يادونه کيږی طبعاً دا مفهوم په ګوته کيږی چې غور يوه غرنۍ سيمه ده يعنی د غور زياته برخه د يو شمير غرونو سلسله تشکيله کړی او يو شمير رودونه پکې بهيږی عبارت ده او ويلای شو چې غور يعنی د غرونو په منځ کې يوه غرنۍ سيمه ده.

مورخينو د غور په متعلق په خپلو څيړنو کې ځای په ځای د غور له غرونو څخه يادونه کړی ده چې ددی محقيقنو له جملی څخه قاضی منهاج الدين سراج د غور د غرونو د سلسلو په باب په پوره تفصيل سره معلومات وړاندی کړی دی چې د هغو د لنډو مطالبو په اخيستلو بسنه کيږي.

---

(۱) پوهاند عبدالحی حبيبی، پنځوس مقالی،د ښوونی او روزنی مطبعه، کابل ۱۳۶۲ ص.

(۲) همدغه اثر، ۲۴۴ مخ.

لکه چې د (غر) نوم څخه د (کوه) څخه پوره څرګندیږی غور هغه غرنۍ سیمه او د یو شمیر غرونو هغه سلسله ده چې د افغانستان (پخوانی افغانستان) دمملکت په زړه کې پرته ده، له یوی خوا د هریرود په وادی او د بلی خوا نه د هیرمند د رود په مسیر پوری تړلی ده. شمالی غرنۍ سلسله یې د هندوکش او شرقی سلسله یې د غزنی او مقر وادی ته رسیږی، د ارغنداب او ترنك د رود سره نښتلی ده [۱] دادی دلته د غور د غرونو لړۍ او رودونه ځانله معرفی کیږي.

## الف – د غور غرونه:

۱ – دمندیش زار مرغ: د شنسبانیانو د پایتخت ماڼۍ (مندیش) ددی غره په لمنه کې پرته ده.

۲ – سور غر (سرخ غر) چې دا غر سور او ګلابی رنګ لری او دا هم په مندیش کې پروت دی.

۳ – راشك (ورشك غر) [۲]

د تمران ښار ددی غره په ځانګو او لمنه کې پروت دی،سړه آب و هوا لری.

۴ – دورنی غر: داور (زمینداور) دبالشت ښارونه اود کجوران ماڼۍ ددی غره په لمنو او خواوشاکې پراته دی.

۵ – د خیسار غر اوشین غر هغه غر دی چې د خیسار تاریخی کلا پکې موقعیت لری [۳]

---

(۱) منهاج الدین سراج خوزجانی، طبقات ناصری، طبع سال ۶۵۸ هـ، ۳۳۶ مخ.

(۲) ورسك په نوم یو غر په کونړ کې شته.

(۳) جوزجانی منهاج سراج، طبقات ناصری، طبع ۶۵۸ هـ.

**د غور د تاریخی جغرافیه په حواله د غورټول غرونه د اوستا د ژبې په ترتیب عبارت دی له:**

۱ - وفـــری: Wafrya

۲ - سیامك: Syam Ka

۳ - کوسرادا: Kosrada

۴ - راسیات جبال عالم: دا غرونه د غور د هماغو لړۍ دی چې په ناصری طبقاتو کې په پنځو مهمو غرونو باندې معرفی شوی دی او دمخه ترې یادونه وشوه.

پر دې غرونو برسیره د غور ددغو لویو غرونو څخه ځینی څانګی بیلی شوی دی چې په بیلا بیلو سیمو کې په مختلفو نومونو یادیږی لکه:

۱ - چهل ابدال غر.

۲ - کوه روئین: د خیسار په سیمه کې.

۳ - د یخن غر: د پساوند په علاقه کې

۴ - سنګان غر: د پساوند په علاقه کې.

۵ - پسنګان غر: په چاردره کې.

۶ - یمن شاه غر: په ورشك کې.

۷ - ګردن غر: په ورشك کې

۸ - ناودان غر: په لروند کې.

۹ - داعنه : په لروند کې.

۱۰ - غر بالك : په لروند کې.

۱۱ - بالا رنګ: په لروند کې..

۱۲ - سو : په لروند کې.

۱۳ - غرقاو: په لروند کې.

۱۴ - ختینه: په لروند کې.

۱۵ - بلومه : په لروند کې.

۱۶ - فیروز کوه.

۱۷ - بند بایان.

## خاطره:

د ساوند سم شکل پسابند دی خو په محاوروا و لیکنوکې یې لکه نجراو او تګاو شکل په پساوند اړول شوی‌دی.

(ممکن ختینه وی یعنی خاورین وی چې زیاته برخه یې له خاوری جوړ شوی دی)

د همدی غرونو لړۍ دی چې په سوق الجیشی ساحه کې یې غور ته خورا زیات تاریخی ستراتیژیکی اهمیت ورکړی دی. (۱)

**ب - د غور رودونه:**

د غور د جنوبی غرونو په لمنو کې یو شمیر سیمی پرتی دی چې د شنسب د کورنۍ مورخینو او نورو پوهانو له هغوئ څخه یادونی‌کړی دی. ددی لمنو په وروستنیو سلسلو کې چې د ختیز خواته یې د ارزګان وادی او د هغې مربوطی دری او د ارزګان رود دی‌او دا وادی خړوبوی او ددې غرنۍ سلسلی له غرونو، کمرونو او تنګ مسیر څخه تیریږی موقعیت لری ددی غرنۍ لړۍ په جنوبی لمنه کې د (تیری) تازه دره او سمسوره ناوه د (اوشان) (درافشان) دره پرته ده. چې دلته د تیری د رود په نوم یوګټور رود رابهیږی.دا رود وروسته تر دی چې

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخي غور، انتشارات پوهنتون کابل، مطبعه کابل، ۱۳۶۰ - مخ ۱۲۸.

د پنځوسو کروهو په واټن دا وادي خړوبوی له دهراوته تیریږی او د هلمند په رود ورګډیږی [۱]

## خو په عمومی ډول د غور رودونه دتاریخی اسنادو او موقعیت له مخې په لاندنی ډول دی:

### ۱ – هرو (Haro).

د ډیر پخوانی ځپانده سیند نوم یو هم هیریرود دی چې په حدود العالم کې تری هم داسې یادونه شوی ده ((و دگر هر یست از حدود غور بکشاید و اندر کشت هاي مرو به کار رود [۲]

### ۲ - هتومند: (Hetumand)

دا هم د مدنیت پالونکی هلمند سینددی چې په هتومند باندی یادیږی او په حدود العالم کې داسی معرفی شوی دی و دیگر رود هیرمند است از حدود گوزگانان بکشاید از نزدیك غور بر داغش و تل و بست بگذرد در کرد سیستان اند...

ابن هوقل ورته په صورت الارض کې (۳۶۷ هـ) هیلمند وایي:

### ۳ – د مرو رود: (مرو الرود، مرغاب):

دا رود د اوسنی مرغاب رود دی چې په حدود العالم کې یې په مرو یادوی او پخوانیو یونانیانو تر میلاده څلور پیړۍ دمخه دا دریاب د مارگوس (Margus) په نوم پیژنی.

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنون کابل، مطبعه پوهنتون، ۱۳۶۰ ص.

(۲) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنون کابل، مطبعه پوهنتون، ۱۲۹ ص.

خو نور پوهان په همدغه مرغاب او مرو سره متفق دی.

## ۴ - د بشلنګ رود:

دابن حوقل په قول دا رودد غور دنژدی سیمو څخه راوتلی دی اواوس د موسی کلا رود نومیږی او چې کله د ((بانی)) له رود سره چې د کینی خوا نه ورسره یوځای کیږی دسنګین په سیمه کې دهیرمند په دریاب کې ورلویږی [1]

## ۵ - عامل رود:

د اصطخری په قول دا هغه رود دی چې د زره په رود کې تویيږی او د غور د غرونو څخه سرچینه اخلی.

## ۷ - د نیشك رود:

دنیشك رود هم دعامل درود غوندی دغوردجنوبی غرونو له لړیو څخه راوځي[2] د غوریانو د زمانی دتاریخی پیښو په تیره بیا د هغه د تاریخی کلاګانو، کوټونو، ښارونو حصارونو، ماڼیو، سیمو او کلیو په بحثونو کې ځینی لوی او واړه سیندونه ذکر شوی دی چې د لاندنیو رودونو څخه عبارت دی:

۱ - دموسی کلا سیند: چې د هلمند په رود کې ورګډیږی.

۲ - کیکان رود: په تولك کې.

۳ - ساخر رود: په کجوران کې.

۴ - تمران رود: په تمران کې.

۵ - چله غور رود: د ارغنداو د سیند معاون.

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیایی تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، مطبعه پوهنتون ۱۳۶۰ کابل، ص ۱۳۴.

۶ - بانی رود: د موسی کلا د سیند معاون.

۷ - سرنیگك رود.

۸ - خم شور رود.

۹ - فراه رود.

۱۰ - مرغاب رود.

۱۱ - تگاب ایشلان.

۱۲ - خاش رود.

۱۳ - تولك رود.

۱۴ - شهرك رود.

(جغرافیای تاریخی غور، ص ۱۲)

# دوهم فصل

د غور سیاسی او ټولنیز موقعیت او د هغو په متعلق تاریخی پیښې، د غوریانو پوځي تشکیلات او مادی تامینات، د غوریانو وسلې، تجهیزات او تکتیکی تدابیر، په غور کې د وسلو او حربی الاتو د جوړولو صنعت، په غور کې دمعمارۍ د صنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن.

## اول – د غور سیاسی او ټولنیز موقعیت او د هغوئ په تړاو تاریخی پیښې:

غور چې د هیواد د ډېرو سیمواو ښارونو په منځ کې پروت دی نو شمال، له جنوب او ختیز له لویدیز سره نښلوی. لوی او دنګ دنګ غرونه، غونډۍ ګانی، شنې او تنګې درې، ګڼ ځنګلونه مست او څپانده رودونه او داسې‌نور جغرافیایی شرایط او ځمکنی عوارض لری او دا ګرده هغه طبیعی عناصر دي چې د غور دفاعی ډېر پاخه سنګرونه اوستراتیژیکی نقطې یې تشکیلی کړی دی او بیا ددې غرونو په لمنو، څوکو او شاوخوا کې د دغو او مضبوطو کوټونو (استحکامی دژونو) موجودیت دهغه سوق الجشی اهمیت لا ور زیات کړی دی.

زموږ د هیواد په تاریخ کې داسې مرحلې هم راغلې دي چې غور – د غور د پاچاهانو د کورنۍ، امپراطورۍ او ټولواکۍ یوه ستر مرکز په حیث ګرزیدلی دی، هغه امپراطوری چې له هندوکش څخه یې تر عراقه او له چینه تر هرمز د سیند پورې غزیدلې وه.

د ناصری طبقاتو په حواله په غورکې د لوړو غرونو او جغرافیایي سختو شرایطو په وجه د هیڅ یوه پردی یرغلګر له خوا پر غور باندې پریکونی غلبه نه ده شوی [۱] چې د غور ځینی کلاوی زما ددی او عاد ثبت د پاره ښه مثال ګرزیدلای شي. که څه هم کله چې د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عثمان (رض) په زمان کې اسلامی لښکرو د افغانستان د لویدیزو سیمو ته نفوذ وکړ او بیا وروسته حتی د سند او هند پوری دا فتوحات وروغزیدل خوسره ددی چې غوریانو د اسلام په خپرلوکې د عباسی کورنۍ سره پوره ملاتړ او همکاری وکړه مګر بیا هم تر ډېره وخته پوری د غور زیاتو سیمو ته د اسلام نفوذ نه ؤ رسیدلی لکه چې مروی فخر الدین مبارکشاه وایي:

((د امیه و خلافت په زمانه کې دوئ دی ولایت ته لاره نه درلودله [۲] حتی هغه وخت چې سلطان محمود غزنوی‌د غور مرکز فیروز کوه د خپل تسلط لاندی راووست بیاهم غوریانو په کلی توګه اسلام منلو ته غاړه ایښودلی نه وه چې لر او بر والشتان دهغو سیمو څخه وو چې خلك يې په اسلام مشرف شوی نه ؤ [۳] او داځکه چې غوریان په خپله عقیده کلك ولاړ وو او په اسانۍ سره يې هغه نه پریښودله.

وایي کله چې د خراسان او زاولستان امارت د سامانیانو او صفاریانو څخه امیر سبکتګین ته ورسید. نوموړی څو واره له بسته د غور د غرونو خواته لښکر کشی وکړه، ډېری ژوبلی او مرګونه يې وکړل او بیا هغه وخت چې امیر محمود سبکتګین (سلطان محمود) پر تخت باندی کښیناست او د غوریانو امارت امیر محمد سوری ته ورسید او د غور زیاتی سیمی يې په خپل واك کې راوستلی نو سلطان محمود دری ځله د غور و خواته لښکری و ایستلی. لومړۍ پلا يې په ۴۰۱ هـ، بیا يې په ۴۰۳ هـ او (۱۰۱۲ م) کې د بست له لاری

---

(۱) منهاج الدین سراج – ناصری طبقات، ۳۲۸ مخ.

(۲) معین الدین اسفزاری روضات الجنات، لومړی برخه، ۱۳۳۸، ۳۵۵ مخ.

(۳) معین الدین محمدالزمجی اسفزاری روضات الجنات لومړۍ برخه، ۱۳۳۸ هـ، ۳۲۹ مخ.

پر غور یرغل وکی او دائکه چې غوریانو د سلطان محمود اطاعت نه کاوه همیشه به یې سرکشی کوله او اسلامی خراج به یې نه ورکاوه او پخپلو کلاګانو باندی پوره ډاډه وو. چې هر ډول دفاع یې پکی کولای شوه [۱] د ابن اثیر په قول غوری پښتانه همیشه د سلطان محمود په لار کې خنډ ګرزیدل او مخه یې ورته نیوله داو کله چې سلطان محمود د هند تر فتحی فارغ شو نو د غزنی له لاری یې په غور باندی حمله وکړه، امیر محمد سوری یې د لسو زرو تنو لښکر سره د اهنګران په کلا کې محاصره او بندی کړ او په ۴۱۱ هـ = ۱۰۲۰ م کې یې غور فتح کړ.

د یو بل روایت له مخې د اسلام پوځونه وروسته تر دی چې اروپا ته د جبل الطارق له ابناء څخه ورتیر شول تر سیند او هنده ورسیدل خو مرکزی اریانا لکه کابل د غور او غرجستان سوری پښتنو او د سلمان د غرونو د لمنو اوسیدونکو ته یې مخه شوه په ټول زور او قوت یې د هغوئ سره جګړې پیل کړې د ډېرو ویرونکو جګړو په ترځ کې د افغانستان هر فرسخ خاوره په کراتو مراتو په جګړه ییزه توګه فتح شوی خو ډېر ژر دغه مغلوب شوی پښتانه بیا پر یرغلګرو غالب شول او خپل سنګرونه یې له اسلامی لښکرو څخه بیرته نیولی دی [۲] مګر ځینی محققان عقیده لری چې غوریان د بهرام شاه په وخت کې ماتی وخوړله چې جریان یې په لاندنی توګه ښوول شوی دی:

د غور حکمرانان پنځه تنه ووا‌و د دوئ د ټولواکی دوره هم ۶۴ کاله دوام درلود.

دوئ چې د غور د غرونو او کلا ګانو اداره کوله، تر دوئ دمخه هیڅوک نه وو کله چې فریدون له دوئ نه خبر شو او لښکر یې پری وکړ خو لاس بری یې پری ونه مونده بالاخره یې ورسره سوله وکړه، تر څو چې باج او خراج ورکړي. د

---

(۱) منهاج الدین سراج جوزجانی ، طبقات ناصری، طبع ۶۵۸ هـ، ۳۲۹ مخ.

(۲) علی احمد جلالی، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری ج ۱، نشرات اردو، ۱۳۴۱ کابل ص ۱۷۶.

دویٔ یو مشر د حضرت علی کرم الله وجه په زمانه کې د حکومت منشور تر لاسه کړ (۶۵۶) کال ؤ دغه مشر شنسب د خرنك زوی نومیده دویٔ د امویه په زمانه کې اسلام ومانه.

سلطان محمود هم ونه کړای شول چې غور تسخیر کړی تر څو چې دمحمد سوری په زمانه کې تر ډېرو متواترو جګړو وروسته د بهرام شاه په واسطه غوریانو ماتی وخوړله [۱]

د یو بل روایت له مخې د غور ځینی سیمی حتی د غوریانو د واکمنۍ په وروستنی وخت کې مسلمانی شولی لکه د سکجی کلا [۲] او حتی نوری سیمی د امیر تیمور په زمانه کې هم د اسلام په دین مشرفی شوی دی.

د لسمی میلادی پیړۍ جغرافیه لیکونکو غور یوازنی ولایت باله چې د هری خوانه په اسلامی مملکتونو پوری تړلی ؤ. او تر دی وخته پوری د هغه اوسیدونکی کافران وو.

دا پیښه چې دغو غرنیو خلکو تر ډېره وخته پوری د اسلامی فاتحانو په مقابل کې کلك مقاومت کاوه. ددی حقیقت څرګندوی دی چې د غور په مملکت (ولایت) باندی (لکه د کونړ نورستان) د چالاس نه بریده او د (فریه) (ج ۲ – ۱۵ مخ فرانسوی افسر چې د غور څخه یې کتنه کړی ده) په وینا دا غرنی مملکت په مجموع کې ټول یوی داسی پخی کلا ته ورته ؤ چې اسیا د لویې او لومړی وچی د مرکز او ډېرو جګو څوکو پر سر جوړه شوی ده. او د سامانیانو په وخت کې د غور د اوسیدونکو څخه یوازې هغه څوك د اسلام پیرو ؤ او هغه په ظاهری توګه، چې د اسلامی هیوادونو په ګاونډیتوب کې یې هستوګنه درلودله [۳]

---

(۱) معین الدین اسفزاری، روضات الجنات، ۱۳۳۸، ۳۹۳ – ۳۹۵ مخونه.
(۲) منهاج سراج جوزجانی – طبقات ناصری، ج ۱، ۶۵۸، ۳۴۹ مخ.
(۳) اصطخری.

## ايراني جغرافيه ليکونکی چې په ميلادی لسمه پيړۍ کې يې ژوند کاوه وايي:

لومړنی سړی چې د غور خاوری ته راننووت د سلطان محمود زوی سلطان مسعود ؤ. او نوموړی په ۱۰۲۰ م هغه وخت چې د هرات امارت يې تر لاسه کړ دا کار يې وکړای شو بيهقی (۱۲۸ - ۱۳۴ هـ) دا پيښه په پوره تفصيل سره بيان کړی ده.. او په يوه برخه کې وايي چې غوريانو په يوولسمه پيړۍ کې رسماً اسلام ومانه او د غزنوی دولت تابع شول (۱) که د چنګيزيانواو داسی نورو يرغل ګرو يرغلونه او د غور کورنيو شخړو او جګړو ته نظر واچول شی که څه هم ټول تيری کوونکی په پرله پسی او په متداومه توګه د سيلابونو په شان په دی خاوره يرغلونه کړی دی او د خونړيو جګړو په ترڅ کې يې لکه توپانونه هر څه له خپلی مخی نه له انسانانو حيواناتو څخه نيولی تر ودانيو پوری ټول پوپنا کړیدی، چې زموږ د هيواد ددغه ولس بې شميره مادی او معنوی ارزښتونه پکی شامل وو، خو بيا هم هغوئ ته له يوی خوا دغه فتحی د ډيرو تاوانونو د ورکولو په بيه تمامی شوی دی او د بلی خوا يې بياهم د غور دخلکو قوی ارادی او د ازادۍ منشۍ روحيی نه دی وژلی.

دا پورتنی حقايق په ډاګه په دی دلالت کوی چې د غور د سوق الجشی د لا زيات اهميت د درلودل له امله هميشه د جګړو مرکز و. مګر د جغرافيايی مهم موقعيت له مخی پری په دومره اسانۍ سره د چا وسه نه رسيدله چې يې دخپل نفوذ لاندی راولی.

موږ په غورکې داسی پخی کلاګانی (کوټونه) هم پيژنو چې د چنګيزی يرغلونو په مقابل کې لکه د غره غوندی کلکی پاتی شوی دی.

---

(۱) بارتولد، ترجمه حمزه سرداد دور ، جغرافيای تاريخی ايران - تهران ۱۳۰۸، ۴۴۴ - ۴۴۵ مخونه.

چې ددې ډلې څخه د خيسار او سيفرود او دوکي کلا د غور د هغو قهرمانيو ښه سمبول ګڼل کيږي چې تر اخره پورې هيڅ يرغلګر هغه فتح نه کړای شوي [1]

## دوهم – د غوريانو پوځي تشکيلات او مادي تامينات:

کله چې د غوريانو د زمانې د کلاګانو بحث ته ورګديږو نو زياتره ليدل کيږي چې ددغو کلاګانو د تسخيرولو دپاره ډېرې سختنې او اوږدې جګړې شوي او په نتيجه کې يا دا کلاګانې نيولي شوي او ياترې صرف نظر شوی دی. نو ددې موضوع د ښې څيړنې په مقصد په کار دی چې د غوريانو د دورې په ځينو پوځي مسئلو بحث وشي چې د غوريانو د زمانې پوځي فن چې محاربوي قابليت او تشکيلات پکې شامليدلای شي او دا موضوع د غور د کلاګانو سوق الجشي (ستراتيژيکي) ارزښت سره سم تړاو لري او که ستراتيژي تعريف شي نو د حرب د تاريخ د اساساتو له پلوه زيات تعريفونه لري او دلته په همدومره کافي دی چې وويل شي:

ستراتيژي هغه حربي صنعت دی چې د هغه په واسطه حربونه احضار، او سوق و اداره کيږي او يا دا چې د سوق الجشي په ساحه کې د جګړه مارو قوتونو د استعمالولو فن ته سوق الجشي وايي. [2]

د غوريانو کورنۍ چې د غزنويانو وارثان او د هغوئ د مدنيت جانشينان وو په پوځي برخه کې يې له هغوئ څخه ډېر څه زده کړي دي.

غوريانو د خپلې واکمنۍ د سيمې د پراختيا او تولنيز ژوندانه د تکامل له امله مجبور وو چې د نورو قبيلو د قومونو له يووالي څه پوره ګټه واخلي او هغوي په خپلو پوځي تشکيلاتو کې ور شامل کړي لکه د ترکو، خلجي (غلجي)

---

(۱) محمد عثمان صدقی – شهرهای اريانا، موسسه طبع کتب بيهقي، ۱۳۵۴ ش، ۷۷ مخ.
(۲) ډګر جنرال غلام فاروق – د حرب تاريخ – د ملي دفاع مطبعه، کابل ۱۳۴۶ (۳۱) مخ.

غوري، خراسانیان او داسې نور افراد چې هغو په خپلو پوځي خدمتونو کې ګمارلي وو.

خو په دې ټولو کې د غور د سترو پاچاهانو پاملرنه د ترکي غلامانو خواته وه. سلطان شهاب الدین غوري زیاته مینه درلوده چې ترکي نژاد مریان واخلي. او دا له دې امله چې دوی په جګړه کې په ډیره بیباکۍ او زړورتیا خپل قابلیت ښوده او دوی د غره په شان ددې لوی او جګړه مار قوت ترڅنګه شاه ته یې وفاداري هم درلوده او دا مریان وو چې د لیاقت او صداقت ښودلو وروسته لوړې پوځي رتبې هم ورکړ شوې [1]

## د غوریانو پوځي تشکیلات:

۱ - د غوریانو پوځ درې ډوله لښکرې درلودلې:

- د غور لښکر.
- د بامیانو لښکر.
- د غزنې لښکر.

دغه درې واړه لښکرې د فیروز کوه او یا نورو مرکزونو تر بیرغ لاندې سوق او اداره کیدلې.

۲ - د غوریانو په نظامي تشکیل کې لاندنی ټولګی شامل وو:

- پلې
- سواره.
- فیل سواران.
- عسکري انجینران.

---

(۱) علي احمدجلالي - تاریخ افغانستان از نګاه عسکري ج ۱، مطبعه وزارت دفاع ۱۳۴۱ کابل. ۳۹۳ - ۳۹۵ مخونه.

غوريانو د غزنوی بهرام شاه سره تر جګړې وروسته له فيل څخه د جنګی وسايطو په حيث استفاده پيل کړه.

۳ - د غوريانو په نظامی تشکيل کې لاندې رتبې شاملې وی:

- سر قوماندان، چې پخپله پاچا دا وظيفه په غاړه درلودله.

## عارض:

د عرض د ديوان په سر کې هغه څوك و چې د اردو د خوراکی موادو د معايني د معاشونو د توزيع کولو اود نورو احتياجاتو د تامينولو څخه مسوول و او د جنګ په شرايطو کې يې د نقليبی او لوازمو د رئيس دنده په غاړه درلودله.

- نايب لشکر: (امير الامرا)

هغه شخص ته د لښکر نايب ويل کيده او دا وظيفه ورسپارل کيدله چې نوموړی د شرايطو په مقتضی د پاچا د لښکری چارو د وکيل په صفت وظيفه په غاړه اخستله.

- سپه سالار:

د پوځی رتبو د چوکاټ په دننه کې سپه سالار په حقيقت کې د جبهی قوماندان و څکه چې پرته د پاچا څخه د غوريانو په پوځی تشکيلاتو کې بل څوك د ځانګړی سرقوماندان په مفهوم موجود نه و.

دسپه سالار نوم هغه شخص ته اطلاق کيده چې د پوځی امرانو په سر کې يې قرار درلود او تر سر قوماندان وروسته يې دا پوځی لوړه رتبه درلودله. [1]

---

(۱) علی احمد جلالی، تاريخ افغانستان از نگاه عسکری ج ۱، مطبعه اردو کابل، ۱۳۴۱ - ۳۹۹ - ۴۰۰ [illegible]

پرته له پورتنیورتبو څخه د غوریانو په پوځی تشکیلاتو لاندنی رتبې هم موجودې وی:

- جاندار (ساتونکی): یعنی د ګارد ساتونکی.
- سر جاندار: جبه خانه رسان او د ګارد قوماندان.
- سر زراد: لوی درستیز.
- حاجب: د پاچا د ډېر نژدی سلاکار په نوم پیژندل کیده.
- میر آخور: چې اخیر سالار ورته ویل کیده.

دی شخص د اردو د حیواناتو د څارنې او سر پرستی دنده په غاړه درلودله.

- علفچی: لکه چې دنوم څخه یې څرګندیږی دی شخص په جګړو کې د وښو له پلوه د اسانو اړتیاوی تامینولی.
- قضایی تشکیلات: د غزنویانو په حکومتی ترکیب کې قضایی تشکیلات هم موجود و. [1]
- د قواوو سر قوماندان: چې پخپله پاچا دا وظیفه په غاړه درلودله.
- کوتوال: دکلا ګانو اوکلیو واکمنی او اداره یوه شخص ته ورسپارل کیدله.

چې کوتوال یادیده - د ښار او ښاروالۍ تر چارو نیولي بیا تر پوځي او ملکی سوق او اداری پوری دده متعلق دی.

کوتوال د کوټ (محکمه کلا) څخه اخستل شوی او نسبتی نوم دی.

## دریم - د غوریانو وسلې، تجهیزات او تکتیکی تدابیر:

د غور خلکو له پخوا زمانی څخه د وسلی او حربی تجهیزاتو په جوړولو کې ښه شهرت او سابقه درلودله او بیا کله چې دا سیمه د پاچاهی مرکز او

---

(۱) علی احمد جلالی، تاریخ افغانستان از نگاه عسکری ج ۱، مطبعه اردو کابل ۱۳۴۱ - ۳۹۹ - ۴۰۰ مخونه.

پلازمینه شوه نو ځینې غوری پاچاهانو د دولت د اردو ګانو په تجهیزولو او وسله وال کولو کې له دی وسلو څخه کار اخیسته.
حدود العالم د غور د وسلو په باب داسې یادونه کوی. ((... که درین ناحیه پرده (سپر) زره، جوش و سلاهای نیکو ساخته میشود.))
ممکنه وه چې د غوریانوپه زمانه کې د غور په غرونوکې اوسپنه کشف شوی او د وسلو په جوړولوکې تری استفاده شوی ده.
د غوریانو وسلې عبارت دی له: توری، سر نیزی، لنډی نیزی، زلق، تبرګی مځې، زره، جوش، د لیرې د هدف د ویشتلو د پاره د سړی وسلی لکه فلاخن، غشی اولیندی، محرکو چنوغزو (منجنیق) نیم قوسو جینو غزو، اور غورځونکو ماشینونو، جارجی وسلو، خود (د اوسپنی خولی) او داسی نورې وسلی:
د اور اچوونکی او چاودیدونکو موادو څخه یوازې د باروتو (د اور د درو) څخه استفاده کیدله د غور تحفظی وسلی د سپر، خول، زغری، برکوزن او داسی نورو څخه عبارت دی.
اسان او بیا وروسته فیلان هم په جګړه کې استعمال شول [۱]

## په پخو کلاګانو باندی د تعرض تکتیک:

دغوریانو په زمانه کې د پخوا په شان په پخو کلاګانو باندی د تعرض په شرایطو کې مهاجمو قوتونوله دووتکتیکونو څه کار اخیست.
۱ - د کلا د باندی نه: بنار او کلا ته د خوراکی موادو او دنورو اړتیا وړموادو لکه وښو، غلو، دانو، لرګو او اوبو بندول،یعنې د کلا

(۱) علی احمد جلالی. تاریخ افغانستان از نګاه عسکری ج ۱ مطبعه اردو، ۱۳۴۱ کابل، ۴۰۱ مخ.

اوسیدونکی د اقتصادی ناوړو شرایطو لاندی راوستل او په هر اړخیزه محاصره کې ساتل.

دوامداره کلا بندی چې میاشتې میاشتی او حتي تر کال زیاته موده به یې دوام درلود او په دی توګه هغوئ جبری مخامخ جګړی اویا تسلیمیدو ته مجبورول.

۲ - دکلا د باندی: کلا ته د ورننوتلو (نفوذ) تکتیك: په لومړی ځل رومیانوطرح کړی وُ او هغه داسی وُ چې د جګړی په وخت کې په یې محاصره شوی کلا ته د لرګیو برجونه چې دبابه ورته وایي او یا برجوری زینی کیښودلی، همدا شان د بیلا بیلو ډولو چینو غزو، جنګی قچونو (چې داهم یو ډول محرکه دبابه ده) د دیوالونو چول، سوری کول او داسی نورو لارو چارو څخه استفاده کوله.

لکه څه رنګه چې له تاریخی پیښو څخه څرګندیږی غوریانو ډیر کم او هغه هم دخپلی واکمنۍ په دوره کې له تعرضی تکتیکونو څخه کار اخستلی دی او نور یې دهمیشه د پاره د متجاوزو، لوټمارو او یرغلګرو قوتونو په مقابل کې اویا د کورنیو شخړو او جګړو له امله په تدافعی موقعتیونو کی پاتی شوی او د خپل ټاټوبی او خاوری څخه یې په پوره اتلولۍ حتی د مرګ تر وروستنۍ لحظی پوری دفاع کړی ده چې ددی اثر د کلاګانو د معرفۍ په برخه کې یې ډیرې زیاتی بیلګی وړاندی شوی دی.

## څلورم: په غور کې د وسلی او حربی الاتو د جوړولو صنعت:

په غور کې د وسلی او حربی سامان الاتو د جوړولو صنعت ډیره اوږده سابقه لری او په لرغونی زمانه کې ددی صنعت ماهر استاد کاران موجود وو.

د زیاترو تاریخی او جغرافیه پوهانود اثارو په شهادت په څرګنده توګه ویل کیدای شي چې لرغونی غور د فلز کارۍ د صنعت، د وسلی او حربی الاتو په

جوړولوکې نه یوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله منځنۍ اسیا کې پوره شهرت درلود.

پخوانیو غوریانو د ورځنی صنعت په هره برخه کې د خاص روش او ظریفانه سبکونو څخه استفاده کوله او په دی صنعت کې یې د یادونی وړ نوښتونه رامنځ ته کول.

که چیرته په لرغونی غورکې د حربی صنعت تاریخچی ته نظر واچول شی نو په غور کې د وسلو دجوړولو په صنعت کې نووښتونه او پرمختګ د غوریانو د امپراطورۍ تر تاسیس څخه دمخه هم موجود وو. چې ددی مطلب د ثبوت د پاره زیات تاریخی اسناد او شواهد شته دی‌او له دی جملی نه به تر ټولو معتبر، ارزښمند او مهم اثر چې دنړۍ د لومړنۍ جغرافیه مقام لری یعنی حدود العام ته (۳۷۲ هـ) ته مراجعه وکړو د هغی په لاندنی پراګراف به اکتفا پورتنۍ ادعا ډېره ښه مدلله کړی شی:

((غور ناحیتیست اندر میان کوها و شکستگی ها و اورا پادشاهیست کی غورشاه خوانند اورا قوتش از امیر گوزگاناست و اندر قدیم این ناحیه غور همه کافران بودندی.

اکنون بیشتر مسلمانان اند و ایشان را شهرکها و دها بسیار است وازین ناحیت پردهء زره وجوشن و سلاحهاي نیکو افتد (۱) په همدې ډول د بیهقی په تاریخ کې هم څو ځایه د غوریانود حربی سلی څه بحث شوی دی چې په یوه برخه کې په غور باندی د شهزاده مسعود او د هغه سره د ابوالحسن خلف د یو ځای کیدلو دپیښو د بیانولو په ترځ کې لیکل شوی دی:

((... په دی ورځ ابوالحسن راورسید دګڼ شمیر سنبال شوی لښکر سره لکه چې وایي دری زره سواره او پلی یې درلودل، امیر ته وردمخه شو خدمت یې

(۱) گمنام لیکوال، حدود العالم ترجمه پوهاند میر حسین شاه، پوهنځی ادبیات وعلوم بشری، ص ۳۴۲.

ورته وکړ ډېر سوغاتونه او بخششونه يې د خانه سره راوړی وو. هر هغه څه چې په غور کې پيدا کيدل لکه سپر، زره او نور څه...) په يوه بل ځای کې بيا داسی ويل شوی دی:

((... دا سوغاتونه له سره زره،سپين زر او وسلی څخه عبارت وو. امير مسعود وفرمايل چې مالونه، سره زر، سپين زر، او نورمې در وبخښل خو وسله راته راوړئ او چې وسله يې له خيمی څخه راو ايستله هغه ډېره په کاريدله ډېره نوی او نادره وه. د هيواد يو بل مورخ منهاج سراج جوزجانی هم دغوريانو ددغی زمانی وسلی معرفی کړیدی لکه چې ليکی:

((... هر کال د وسلی، جوشن،زره، خول او داسی نورو له جنسه چې ورته مقرز وو د سنجری دربار ته يې ورليږل.))

د غوريانو د وسلو ښه کيفيت اهميت دومره زيات وو چې نه يوازې د تحفو او بخششونو په توګه ورکول کيدلی بلکې د اسلامی افسرانو له خوا د باج او خراج په جمله کې هم اخستل کيدلی لکه چې د ډېرو زياتو تاريخي مدارکو له مخې په دغه زمانه کې ډېره غوره او مهمه تحفه چې د پاچاهانو دربار ته وړاندی کيدله همدا وسله وه او حتی هغه ماليی چې د غور دولت د غزنی دولت ته تاديه کولی جوشن، زره، جنګی خول او داسی نور وسله جات وو.

تاريخ پوهانو او مستشرقينو د غور د وسلی جوړولو او په ډير ماهرانه ډول د هغو د استعمال د شهرت په هکله متفق نظريات درلودل چې له دی جملی څخه راورتی، دمحمد سوری د امارت د يادونی په ترخ کې داسی وايي.

((غور په دې زمانه کې د وسلی او حربی الاتو په توليد کې زيات شهرت درلود.))

دلته بايد دا پوښتنه رامنځ ته شی کوم عوامل ددی باعث شول چې د حربی صنعت دترقۍ ابتکار او انکشاف په برخه کې د غوريانوذوری ته دغسی ارجحيت ورکوی، د دغو عواملو څخه لاندنی سببونه د يادونی وړ دی.

- لومړی دا چې غوریانو د خپلې واکمنۍ په دوره کې خپل مځوني کورنۍ شخړې او جګړې درلودلې یعنې د غور محلي امیران یو د بل سره په رقابتي جګړو اخته وو او د دوئ دا کورنۍ ناخوالې د اسلام تر ظهور پورې دوام درلود. او د اوسپنې معدنونه یې هم کشف کړي وو.
- دوهم علت چې ډېر مهم او تاکونکی نقش لري هغه دا دئ چې غوریانو د خپلې حکمروايي په دوره کې د بیلا بیلو دولتونو لکه د غزنی، غزان، سلجوقیان، هندوستان او د خوارزمشاهانو سره تر ډېرې مودې پورې په جنګ او جدل کې بنکیل وو.
- دریمه خبره دا وه چې همیشه د بهرنیو یرغلګرو له خوا تر حملو لاندې نیول کیدل.

همدا پورتنی عوامل وو چې غوریان یې د حربي صنعت ترقۍ ابتکار او ودې ته ګمارلي یعني د وسلې حربي جارحه الاتو او داسې نورو دجوړولو فن ته یې خاصه پاملرنه واړولې او په دې تړاو یې زیات نووښتونه او اختراعات رامنځ ته کړل.

## په عمومي توګه دغه زمان غوریانو دوه ډوله وسلې جوړولې:

الف - دفاعیه وسلې: لکه زره، جوشن، خود (خول)، کاروه او داسې نورې.

ب – تهاجمي یا تعرضي وسلې: لکه توره پیش قبضه، هندي توره، لینده او غشي تیغ، نیزه، خطي نیزه، ګرز، ګاوسر، ناچغ (دا یو ډول شاهانه وسله ده) تبرزین (یو ډول تبرګی دی) خنجر، د تیرې حربه، فلاخن او منجنیق اوداسې

نور [۱] څرنګه چې د غور د غرونو لړۍ ډېرې اوږدې او د سرشارو معدنونو څخه ډکې وې نو غوريانو کولای شو چې له دغو معدنونو څخه فلزات استخراج کړي، په صنعت په تيره بيا حربي صنعت کې ترې پراخه استفاده وکړي، همدا وجه وه چې لايقو صنعتګرانواو استادکارانو په ډېره ماهرانه مبتکرانه او ظريفانه توګه له دغو فلزاتو څه ډول ډول وسلې جوړولې شوې او په هغوئ د تزئينولو او ښکلي کولو کې يې هم د ظريفانه مهارتونو څه کار اخيست، په تيره بيا په لاسني لرونکو وسلو کې يې غمي او نورې قيمتي ډبرې په کار اچولې.

د اداب الحرب و الشجاعه د مشهور کتاب مولف هم د وسلو په هکله ډېر په زړه پورې مطالب لري چې د غوريانو د زماني ټولې وسلې او حربي الات د هغو د ګردو مشخصاتو او تعلقاتو سره معرفي کوي چې په ډېره لنډه توګه پرې داسې څېړنه کيږي.

محمد بن منصور بن سعيد ملقب په مبارکشاه چې د پورتني کتاب مولف دی (۶۲۲ - ۶۲۷ هـ) تر هغې وروسته چې د غشي او غشي ويشتلو،تيغونو اود هغود ډولونو په باب په مفصل ډول بحث کوي د غوريانو دزماني د وسلې په اړوند په لاندنی ترتيب سره معلومات وړاندې کوي.

- فلا چوری يا قرا چوری: داد ترکانووسله ده او هغه څوك چې نيغ په نيغه جګړه کوي او نورې څخه ډېره اوږده وسله يې ددې کار د پاره اينبودلې ده او کړه کړې ده چې دتېپ په وخت کې ماته نه شي.

---

(۱) شهزاده سيف زی، مدنيت غوری در افغانستان، پوهنځی ادبيات، سال ۱۳۵۵ کابل، ۴۰ مخ.

- ناچخ: د پاچاهانو وسله ده چې هم دوست ته په کار ده او هم دښمن ته.
- کټاره: دا د هندوانو، بې‌باکانو اوټګانو وسله ده.
- شل او زوبين: د افغانانو او هندوانو ګډه وسله ده.
- بيل کش او نيم نيزه: د پياده ګانو وسله ده.
- دهره، خنبته اودورباش: دا د جاندارانو او هغه چا وسله ده چې دد ښمنانو څخه د پاچاهانو دفاع او ساتنه کوی.
- نيزه: د ترکانو او عربانو وسله ده.
- سپر او تبرزين: دا د يلمان وسله ده.
- شارغ (  ): د چوپانانو او شپنو وسله ده.
- اهن بسته کتهی: د اوښ والاتو وسله ده.
- تبرګی: د شپنو او چټانو وسله ده.
- لور: د دهقانو وسله .
- بيل: د باغوانانو وسله ده.
- تبنځ: د دروزګرانو وسله ده.
- چوړکی: د قصابانو وسله ده.
- کلند او لهی: د ګلکارانو وسله ده.
- امسا: د مصلحو کسانو او سياحانو وسله .
- ديوارکن: د دروزګرانو، روغنګرانو او کيندنی کارانو وسله ده.
- ګرز: خول شکن، بلکاتينی بابت د هغه چا وسله ده چې په خپل مټ ډاډه وی. (۱)

---

(۱) محمد مبارکشاه، اداب الحرب و الشجاعه، به تصيح و اهتمام حوان سازی، تهران ۱۳۴۶ - ۲۶۵ - ۲۶۳ مخونه.

د غوریانو د دفاعیه وسلې د ساختمان په هکله داسې ویل کیږي.
- زره: د اوسپنې له کړیو څه جوړه شوې ده او د جنګ په وخت کې لکه کمیس اغوستل کیږي او په دې توګه د توری او نورو غوڅونکو وسلو څخه ساتنه تامینوي.
- خود (خول): له سختې اوسپنې څخه جوړ شوی دی، او دجګړې په وخت کې لکه خولۍ پر سر کیږي.
- کاروه: دا وسله د غوریانو په زمانه کې ډېره مهمه وه او په طبقات ناصری کې ددې آلې په باب ویل شوي دي.

غوری لښکر یو ترتیب لری، د پیاده جګړې د پاره چې څه جوړوی د غویې د پوستکې دوارو خواوو ته پنبه او خامتا ګنډي چې کاروه ورته وايي او کله چې يې پیادګان واغوندی او صف سره جوړ کړي نو هیڅ ډول وسله پری کاری نه واقع کیږي (۱)

## پنځم - په غور کې د معمارۍ صنعت او د پخو کلاګانو د جوړولو فن:

غوریانو له ډېر پخوا راهیسې د ودانیو په ډګر کې خاص نوونښتونه او روش درلود او د کلاګانو، غرنیو حصارونو، ماڼیو، د جوماتونود یادګاری منارونو او په داسې نورو. برخو کې یې تلپاتې شهکارونه له ځانه په یادګار پریښې دي. که څه هم تر اسلام دمخه دورو کې د دوئ عمرانی اثار ډېر کم لیدل کیږي خو سره ددې هم د ځینو ودانیو د پاتې شوونو د اثارو له مخې تر اسلامې دورو څخه مخکې د دوئ دمعمارۍ د برم او عظمت څرکونه لیدلای شو. نو یې په دوو دورو کې تر کتنې لاندې نیسو.

---

(۱) د غوریانو د زمانې د وسلې او حربي الاتو د صنعت په متعلق لیکه کې د پوهنمل عزیز احمد پنجشیری د اثر، ((جغرافیای تاریخی غور)) څخه پوره استفاده شوې ده.

## ۱ - تر ا سلام دمخه دورو کې:

ددې دورې د معمارۍ د صنعت څرنګوالي او شواهد لږو ډېر د هغو خرابو له مخې اټکل کیدلای شي چې د غور په ځینو سیموکې لکه په پساوندکې د بشوری په کلی کې او یا د مندیش د زار مرغ د غره په بیخ او داسې نورو ځایونو کې لیدلای شو. تر ټولو مهم هماغه سنګی مسجد دی چې دلته د هغه د مشخصاتو په باب یو څه رڼا اچول کیږي.

تر ټولو دمخه باید وویل شي چې دا ودانی اسلامی مستجد نه دی داځکه لکه چې دمخه وویل شو د هغه ودانی د اسلامی دوری مخکی وخت پوری تړاو لری. خو تر اسلام نه راوروسته د هیواد د ډېرو نورو تاریخی ودانیو غوندی په جومات بدل شوی او سنګی مسجد نوم پری اینښودل شوی دی. او داهغه تاریخی ودانۍده چې له تیرو څخه جوړه شوی او تر اوسه پوری هم تر زیاتی اندازې پوری په خپل لومړنی شکل بشپړه ودانه پاتی ده د جغرافیای تاریخی غورلیکوال ښاغلی عزیز احمد پنجشیری په خپل دغه اثر کې ددی ودانۍ د مشخصاتو په هکله لیکی.

ددی ودانۍ دکار پلان مربع شکل دی چې هر بازویې دوه نیم متره اوږدوالی لری او د دیوالونو لوړوالی یې هم دری متره دی، ددی تاریخی بنا چت اته ضلعی دی. د چت د مربع او مثمن پلان په داسی اصولو بنا شوی دی چې د ضلعی اوږدوالی یې د دریمی برخی په اندازه یوه یوه لویه خښته د مربع په هر کونج کې اینښودل شوی ده.

او د مربع پلان یې په مثمن بدل کړی دی، تر نومړو خښتو وروسته د نورو مثمنو خښتو یو قطار د دایری په شکل را اړولی دی. اود هغی نه د پاسه د خښتو یو بل قطار د سقف د شروع مدور لر (ویاله) رامنځ ته کړی دی. د چت منځنۍ برخه اوس لویدلی ده. او په لرګیو پوښول شوی ده او داسی ښکاری چې په اصل کې د چت په منځۍ برخه کې یوه کوچنۍ ګنبده ده. او اوس یې

هم مرکزی برخه رالویدلی ده او دمسجد د محراب بیخ ته اینبودلی شوی ده.
او د هغی مدوری تیرې ځخه عبارت ده چې د شپیتو سانتی مترو په قطر کمربند لری او د لسو سانتی متر لوړوالی لری ختمیږی، د دوهم کمربند وروسته استوانه یې برخه راځی چې ددی تیرې ماتوالی د گنبدی مرکزی برخه تشکیلوی. یو طاق او مستطیل شکله یوه کړکۍ په شمال دیوال کې او یوه کړکۍ په جنوبی دیوال کې بیرته ده.

ددی ودانی دروازه دمحراب په مقابل کې په شرقی دیوال کې اینبودل شوی ده د جومات د شرقی بازو خارجی صفو د یوه لوی کمان او دوو کوچنیو اطرافی کمانونو ځخه تشکل شوی ده. د کمان په منځ کې د ځلویښتو سانتی مترو په ژور والی له تیرې ځخه د دروازی چوکاټ توږل شوی‌دی. دا دروازه په خپلو دواړو خواووکې دوه سنگی ستنی لری او دستنو د پاسه رف (کوچنۍ او اوږدی طاقچی ) جوړی شوی او دطاقچی د پاسه په درو برخو یعنی په منځ او دوو څنډوکې یوه یوه جوړه کوچنۍ مرغابۍ دیوی او بلی په مقابل کې توږل شوی دی، پخپله د دروازی چوکاټ مارپیچی تزئینات لری، د دروازی پلی معلومی نه دی چې له تیرو ځخه جوړی شوی دی که له لرگیو ځخه. د دروازی د چوکاټ د پاسه د تزئیناتو نور دری ځلور قطاره شته او احتمال لری چې د هغو په یوه قطار کې لیکنه هم موجوده وه، چې متاسفانه د باران د اوربنت له امله ښه تشخیص کیدای نه شي.

دا وداني دتیرو له خښتو او تور رنگو توږل شوو ټوټو ځخه ودانه شوی ده [۱]
په دې موردکې چې گوندی دا بنا د غور د ملکانو د یوه تن قبر دی د نظر رد یې وړاندی شوی او ویل کیږی چې ممکن د هرات د جومات غوندی تر اسلام

---

(۱) عـزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور،انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰ - ۱۷۳ مخ.

نه دمخه یو مذهبی معبد وی اودا له دی امله چې اسلام نه دمخه د ودانیو مصالح عموماً تیږی وی لکه په سمنګانو کې د تخت رستم لویه ستوپه او هغه طاق چې د پاسه پری ودان شوی دی. او یا سرخ کوتل معبد چې په عمومی توګه یې زینی، ستنی، دمعبد فرش او داسی نور د تووږل شوو تیږو څخه جوړه شوی ده. (۱) د کلاګانو په بحث کې به وویل شي چې پرته له نورو ودانیو څخه غوریانو په څرګنده توګه دخپلو مستحکمو کلاګانو په جوړولو کې خپل استعداد او نووښتونه ښودلی دی او دا طبعاً تر اسلام نه دمخه دوره ده.

## ۲ – په غور کې تر اسلامی دوری راهیسی د معمارۍ صنعت:

غوریانو نه یوازې په دی دوره کې د معماری د صنعت په پخوانی حالت قناعت ونه کړ بلکې تر پخوا زیات یې هغه ته وده او انکشاف ورکړ. په دې دوره کې دا صنعت د ارت او معمارۍ د هنر له پلوه ډېر بډایه ؤ چې په دی دوره کې غوریانو ډېر شتمن، ارزښتمن او نادر اثار په میراث پریښی دی. چې ددی موضوع عمده علت د غوری پاچاهانو خاص تشویق او حتی د هغوئ هغه ابتکار او خاصه سلیقه وه چې پخپله یې د ودانیو د صنعت په اړوند درلودله.

د غوری پاچاهانو له دې ډلې څخه عباس بن شیش د (۴۵۰ هـ کې یې ژوند کاوه) یادولای شو نوموړی د معمارۍ په فن او د نجوم په علم کې خاص مهارت درلود.

د طبقات ناصری په قول یو شمیر ودانۍ دده په نوښت او هڅونه یا نوی او یا له سره جوړی شوی دی. چې سنګه قلعه یې ویانده مثال دی.

---

(۱) عزیزاحمد پنجشیری هماغه اثر او ترده دمخه د عتیق الله پژواک د غوریان اثر د تاریخ انجمن د ۱۳۴۵ کال د ۵۲ مه په حواله ۱۷۴ مخ.

د زياترو جغرافيائي او تاريخی اثارو په استناد د غوريانو کلاگانی د معمارۍ د لوړ فن، د پوخوالی او متانت له مخې زياتې ستايل شوې دی چې دا کلا گانی هغومره پخې او مستحکمې وې چې زياترو فاتحانو په اسانۍ سره نه دی تسخير کړې حتی ځينی کلاگانی چنگيزی لښکرو ته هم نه دې تسليم شوی چې د خسيار کلا په زياتو تاريخی اثارو کې په بې ساری پوخوالی او متانت ستايل شوې ده.

ښايي وويل شي چې د غور د مقتدرو او مدنيت پالونکو پاچاهانو له ولې څخه سلطان عنايت الدين او سلطان شهاب الدين هغه شخصيتونه دي چې د غور د معمارۍ صنعت يې خپل اوج ته رسولی دی [1] موږ په دې دوره کې د معمارۍ د صنعت د ودې او ترقۍ په اړوند زيات مثالونه ليدلای شو. چې يويې د هرات جامع جومات هم دی.

دا جومات نه يوازې د افغانستان د پرتمنيو تاريخی ودانيو څخه شميرل کيږی بلکې د اسلامی دورې د مجللو ودانيو له عظمته ډك ارت اود معمارۍ د هنر څخه گڼل کيږی چې د شرق او غرب ټولو مورخينو ددې جومات عظمت توصيف کړی دی.

دهرات جامع جومات د غور د ستر پاچا غياث الدين ابو الفتح بن محمد سام (۵۵۸ - ۵۹۹ هـ) له خوا بنسټ اېښودل شوی دی. او وروسته هم د مدنيت پالونکو پاچاهانو له خوا يکې شهکارانه کارونه تر سره شوی دی.

د اسلامي د دورې راوروسته د غوريانود معمارۍ د صنعت بل هميشنی او ستر شهکار د جام منار دی چې د شهرك د ولسوالۍ د جام د کلی د شمال شرق په ۶۲ کيلومترۍ کې پروت دی. د جام منار د معمارۍ د عظمت او ډېرو

---

(۱) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۴۶، ۱۷۱ - ۱۷۳ مخونه.

لوړو تزئيناتو او کوفی ليکنو له پلوه د دهلی تر قطب منار وروسته ۷۳ متره لوړوالی لری د نړۍ د اووګونو عجايبو له جملی څخه ګڼل کیږی. او د بخارا منار چې ۶۵ متره لوړ دی (دا دواړه منارونه د غوريانو د نسلونود شاهکارونو څخه دی).
ددې منار بنسټ اینښودونکی هم سلطان غیاث الدين ابو الفتح بن محمد سام دی چې دامنار یې له (۱۱۹۳ - ۱۲۰۲ م) کلونو کې جوړ کړی دی.
د بخارا منار دمعماری د تاريخ د سابقی له مخی د قطب منار او د بخارا دمنار څخه ارجحيت لری لومړنی سړی چې دامنار یې کشف کړ په شلمه پیړۍ کې ښاغلی عبدالله ملکيار د هرات والی و.
چې د فرانسوی دانشمند شارل کیفر په قول یې د خپل سفر په ترڅ کې هغه کشف او احمد علی کهزاد ته یې خبر ورکړ (جغرافيای تاريخی غور ۱۸۴ - ۱۸۵ مخونه).
د غلام جيلانی داوری په قول چې په ۱۹۷۳ م د يوه المانی مهندس د ((ورنر هيربرګ)) په نوم د تحقيقاتو د سرته رسولو په منظور هلته تللی و ددی منار لوړوالی یې ۶۳،۳ متره ښودلی دی [۱]
د غور د تاريخی جغرافيی په حواله ددی منار د معماری (فن) کوفی ليکنی او د تزئيناتو په باب یې زياتی ليکنی شوی او مشخصات یې په ګوته شوی‌دی. او حتی زياته برخه یې باندنيو پوهانو تشکيله کړی ده او دا حقايق په دی دلالت کوی چې واقعاً د جم منار د نړۍ د عجايبو څخه دی.
په هند کې اندره ماريك بلژيکی دانشمند هم د ۱۹۵۷ م په اګست کې دنړۍ په علمی محافلو کې زياته سرو صدا راپورته کړه او حتی انګيسی عالم بیوار هم په نوو کشفياتو کې دا ډیر زيات بريالیتوب ونوماوه [۲] اندره ماريك د جام

(۱) عزيز احمد پنجشيری - جغرافيای تاريخی غور. پوهنتون کابل ۱۳۶۰ - ۱۷۶ - ۱۸۷ مخونه.
(۲) جغرافيه تاريخی غور ۱۸۶ د اريانا مجلی د ۱۳۵۴ کال د ۴۴۰ مخ په حواله د غلام جيلانی داوری ليکنه.

منار په پوره تفصیل سره تر کتنی لاندی نیولی او په ۱۹۵۹ م کې يې د خپلو مطالعاتو نتیجی د یوی مقالی په ترخ کې ولیکلې چې دادی دلته يې په فشرده ډول معلومات رانقل کیږي.

((په هماغه نقطه کې چې د جام دکلی اوبه دهریرود سره ورګډیږي د خړو غرونو د محیط په منځ کې د یوه مطنطن د (     ) برج زرینی شبحی قد پورته ښکاری چې د هغه په پاسنۍ برخه کې د کاشی نیلګونه بندونه تر سترګو کیږي. ددی برج د درو طبقو د مناسب وقت او سموالی د جوړښت په وخت کې د هغه ساختمان ته پوخوالی ورکړی دی.

د لومړنۍ طبقی ځنډی ټولی په تزئینی رویو پوښلی دی. چې د هغه ګرد چاپیر کوفي رسم الخط راتاو شوی دی ددی خط څلورو کمربندو د منار عمودی ځنډه ماته کړی او دا بنایي تر حده زیاته ښکلی کړی ده.

د برج قاعده اته ځنډی درلودلی او د یو بل پر مخ (باندی د درو قنداقو حامل ګرزیدلی دی. چې مخروطی شکل لری او سر يې مقطوع دی. د دوو لومړنیو قنداقو پر سر برنډی (رواق) حاکمی دی چې اوس خرابی شوی دی.

او دریم قنداق د فانوس سره متوجه (خیرمه) شوی دی چې پوښ نه لری دومره بَاید ووایم چې د اته ګوښیږی قاعدی یو اړخ نژدی دری نیم متره دی...

په اوسنی وخت کې دننه منار ته له وړی کړکۍ څخه ورننوتلای شو چې شمال خوا ته پرته ده او د پاټکو پر مخ له یوی زینی څخه داسی راکوزیږو چې د یوی مرکزی ستنی څخه دور خوري. او داسی ښکاری چې دا زینه تر ښکته پوری اوږده ده چې اوس د مصالح غورزیدنی يې لاره بنده کړی ده. او همدا خصوصیت دی چې منار هیڅ دروازه نه لری او د سیند د لاندی تر ځمکی لاندی لار تر ماڼۍ پوری غزیدلی ده (فیروز کوه قصر ته ) ځکه چې د اندره په عقیده دفیروز کوه ماڼۍ همدلته پرته ده.

لومړنی رواقك ته د رسیدلو د پاره باید ۱۵۰ پاتکی ووهل شی او دوهم رواقك ته د پنځو وړوکوزینوپه واسطه چې یوی خوا ته پرتی دی او هر یوه یې لس پاتکی لری رسیدای شي، او پنځمی گنبدی ته چې هر یوه یې د قنداقونو د کونجونوسره نښتلی او مدور دی تر څلورو پوششو پوری گچ کاری شوی چې هغی خواته تړی د ښکته کیدلو لار نشته د جام دمنار تزئینات او کتیبی هم د غور د غورو شهکارونو څخه شمیرل کیږی چې د غور په تاریخی جغرافیه کې په مفصل ډول پکی معلومات ورکړ شوی دی.

# دریم فصل

# د غور جنګي کلاګاني، ښارونه او کوټونه

**مقدمه:**

کله چې غوریانو د خپلې واکمنۍ بنسټ کيښود په تيره بيا د غور سوريانو وکولای شو چې د عربو د حملو او د افغانستان د مسلمانو دولتونود تسلط په مقابل کې خپل محلي استقلال تر څو پېړيوپورې وساتي او د دوئ په دفاعي ځواك کې د غور جغرافيايي وضعيت، ډېرو سختو لارو، د غرونوپر څوکو د پوځي ډيرو پخو کلاګانو، اودژمي ناوړه شرايط او د دوئ د خلکو د شجاعت او جګړه مارۍ غريزه ډېره زياته اغيزمنه وه.

او ددې تر څنګه چې غوريانو د غرونو په لوړو څوکو کې په سل ګونو جنګي کلا ګانو کې ژوند درلود د وسلې او مړانې په مرسته يې د عربو او اسلامي هيوادونوله حملاتو څخه قهرمانانه دفاع کولای شوه. [1] خبره دغوريانود کلاګانو په اړوند ده.

په تاريخي مدارکو کې کوټ، قلعه، حصار، کنډ، قند، پور، ګژ، دژ، ډيرۍ د کلا معنا ورکوي خو په عمومي ډول د قلعه او حصار څخه زياته يادونه کيږي او ځيني کلاګاني د خپلې پراختيا اود نفوسو دزيات له امله د ښار حيثيت هم لري.

---

(۱) مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، موسسه چاپ کتب، مطبعه دولتی، ۱۳۴۶، صفحه ۱۲۹.

مخکی تر دی چې د لرغونی غور دجنګی کلا ګانو په متعلق په تفصیل سره یو څه معلومات وړاندی شي بې موردہ به نه دی چې دهیواد د لرغونو ښارونو په تړاو اجمالی نظر وړاندی شي.
د افغانستان لوی ښارونه د اروپایی کم نفوسو هیوادونوپه پرتله د دولسمی پیړۍ په وروستیو کې له سلو زرو تر دوو سوو زرو تنه اوسیدونکی درلودل.
دا ښارونه په حقیقت کې د صنعتی، تجارتی،فرهنګی،سیاسی او نظامی او اداری ستر مرکزونه بلل کیدل.
دا ښارونه دهغه وخت د معمارۍ د صنعت سره سم له پخوا د خامو خښتو اوتیږو څخه جوړشوی او ددی ښارونو د پوخوالی، مضبوطوالی او ډاډمنی دفاع له مخی دېر پنډ دیوالونه، لوړ لوړ برجونه تیرکشونه،د وتلو او ننوتلویو شمیر لویي دروازی درلودلی چې هغه وخت ددی ورونو او د هغو په طاقونو کې د نجاری دصنعت له مهارتونو څخه پوره کار اخیستل شوی وُ.
د غور د تاریخی جغرافیا په ۱۷۵ مخ کې د غورد جنګی کلاګانو مشخصات داسی ښودل شوی دی:
زیاترو جغرافیوی او تاریخي اثارو د غوریانود کلاګانو څخه د معمارۍ په دېر لوړ سبك حصانت او متانت سره ستاینه کړی ده.
غوری ودانۍ په هغه اندازه محکمی او پخی دی چې زیاترو فاتحانو په اسانۍ سره هغه نه دی فتح کړی او په غور کې داسی جنګی کلاګانی هم شته چې حتی د چنګیزی لښکری هم دهغوي په تسخیرولو نه دی بریالۍ شوی.
طبقات ناصری او روضات الجنات فی اوصاف مدنیه هرات او سیفی هروی د هغوئ د استحکام او برم په اړوند مفصل معلومات وړاندی کړی دی.
د غور د پاچا هانو په زمانه کې زیاتی مانۍ (کوشکونه) په خاصو سبکونواو نووښتونو بنا شوی چې له هغې جملی څخه سلطانی کوشك (شاهی مانۍ) په فیروز کوه کې، ...وران مانۍ، ګرمسیر ته نژدی د شورسنګ مانۍ، دهرات

د غرونو سره نغښتې د بندراو قصر، د غرجستان د غرونو متصل د فیوار ماڼۍ، د غرجستان او فرسي تر منځه یادولای شو.

غوریانو ددې حصارونو، کلاګانو او ماڼیو په ودانولو کې په عمومي ډول د محلي مصالح لکه تیږې، زیږو خټو،ېخو او اومو خښتو څخه کار اخستلی دی، ځیني ودانۍ یې خالصې له تیږو څخه جوړولي چې د بیلګې په توکه ((قلعه سنګی)) چې د تیورې په شمال ختیز کې جوړه شوې ده معرفي کولای شو. (۱)

د غور په ښارونو، کلاګانو کې د لوړې طبقې او ښکته طبقو د طبقاتي او ټولنیز دریځ په اعتبار، قصرونه دربارونه، ماڼۍ او کورونه جوړشوي وو او ددې تر څنګه د ټولو کسبونو مربوط کسبګر پکې موجود وو.

زموږ په ګران هیواد کې د ډیرو سیمو تاریخي کلاوې، کوټونه او حصارونو هم د دغسې بیلګو درلودونکې وې.

لکه چې په راوروسته دورو کې کله چې دغه کلاګانې په مخروبو او کنډوالو بدلې شوې او یوازې د ودانیو ډیرې لږې نښې نښانې یې پاتې شولې نو ددې پاتې کلاو جوړښت له مخې ویلای شو چې لومړۍ دا کلاګانې د یوې سیمې په یوه لوړه، حاکمه او مناسبه ساحه کې جوړه شوې دي چې د وتلو او ننوتلو مخصوصې لویې دروازې یې درلودلې.

ددغو کلاګانو لوې والی او بعدونه داراضي او د غرونو دمساعدو شرایطو په اعتبار ودانې شوې او بیلابیل شکلونه یې درلودل.

د کلا په هر کونج او ګوټ کې یو یو برج، اوکه کلا لویه وه په هر بازو کې یې هم څو برجونه درلودل هره کلا ځانته جومات درلود او د امکان په صورت کې

پکې ځاګانې کیندلې شوې او طبعاً داکلاګانې بنايي په يوه هغسې سيمه او ځای کې ودانې شوې چې د غرونو په لمنو کې يې موقعيت درلود.
د چينو اوبه پکې موجودې او په اسانې سره پکې حوضونه جوړ شي.
اهنګر، نجار (د روزګر) خياط، رنګريز، موچي (چرمګر) نداف او جولا، نيبې، ختګر، مسګر او داسې نور کسبګر پکې اوسېږي.
کلاګانې د امير، پاچا، ملکانو او نورو روحانيونو له خوا اداره کېدلې، ميا، ملا او نورې روحاني کورنۍ پکې هم د خاص احترام وړ بلل کيدلې.
او کله چې بيرته په خاصه توګه د غور کلاګانو ته راوګرزو دهغو په موقعيت، جوړښت اداری او نورو خصوصيتونو کې پورتنې مشخصات ډېر ښه ليدل کيدلی شي.
د پوره يادونې وړ ده چې زموږ دهيواد زياتې پخوانۍ کلاګانې د وګړو د ډېرښت په وجه ښار ته ورته مرکزونه او له همدې امله زياتې کلاوې لکه منديش، فيروز کوه، اهنګران او داسې نورو ددغسې مشخص مقام درلودونکې وې.
او ځينو کلاګانو د سلطنتی مرکزونو پلازمينو حيثيت درلود او نورې پاتې هم د سوق الجيشي او ژيو پولتيك اهميت له مخې ډېرې محکمې پوځې او سياسې مرکزونه بلل کيږي.
تاريخي اسناد ښيي چې په لرغونو زمانوکې د افغانستان ښارونو اوسنی شکل نه درلود د بلې خوانه پخوانيو ښارونواو کلاګانو د اوسنيو ښارونو او کلاګانو سره بيخي ځرګند توپير درلود.
په پخوانيو زمانو کې هغو لوي کلاګانو ته لکه چې دمخه يې مشخصات بيان شول، خودکفاء وې د ښارونو حيثيت يې درلود او د واکدارانو د واکمنۍ، هستوګنځي، اداري، سياسي، پوځی، اقتصادي، فرهنګي او ټولنيز مرکزونه بلل کيدل لکه د منديش، فيروز کوه، اهنګران، خيسار، استيه، زرنی،

زمینداور، غزنه او نوری کلاوی (ښارونه) او کلاګانی له هغو حصارونو، کوټونو،څخه عبارت دی چې د مرکزیت او خودکفایي اړخ یې دومره پیاوړی نه ؤ بلکې د قوی او ډاډمنو. تدافعی او استحکاماتی مشخصاتو درلودونکی او اوسیدونکو ته یې دیرغلګرو ځواکنو په مقابل کې د هغوي د ساتنی اومدافعوی امکانات ور په برخه کول لکه د کالیون، تیری، فیوار، خاسك، دوکی، سیفرود او اشیار کوټونه.

باید زیاته شی چې ځینو هغه کلاګانو چې دفرهنګی ذوق له مخې هنری مشخصات پکی په کار اچول شوی وو او د هغی زمانی له هنری ارزښتونو څخه یې نمایندګی کوله ماڼۍ هم ویل شوی دی لکه د مندیش کلا او خول ماڼۍ او نوری.

د لرغونی غور د جغرافیایی موقعیت او جوړښت په اعتبار د غور هر غر او هره غرنۍ سیمه یو پوخ مورچل او نه مانیدونکی سنګر او مضبوطه کلا وه، له همدی امله د هیواد د بلی هری سیمی په نسبت په لرغونی غور کی جنګی کلاګانی او پوځی کوټونه چې زیاتره یې بالاحصارونه دی موجود وو. او هر یوه یې په تاریخی حساسو حوادثو کې د پوره اهمیت وړ نقشونه لوبولی دی. او ځانته ځانګړی تاریخی پیښې، نقلونه، کیسی، کارنامی او حماسی لری. لکه څه رنګه چې په لرغونی غور کې د وسلی او حربی الاتو دجوړولو صنعت پوره ترقی او پراختیا درلودله او د زیاتو سیالیو او رقابتونو له مخی یې لا وده کوله په همدی ډول د غور د کلاګانو په ودانولو کې په مسابقوی شکل د وتلو او تکړه معمارانو، نقاشانو، ممتازو ختګرانو، تزین کارانواو پخو کسبګرو او استادکارانو د وړتیا ګانو او نووښتونو څخه په پراخه پیمانه استفاده شوی ده. او حتی سره زره، سپین زر او نوری قیمتی ډبری پکی هم کاریدلی وی. او همدا ځانګړتیاوی وی چې دغو کلاګانو نه یوازې په ګاونډیو سیمو کې ساری

او نظیر نه درلود بلکې په نړیواله سویه له زیات نامتووالی څخه برخورداری وی.

چې دادی په لاندنۍ توګه دغه کلاګانی د جغرافیایی موقعیت، سوق الجشی وضعیت اداری مرکزیت، هنراو صنعت، په جګړه ییزو ښو او حالاتو کې د هغوئ د نقش او اعتبار هره یوه ځانله تر څیړنی لاندی نیول کیږي:

## ب - دغور کلاګانی - ښارونه او کوټونه:

۱ - د مندیش کلا (ښار): (۱۳۰ هـ ق)

مندیش د غوریانو د ډېرو پخوانیو پلازمینو څخه یو پایتخت او دغور د محلی حکمرانانو اداری مرکز وئ چې امیر پولاد سوری (۱۳۰ن هـ) له دغه ځایه د غور په ټولو غرنیو سیمو حکومت کاوه.

د امیر پولاد نه دمخه شنسب بن خرنك (۴۰ - ۸۰ هـ) په شاوخوا کلونو کې چې په غور کې یې حکومت کاوه په قوی احتمال سره دده اداری مرکز هم دا مندیش وئ چې دا سیاسی او اداری مرکز د صفاریانو تر دوری پورې د غور پایتخت وئ [1] مندیش د غور یوه پخه، محکمه، سخته او ښته زیاته جګه کلا وه. دا کلا د مندیش د زارمرغ د غره په تړو کې پرته وه. چې د تیرې لیك (خط سنګی) د لیکنی له مخی ددې کلا تاداو بسطام ایښی وئ او څرګندیږی چې د هغی د ودانولو د پاره یو شمیر تکړه استادان ګمارل شوی وو.

ددې کلا دیوالونه د ردو په ډول دنوموړی غره د یوه تلی (سطح هموار) د پاسه ایښودل شوی و چې (۱۲) برجونه یې درلودل او په هر یوه برج کې (۳۰) کړکۍ موجودی وی (شپږ برجونه د ختیز او شمال خواته او شپږ نور برجونه د لویدیز او جنوب خواته) چې په هر یوه برج کې د اسمان رسم کښل شوی وئ. په داسی

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیایی تاریخی غور - انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ - ۴۳ مخ.

ترتیب سره چې هره ورځ لمر په ټاکلې درجه له یوې کړکۍ څخه راختلو او په څرګند ډول یې ښودله دغه ورځ لمر په کومه درجه او کومه میاشت راخوت.
دا خبره په دې دلالت کوي چې د امیر عباس بن شیش د خلافت او استادۍ په زمانه کې د نجوم علم وده کړې او د غور زیاتي ماڼۍ په دې ترتیب ودانې وې او بیا یې عمومیت پیدا کړی و.[1] خو د اریانا ښارونه (شهرهای اریانا) په کتاب کې د مندیش په هکله داسې څرګندونه شوې ده:
((دشنسب د کورنۍ پایتخت او دارالملك د غور په یوه سیمه کې چې په دې نوم (مندیش) یادیده چې نښې نښانې یې د زارمرغ په کوتل او د (ابدال غر) د څوکې او غاښې په منځ کې شته دی. هغه ماڼۍ چې د غوري شنسب زوی امیر عباس د مندیش په ولایت کې جوړه کړې وه – د اسمان د برجونو په څیر له (۱۲) برجونو څخه مرکبه وه. چې هر برج یې دیرش کړکۍ درلودلې او د پوهانو په نزد د زیات ارزښت لرونکې وه. هره ورځ چې به لمر راخوت د هغو برجونو له یوې کړکۍ څخه به ځلیده[2] د پورتنیو روایتونو له مخې د مندیش د کلا تاداو د بسطام په زمانه کې ایښودل شوی او په دویم روایت دا ماڼۍ د امیر عباس شنسبي په زمانه کې جوړه شوې ده.
داسې څرګندیږي چې د ماڼۍ بنسټ د بسطام په وخت کې ایښودل شوی، خو بیا وروسته د امیر عباس په دوره کې د نجومي علم څخه په ګټه اخستلو سره د هغې ودانۍ بشپړه شوې ده چې پخپله د ناصري طبقاتو د پورتنۍ لیکنې په وروستني پراګراف کې دا موضوع صدق پیدا کوي او ویل شوي دي چې دنوموړي امیر په وخت کې د نجوم علم تکامل موندلی او د هغه په اساس زیاتي ماڼۍ جوړې شوې دي.

---

(۱) منهاج سراج جوزجانی، طبقات ناصری ج ۱، به تصحیح و مقابله، تحشیه و تعلیق پوهاند حبیبی، انجمن تاریخ افغانستان، ۱۳۴۲ کابل (۳۳۱ – ۳۳۲ مخونه).
(۲) محمد عثمان صدقی، شهرهای اریانا، موسسه نشرات بیهقی – ۱۳۵۴ کابل، ۹۳ مخ.

منديش او سنګه قلعه (خول ماڼۍ) د غور د نامتو ښارونو څخه ؤ چې د غزنويانو او غوريانو په زمانه کې يې پوره شهرت درلود.

ابو الفضل بيهقی د هغې زمانی نامتو مورخ چې د امير محمد د محمود زوی د خپل ورور مسعود له خوا د کوهتيز (کوهشير) په کلا کې بندی شو او له هغه ځايه منديش ته راوستل شو ددی کلا په باره کې داسی وايي.

((منديش يوه ډېره پخه، سخته، محکمه او جګه کلا ده او کله چې سړی د ((اياز)) له ځنګل څخه تيريږی او ((ګور والشت)) ته رسيږی، د کيڼی خوا له لياری له ورايه د منديش کلا ښکاری... ډېره زياته لوړه، له شميره وتلی پوړۍ يې درلودلی او په ډېر زحمت سره ورته سړی ورختلای شو.[1] تر بيهقی وروسته عبدالحی ګرديزی (۴۴۰ هـ) دا کلا دمملکت د ډېرو پخو کلاګانو څخه شميرلی او وايي چې (نای) او (مرنج) (دسيستان هغه کلا ګانی وي چې شاهی خزانی پکی ساتل کيدلی) د کلاګانو په شان د پاچاهی ګنجونو او خزانو د ساتلو د پاره ټاکل شوی وی.

دغزنويانو تر دوری وروسته ۳۵۰ - ۵۸۳ هـ (۹۶۲ تر ۱۱۴۸ م) په طبقات ناصری کې يادونه شوی او پر دی برسيره په پټه خزانه کې هم ددی کلا په هکله ليکنه شوی‌ده په دی‌کتاب کې چې د محمد بن علی البستی د سوری تاريخ په حواله کله چې د غوری، سوری امير پولاد زوی امير کروړ جهان پهلوان په (۱۳۹ هـ) د غور په منديش کې امير شو. ده په خيل ژمنی (زمستانی) پايتخت زميندااور کې د منديش غوندی ماڼۍ جوړه کړه.

مينورسکی ليکی چې منديش د شنسب د کورنۍ اصلی ټاټوبی دی چې د زار مرغ د لوړ غره په لمنه کې پروت دی[2] او سمه خبره هم هاغه ده چې د منديش کلا د امير عباس په زمانه کې ودانه شوی ده.

---

(۱) منهاج سراج، طبقات ناصری ج ۱، انجمن تاريخ افغانستان، کابل، ۱۳۴۲ - ۳۳۳ مخ.

(۲) منهاج سراج، طبقات ناصری ج ۱، انجمن تاريخ افغانستان، کابل، ۱۳۴۲ - ۳۳۳ مخ.

دمحمد سوری تر مړینې وروسته د سلطان محمود غزنوي له خوا امیر بوعلی د محمد سوری زوی د غور دمندیش په غروکې د پلار په ځای کښیناست او د سلطان محمود تابع و.

نوموړی یو علم پالونکی شخص و، په غور کې یې د مدرسو او ماڼیو په جوړولو لاس پورې کړ.[1]

د پورتنیو لیکنو او څیړنو څخه جوتیږي چې مندیش نه یوازې له برمه ډکه پخه پوځی کلا وه بلکې د غوریانو د یو نامتو او فرهنګی او سیاسی ښار او د یوه لوی غر نوم دی.

## ۲ - د فیروز کوه کلا (ښار) : ۵۴۳ هـ = ۱۱۴۵ م – ۶۲۰ هـ = ۱۲۵۸م:

فیروز کوه ډېره پرتمینه، ډېره پخه او ډېره سخته کلا او آباد ښار و او د غوری پاچاهانو سیاسی مرکز بلل کیده.

دا کلا د فیروز کوه د ښار شمال ختیزی خواته په ((ورشاده)) نومی سیمه کې د فیروز کوه د غره په یوه لوړه او نیغه څوکه باندی د غور د پاچاهانو په زمانه کې جوړه شوی ده.

وايي کله چې ملك قطب الدین محمد چې خپل وطنی لرغونی لقب یې (غرشاه) په عربی (ملك الجبال) واړوه او ځانته یې انتخاب کړ نو یې تصمیم ونیو چې یوه پخه کلا او له عجایبو څخه ډك محل کوم چې د شاهی دربار سره مناسب دی جوړه کړی نو یې د مربوطو سیمو څخه تکړه او ماهر معماران راوغوښتل او د فیروز کوه په غره کې یې ورته ځای وټاکه تر څو یې د همدغه غره په نوم دفیروز کوه کلا او ښار یې تاسیس کړ[2] فرشته هم پورتنی قول تائیدوی او وايي کله چې ملك الجبال د فیروز کوه کلا او ښار په بشپړه توګه

---

(۱) عبدالحی حبیبی، د افغانستان لنډ تاریخ – انجمن تاریخ و ادب. مطبعه دولتی کابل.
(۲) منهاج سراج جوزجانی، طبقات ناصری ج ۱، طبع ۶۵۸ هـ ۱۳۱۵م، ۳۳۷ مخ.

ودان کړ نو یې هغه خپل دارالملك وګرزاوه او د ښکار د پاره یې نژدی دوه فرسنګه دیوال وغزاوه، دا قصر ملوکانه ماڼۍ شوه اود سترو پاچاهانو روش یې په مخ کې ونیو د طبقات ناصری په دوهم ټوك کې فیروز کوه بیا داسی معرفی شوی دی.

د فیروز کوه کلاګانی د لوړو کوشکونو، ښکلو ماڼیو درلودونکی وی چې هم د متانت او چګوالی له مخی او هم د تجمل او ښکلا له مخی یې هیڅ ساری نه درلود.

په دغه اثر کې د فیروز کوه مشخصات په یوه څه تفصیلی ډول داسی ښودل شوی دی:

((... این قلعه بود بر شمال شرق شهر، بر سر کوه بلند و شامخ و بدان موضع در عهد سلاطین غور یك قصر بزرګ بیش نبود، و رفتن ستورها بران ممکن بود ودر ګرد سر آن کوه برکشید و راه آن قلعه چنان کرده بودکه شتر با بار بران قلعه برفتی و مردم هزار را امکان مقام بودی[1] په یوه بل روایت کې د فیروز کوه د مشخصاتو څخه داسی یادونه شوی ده:

د فیروز کوه مشهوره ماڼۍ د پاسه په سرو زرو مرصع، څلور کنګری یې درلودلی چې لوړ والی یې دری ګزه او پسور یې دوه ګزه و، چې هلته پری د یوه اوښ جسامت، د هما دوه طلایي مجسمی نصب شوی وی.[2] د فیروز کوه ښار پرته له دی چې لویه دبدبه او عظمت یې درلود، د ستراتیژیکی وضعیت له مخی د بی سارو پخو کلاګانو څخه و. لکه چې یاقوت حموی په معجم البلدان کې د فیروز کوه ستراتیژیکی اهمیت په ډېره لنډه توګه داسی بیانوی:

---

(۱) منهاج سراج جوزجانی، طبقات ناصری ج ۲، طبع ۶۵۸ هـ، ۱۳۲ مخ.

(۲) میر غلام محمد غبار، افغانستان درمسیر تاریخ، موسسه طبع کتب، دولتی مطبعه، ۱۳۴۶ کابل، ۱۳۶ مخ.

فیروز کوه یوه ښکلی کلا وه او اوبه یې له چینی څخه وی [۱] یعنی د اوبو اکمالات او تهیه د یوه جنګی کلا د پاره چې د دننه په کلا کې وی په مدافعی چارو کې ستر نقش لری.

د فیروز کوه د تسمیې وجه لکه چې ورته اشاره وشوه د فیروز کوه د غره څخه اخستل شوی دی او ددی غره لړۍ د غور ولایت د دولت یار د شمال څخه شروع او د (۴۰۰) کیلومترو په اوږدوالی د هرات په شمال د قزل بولاق په کلی ختمیږی.

ابوالفدا په خپل کتاب جغرافیه د تقویم البلدان په نوم چې په (۷۲۱ هـ) کې تالیف کړی دی فیروز کوه یې په دری پیروز کوه ثبت کړی دی او لیکی:

پیروز کوه چې د شنه غره په معنا دی او د هغه کلا ده چې ډېره محکمه او د غور د ملك الجبال مرکز وُ (جغرافیای تاریخی غور، ۶۴ مخ).

د ناصری طبقاتو په دوهم ټوك کې راغلی دی، هغه وخت چې ملك ضیاء الدین د سلطان غیاث الدین محمد سام څخه وروسته د فیروز کوه پر تخت کښیناست او ځانته یې دملك غلاو الدین لقب اختیار کړ نو غور او غزنی دده دواکمنۍ لاندی راغلل او د فیروز کوه کلا یې جوړه کړه.

پورتنۍ لیکنه دا خبره را منځ ته کوی چې د فیروز کوه ښار، ماڼۍ او کلا په یوه پلا نه دی ودان شوی، د غور پادشاهانو د هغی د خاص اهمیت په وجه یو د بل پسی د هغی په بیا بیا جوړولو کې خاصه ونډه اخستلی ده.

د منهاج سراج په قول چې دی پخپله د فیروز کوه او د غوریانو په دربار کې روزل شوی و وایي: چې ملك الجبال قطب الدین محمد د ملك عز الدین حسین زوی ددی ښار او کلا تاداو کیښود او سوری سلطان (سلطان سیف الدین سوری ۵۴۳ هـ = ۱۱۸۰ م د غوریانو لومړنی پاچا چې د سلطان لقب

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰ کابل، ۶۴ مخ.

يې واخيست اود پاچاهی مرکز يې و ايسته حصار وئ دورسل ولايت ملك الجبال يعنی هماغه قطب الدين ته ورکړ او ده د فيروز کوه د کلا تاداو وکينښ او جوړه يې کړه خو بيا وروسته تر ده سلطان بهاءالدين سام د فيروز کوه دغه ودانۍ بشپړه کړه يو کال وروسته ۵۴۴ هـ = ۱۱۸۱ م د هغه ځای پر تخت کښيناست او دده څه راوروسته دغه ځای د دارالملك (پايتخت) يا حضرت په نوم شهرت ومومند.

دا پورتنۍ ليکنه ځکه پوره سمه او ثقه ده چې منهاج سراج د عينی شواهدو له مخې چې ددغه زمانی او دربار سړی وئ کړی ده.

د يو بل سند له مخې چې وايي ((څه وخت چې علاو الدين جهانسور (د وجيرستان حکمران) د غورد مملکت پايتخت او د فيروز کوه حضرت (دربار - ارګ) باندې کښيناست د سوری سلطان او ملك الجبال د وينو د کسات اخستلو په مقصد يې پر غزنی باندی لښکر وايست - دمحمود مربوطی سيمی يې ورانی کړی، او چې غور ته راستون شو او دا چې يې د غزنی له خاوری څخه هر څه راوړی وو. نو د فيروز کوه په غره کې يې خو برجونه جوړ کړل چې دغه برجونه له ۵۶۰ هـ = ۱۲۶۵ پوری باقی وو [(۱)] د ځينو مورخينو په عقيده چې فيروز کوه يوه لويه کلا ده خو افسوس چې موقعيت يې معلوم نه دی، خو دا عقيده معقوله نه ده ځکه چې په ډېرو زياتو شواهدو او د نامه د شهرت له مخې (فيروز کوه) د هغه موقعيت بيخی څرګند او معلوم دی.

فيروز کوه د يوه رود په غاړه ودانه شوی ده چې ښايي دا رود د هريرود پاسنۍ برخه اويا دمرغاب پاسنۍ برخه وي.

---

(۱) عبدالحی حبيبی - پنحوس مقالی، موسسه نشر کتب. بيهقی، مطبعه دولتی ۱۳۵۴. کابل ۵۴۵ مخ.

خو هولدج چې په کابل ۱۸۸۴ - ۱۸۸۵ کې يې د غور سيمې ليدلې وې، د تيوری پراخې خرابې چې د هغه د اوسيدونکو په قول په غور مشهوری او د فراه رود مرستيال رود په غاړه پروت او فيروز کوه ورته وايي او د تيوری واقعيت داسې مشخص شوی چې د هرات فراه او د هيريرود د پخوانۍ وادی سره په اسانۍ مراوده کولای شي نو ښکاره ده چې د فيروز کوه اصلي ځای تيواره ده [۱]

په يوه بل روايت فيروز کوه د هريرود په پورتنۍ برخه کې او په ظاهره اهنگران ته نژدی پروت دی او ددی ښار چې د ۱۲ پيړۍ په وروستۍ او د يارلسمې پيړۍ په لومړيوکې د ډيرو مقتدرو ښکلو او د لوړو ودانيو او قصرونو درلودونکی پايتختونو څخه شميرل کيده په دقيقه توگه نه دی معلوم او وايي چې فريه خبره سمه ده [۲] بيا هم داقول سم نه دی.

لنډه داچې د فيروز کوه د ښار اويا جنگی کلا د دبدبې او عظمت او متانت د دورې وروسته د ۶۱۹ - ۶۲۰ هـ د چنگيز د تباه کوونکی لښکر د حملو په اثر د چنگيز د زوی ((اوکتای)) په واسطه د فيروز کوه کلا بيخی ورانه شوه چې هيڅ نښه نښانه يې پاتې نه شوه او له همدې ځايه دی چې اوس يې پيژندل يو څه گران دی او د موقعيت خبره يې يو څه ابهاماتو ته وځي.

## د فيروز کوه په متعلق يو څو مختلفو تاريخې پيښو ته لنډ نظر!

د غور د نورو ټولو کلاگانو او ښارونو د تاريخې پيښو په مقايسه د فيروز کوه په اړوند تاريخې واقعات ډېر زيات په گوته شوی دی چې دلته د هغوي څخه په يو څو ډېرو مهمو بحث کيږي: فيروز کوه چې دغور د ټولو پاچاهانو د

---

(۱) محمد عثمان صدقی - شهر های اريانا، موسسه نشر کتب بيهقی، مطبعه دولتی ۱۳۵۴، کابل، ۷۴ مخ.

(۲) بارتولد ترجمه حمزه سرداد دور، جغرافيای تاريخی ايران، تهران ۱۳۰۸، ۲۴۵ مخ

واکمنۍ په موده کې د هغوئ پلازمينه او پوره مرکزيت يې درلود. زياتې تاريخي پېښې تيرې کړې دي.

د معزالدين محمد بن سام د جهان کشائي په (**۵۵۸** هـ = **۱۱۹۵**م) دوره کې چې د غور د سترو پاچاهانو له جملې څخه و او فيروز کوه دده په زمانه کې زياته ترقي وکړه، د ډېرو زيات ښايست او د بدبې درلودونکې شو او دهغه ارګ او ماڼۍ دېر عظمت او برم تر لاسه کړ (شهرهاي اريانا) نو دا وخت ډېر ولايتونه د فيروز کوه له خوا اداره کيدل لکه چې **۵۵۰** هـ کې شمس الدين محمد په باميان کې امير وُ او د فيروز کوه له درباره په رسميت وپيژندل شو او بيا چې په **۵۵۸** هـ کې سلطان غياث الدين پاچاهی ته ورسيد نو خپل هيواد ته يې يو لوی مرکزيت ورکړ. او د منځنۍ اسيا ټولې سيمې يې له هندوستانه تر عراقه او له چينه تر هرمز تر سينده پورې د غور د فيروز کوه تر بيرغ لاندې راوستلې‌او د خراسان يوازنې او ستر شهشناه ګڼل کيده (۱) د پورتنۍ څرګندونې له مخې ويل کيدای شي چې د فيروز کوه اهميت په دې کې دی چې د غورې د امپراطورې د مرکز په توګه يې يو وخت دهيواد په سياسي او اداري چارو کې ستر نقش لوبولای دی.

او دا چې کله د لومړۍ ځل دپاره د غوريانو د واکمنۍ مرکز وګرزول شو، نو تاريخي سندونه ښيي، هغه وخت فيروز کوه د غوريانو دحکمرانۍ مرکز شو چې د سلطان محمود غزنوی دولت زوال موندلی او ۱۰۲۰ هـ کې دغور اميرانو چې پخوا دده اعوان او ياران وو خپله خپلواکي واخستله او ځانته يې جلا دولت تاسيس کړ.

---

(۱) عبدالحی حبيبی، د افغانستان لنډ تاريخ، انجمن تاريخ وادب، مطبعه دولتی ۱۳۴۶، ۲۳۸ مخ.

د فیروز کوه ښار د غور د پاچاهانو په دوره کې خورا مهم موقعیت درلود او د عربو د لښکرکشیو په وخت کې دا پخه سیمه د هغوئ لاس ته رانغله په داسې حال کې چې نورې ډېرې سیمې یې نیولې دی او مخکې تر دې چې فیروز کوه د غوري پاچاهانو دسلطنت مقر شي سلطان محمود هغه ته لاړ موندلې ده.

دې ځوان ښار له نیمايي پیړۍ څخه زیات عمر نه درلود او لکه چې څرګندیږي د سامانیانو د زمانې او د غزنویانود دورې په لومړنیوکې (۴۰۰ هـ ۱۰۳۳ م) په حدودو کې د جوزجاني، حدود العالم (۳۷۲ هـ۹۸۲ م) او د یمنی العتبي تاریخ (۴۲۷ هـ ) چې دا دري واړه د غزنویانو په زمانه کې چاپ شوي دي د فیروز کوه په هکله یکې کومه یادونه شوې نه ده. کیداي شي چې دغه وخت د غوري حکمرانانو دکورنۍ پایتخت د فیروز کوه نه په غیر بل کوم ښار وئ. لکه چې (۴۰۰ هـ - ۱۰۳۳ م) کې سلطان محمودکله چې په غور باندې حمله وکړه د هغه ځای امیر (محمد سوری) یې د اهنګران په کلا کې چې د غوري واکمنانو هستوګنې وئ بندي کړ[۱]

لکه چې دمخه وویل شو چې د فیروز کوه د ښار عمر ډېر اوږد نه وئ او د بلې خوا نه د چنګیزي تاړاکونو په وجه داسې وران او ویجاړ شو چې هیڅ نښه نښانې یې پاتې نه شوه نو پر ځای دی چې د هغه د موقعیت په باب داسې روایت وشي:

په کال ۱۸۴۵ کې کله چې فیریه انګلیسی افسر په دې ښار کې د ګرزیدلو د پاره راغی د فیروز کوه په نوم یې دلته کوم ځای ونه موند وایي چې یوه بومي شهزاده ورته وویل چې شهرك (دولت یار) ته نژدې د غور پایتخت دی[۲]

---

(۱) عبدالحی حبیبی، پنځوس مقالې - د ښوونې او روزنې مطبعه - کابل ۱۳۶۲ کال ۵۴۵ مخ.

(۲) عبدالحی حبیبی د افغانستان لنډ تاریخ، انجمن تاریخ و ادب کابل دولتی مطبعه، ۱۳۴۶ کال، ۲۳۲ مخ.

په كال (۶۰۷ هـ) ملك ركن الدين ايرانشاه، محمود او ملك علاء الدين د ابو علي زوى د پنځه سوو غزنوى اد كاسى عسكرو سره پر غور او فيروز كوه باندى يرغل وكى خو سلطان غياث الدين چې هغه وخت د غور يو ځواكمن شهشناه و دهغه سرور پرى كړ.
(طبقات ناصر ج ۱، ۲۸۳ مخ).

په ۶۱۲ هـ كې سلطان علاء الدين محمد د فيروز كوه ښار دخوارزمشاه په معتمدينو وويشه په طبقات ناصرىكې ويل شوى دى كله چې سلطان محمود غورى په ۱۲۱۲ كې مړ شو او ځوارلسم زوى يې بهاء الدين سام پاچا شو سلطان محمد خوارزم، علاء الدين اتسنر غور ته وليږه د دوه ورځنى جګړې وروسته فيروز كوه ونيول شو.

په كال (۶۱۷ هـ) چربى اقلان (دچنګيز د لښكر يو سالار) فيروز كوه ته راورسيد اود يوى خونړۍ جګړې وروسته،نوميده بيرته ستون شو،دمير غلام محمد غبار په قول دى جګړې ۲۱ ورځي دوام وكړ تر څو چې ژمى راورسيد او د ښمن بيرته ناكام شاته وغورزيد [۱]

په همدغه كال مبارزالدين دى كلا ته ورپورته شواو بيا كله چې له دى كلا څخه هرات ته لاړ هلته شهيد شو او دفيرز كوه ښار د مغلى پوځ د مشرا عمادالدين زنګى (حبشى) له خوا وران شو.

خو په يوبل قول د فيروز كوه ښار د چنګيز د زوى او كتاى له خوا د خاورو سره خاورى شوى دى چې هيڅ نښه نښانه يې پاتى نه شوه او دا خبره ځكه [illegible] لرې، چې چنګيزيانوددى وطن د ابادۍ سره زياته دښمنى درلودله نه ښشيانو چې زموږ له هيواد سره يې د هيڅ دښمنۍ مناسبت نه درلود.

(۱) مير غلام محمد [illegible]، افغانستان در مسير تاريخ، موسسه طبع كتب،مطبعه دولتى، ۱۳۴۶ كابل، ۲۱۵ مخ.

اصلي خبره همداده چې د فیروز کوه ښار په ۶۲۰هـ = ۱۲۵۸ کې د مغلو د یرغلونوپه واسطه بیخي وران شوی دی.

## ۳ - د آهنګران کلا (ښار)

په څرګنده او ربښتینې توګه اهنګران د کاسي په جنوب او د برنۍ هریرود په برخه کې موقعیت لري او د زیاتو پوهانو په عقیده لکه روسي محقق بارتولد چې پخپله جغرافیه کې یې لیکلي دي د اهنګران کلي هماغه کلي دی چې اوس د هریرود په سیمه کې پروت دی.

مګر راورتي د ناصري طبقاتو په ترجمه کې سخت غلطي کړې او هغه یې د غزنۍ د اهنګ د نهر په شاوخوا کې ګڼلی دی.

خو اروانښاد حبیبي د اهنګران لومړنی موقعیت سم بولي او وایي چې اهنګران اوس هم په همدغه نوم مشهور او نښانې یې ښکاره دي او د برنۍ هریرود په غاړه دکاسي په جنوب کې پروت دی.

احمدعلي کهزاد داهنګران دموقعیت یو څه نوري بیلګې په ګوته کړې او وایي:

د اهنګران کلا د ۲۲ کیلومترو په اندازه د کاسي جنوب ته د وادي په منحنۍ برخه کې د یوې خاورینې غونډۍ د پاسه د ۵۰ متروپه واټن د هریرود کینې خواته پروت او د هغه د مات شوي دیوال دوې ټوټې لویې تیږې هم هلته پرتې دي [۱] لکه چې دمخه وویل شو د اهنګران څخه نن ورځ یوازې یو کلي پاتې دی چې د هریرود په پاسنۍ برخه کې موقعیت لري. د اهنګران ښار د غور د پاچاهانو د ودانیو له جملې څخه شمیرل کیږي چې خرابه یې اوس هم په چغچران کې موجوده ده.

---

(۱) عتیق الله پژواک، غوریان، انجمن تاریخ، دولتي مطبعه، ۱۳۴۵ کال، ۱۲ - ۱۳ مخ.

د اهنګران د ښار (کلا) ښسټ ایښودونکی او د تاداو ایښودلو او جوړولو نیټه نه ده معلومه او هم یې دا پته نشته چې دکوم غوری پاچا او یا بل پاچا په زمانه کې جوړه شوی ده. مګر په تاریخی پېښو کې له اهنګران څخه یادونی شوی دی.

اهنګران چې د غور د پخو کلاګانو او ښارونو څخه دی تر ۴۰۱ هـ پوری د سوری دکورنۍ دحکمرانۍ مقر باله کیده چې د فیروز کوه څخه یې تاریخی سابقه مخکی وه. ددی دورې وروستنی امیر محمد سوری نومیده چې د قاضی منهاج سراج په وینا کله به یې د سلطان محمود غزنوی څخه اطاعت کاوه او کله به یې تری سرغړونه او تمرد ښکاره کاوه. تر څو چې سلطان محمود د لوی لښکر سره غور ته راغی او محمد سوری هم د لسوزرو عسکرو سره مقابلی ته راپورته شو او د اهنګران له کلا څخه یې په پوره مړانه دفاع کوله، څو چې په دغه جګړه کې محاصره او پاچاته تسلیم شو.

سلطان محمود هغه غزنی ته راووست او دده پر ځای یې دده زوی شیش د اهنګران حاکم وټاکه.

ددې پیښې تفصیل په یو بل روایت کې داسی راغلی دی:

په یوولسمه میلادی پیړۍ کې چې سلطان محمود د غور د بت پرستانو په مقابل کې لښکر کښی وکړه او هغه یې ونیواوپه خلکو یې رسماً د اسلام دین ومانه او د غزنوی دلت تابع یې کړ.

خو ځینی برخی چې د سوریانو د سلطنت د اصلی سلالی څخه وی خپلواکی پاتی شوی. چې ددې سلسلی له پاچاهانو څخه یو پاچا د غور د اهنګران په ښار کې سلطنت کاوه. او دغه پاچا امیر محمد سوری و او کله چې د سلطان محمود د غزنوی له خوا د یوی لښکرکشۍ په ترخ کې د اهنګران په کلا کې محاصره او بیا بندی شو نو داوه چې هلته یې ځان په زهرو وواژه.

د شهرهاي اريانا په حواله جوزجانی عقيده درلودله چې په ۱۰۴۷ م دغور شهرستان ته اهنگران ويل کيده.
حمدالله مستوفی د غور دمهمو ښارونو په ځنګ کې اهنگران په (هنگران) ثبت کړی دی. تر څو چې د ۶۱۹ هـ د اهنگران ښارد چنگيزی لښکرو په واسطه وران شو (۱) او اوس نشته دی.

## ۴ – د خيسار کلا (ښار):

(۴۱۱ هـ - ۵۵۸ هـ ق

دغور د ډېرو لويو، جګو، پخو او ښکلو کلاګانو څخه چې د غور په لوړو غرونو کې (د خيسار د غره يا کوه روئين)کې پرته ده.
يوه هم د خيسار کلا ده، کومه چې په برم او محکموالی کې يې هيچيرته ساری نه درلود. چې د ياقوت په قول د هرات او غزنی تر منځه په سرحدی برخه دا غر موقعيت لری. چې بيهقی هم په ۴۱۱ هـ کې کله چې سلطان مسعود له هراته په غور حمله کوی لومړنی منزل يې (( راباشان)) او دوهم منزل يې خيسار يادوی او يا په بل ځای کې تولك او اصطخری هغه له هراته د دوه ورځنی لار په فاصله کې بيانوی.
خو ځينی پوهانو د خيسار د غره موقعيت د اوسنی زرنی د غرونو د لړۍ لويديزی خواته د ((جهان کلا)) محل اټکل کړی دی.
اوس هم قيصار د خيسار سم نوم دی چې د فيروز کوه د غرونو په سلسلو کې پروت دی. د مستر فريه په قول دا کلا د سلطان غياث الدين ابوالفتح په واسطه بناء شوی‌ده احمد علی کهزاد چې د يوه سفر په ترڅ کې کې يې د خيسار کلا او د هغی خرابی ليدلی دی داسی ليکی:

(۱) بارتولد، ترجمه سرداد دور جغرافيای‌تاريخی ايران ۱۳۰۸ ، ۴۴۳ مخ.

د خیسار کلا چې دغور ادبیان یې د ((خونسار)) او قیصار)) او عوام یې ((د نجلۍ کلا)) په نامه یادوی د غور د ډیرو زیاتو، محکمو، دغو لوړو کلاګانو څخه چې ددی کلا لوړوالی بیا هم د خرابکاریو اوبشری لاس وهنو له امله خوندی پاتی ی.

اودا یوازنۍ کلا ده چې تر ننه پورې یې د کلا د باندنیو او دننیو برجونو ډېر شواهد باقی پاتی دي چې شکل او محکموالی او د ابادۍ د زمانی دبدبه یې په ډېره ښه توګه تصور کیدای شي...

خیسار په مستقیمه توګه د تیوری په جنوب غرب کې پروت دی په ناصری طبقاتو کې په څرګنده توګه د کومی کلا څخه یادونه نه ده شوی مګر د پنځو غرونوپه باره کې خیسار یا (خج خیسار)) راغلی دی چې دی غره ته نن د جهان د کلا ګانو غر ویل کیږی او دا غر د غور د ډېرو ښکلو او لوړو غرونو څخه دی.

(د غور تاریخي جغرافیه ۸۱ مخ)

بیا هم د خیسار د نامی او تاریخی کلا د ټولو محتویاتو او شهنامو په هکله احمد علی کهزاد په پوره تفصیل او زور او زیر سره بحث کړی او هغه یې معرفی کړی ده او دادی د هغه د بحث په اخر کې د حسن توصیف په توګه تری لاندنۍ برخه را اخستل کیږی:

((این قلعه، موقعیت و سبك آبادی آن ذوق و سلیقه، احساسات و افکار و روحیات ملکان و سلاطین غور را در نظر متسجم میکند. کوه نشینان از او وراد مردان ازادمنش کوه پایه هاي غور که هیچګاه به اسارت تن در ندادند[۱]

(۶۰۰ هـ په حدودو کې د کرت د کورنۍ د لومړی حکمران تاج الدین عثمان مرغنی مقرۍ سیفی هروی وایي چې د خیسار کلا د ډېر زیات جګوالی او

(۱) پژواك عتیق الله، غوریان، انجمن تاریخ، ۱۳۴۵. کابل، ۳۲ مخ.

محکموالی په وجه د هیڅ یو یرغلگر ځواك له خوا نه اشغال شوی نه ده [۱] همدا شان مورخانو او جغرافیا پوهانو ددی کلا د آبادۍ، ټینگوالی او عظمت څخه یادونه کړی ده د غزنویانو د زمانی ستر مورخ بیهقی څو ځایه له دی کلا څخه یادونی لری او په ناصری طبقاتو کې لکه چې وویل شو د غور د پنځو لوړو غرونو چې هغه د عالم د غرونو راسیات (راسیاتجبال عالم) دی هم د خیسار په هلکه تذکرات لری. لکه پنځم دخیسار غر دی چې لوړوالی او اوږدوالی یې له وهم او گومان او ذهن څخه بیرون دی.

سیفی هروی چې د ناصری طبقاتو له مولف څخه یې سل کاله وروسته خیسار لیدلی دی د خپلو سترگو لیدلی حال داسی بیانوی:

((قلعه محروسه خیسار که به حصانیت و اعتدال هوای روح پرور، عذوبت آب خوشگوار و طیب خاك مشك امیز، و کثرت اشجار مثمره و الوان فواکه خضارت راحین معطره و فراهت بساتین پر ریاحین مثال در شرق و غرب گوش هیچ واصف و واقف نشنود و شبیه او در برو بحر هیچ سیاح و مباح ندیده است.))

له کومه ځایه چې خیسار د دومره رنگینو او ښکیڼو درلودونکو وُ نو ویلای شو چې د خیسار کلا او ښار به هم دغسی صفتونه درلودل.

په مخکنیو کتابونوکې مو داسی لوستلی دی، دنړۍ له پخوانیو مولیدلی او اوریدلی دی چې هیڅ یو پاچا، شهریار او شهنشاه د خیسار په ټینگه کلا لاس نه دی بر شوی. لکه چنگیزهم ددی کلا د نیولو څه عاجزه شو نو یې د هغی د فتحه کولو په غرض نقاشان او رسامان هلته ولیږل تر څو هغه کلا وگوری او نقشه یې چنگیز ته راوړی. نو هغوئ چنگیز ته د قلعه د نقشی راپور داسی وړاندی کړ:

---

(۱) جوزجانی منهاج، ناصری طبقات ۱ ج، ۶۵۸ هـ. ۳۳۸ مخ.

((چون نقش بندان ماهر و چهره شناسان حاذق به خامه قدرت و پرکار حکمت و اقلام بدایع و رنگ امیزی دل انگیز مثال قلعه خیسار را بر کاغذ نقش کرد پیش چنگیز خان ادرد...))

ددې کلا د محکموالی اومتانت په باب، روضات الجنات في اوصاف مدینه هرات د معین الدین محمد الزمجی اسفزاری په اثر کې هم ځینی مطالب منعکس شوی دی کوم چې په ۸۹۷ - ۸۹۹ هـ کې یې لیکلی دی [۱]

**د خیسار د کلا په باب تاریخي پیښې:**

د ملك سلطان غیاث الدین په زمانه (۵۵۸ هـ) په حدود کې خپل زوی او خپلوانو ته ایالتی حکومت او ناحیې ورکړې – د خیسار کلا یې خپل ورور تاج الدین عثمان مرغنی ته چې د مخه تری یادونه وشوه ورکړه او ورته یې وویل: ((چې ښه یې ساتی!))

- د کرت او خراسان پاچاهانو همیشه ددی کلا نیولو ته پسخیدل او بیا کله چې چنگیز خپلی لښکری د خراسان د مملکت سیمو ته ولیږلی هر ښار او هره کلا چې یې په مخ ورتله ویې سیزله، خو یوازې د خیسار د کلا په نیولو بریالي نه شو.
- دخیسار د کلا د نیولو مفکوری د چنگیز د پاره ډېر اهمیت درلود، دا ؤ چې د خپلو زامنو څخه یو تن یې ددی کلا د نیولو په خاطر وګماره چې د یو لښکر سره د غور ولایت ته لاړ شي. په دې ترځ کې د دربار غتانو او د پوځ یو تن مشر چنگیز ته ددی کلاد مشخصاتو په باره کې داسی معلومات ورکړل:

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنون کابل ۱۳۶۰ - صفحه ۷۷.

((... خیسار صفی است بغایت حصین و قلعه ایست عظیم محکم و متین که از عهد سلیمان پیغمبر (ع) هیچ خسرو و صاحب سریر و هیچ پادشاه عالیجاه و عالمگیر بر فتح آن فایز و کامیاب نگشته. بخاطر انکه راهی دارد، چون چشم ترکان تنگ و چون نظر خورده بینان باریك دست سخت و رفت آن مانند عرصه امید و همت ازادگان وسیع و رفیع.

***ملک را از رسیدن بدو گسست امیر — ستاره را بکشاد درش نبود گمان***

***ز افتاب نهاده است افسر بر سر — زجوز هر کمری ساخته بگردن میان***

***هزار بار ز باران بدو زیان نرسد***

***بجای قطره اگر بارد از هوا سندان***

هغه زیاته کړه: که چیرته کوم لښکر هلته لاړ شي پرته له دې چې کوم هدف ته ورسیږي او هغه فتح کړي په ناکامۍ سره بیرته راستنیږي نو ځکه لازمه نه ګڼي چې د پاچا لښکر هلته سوق شي، چنګیز د یو څه سوچ کولو وروسته امر وکړ.
هغه تکړه نقاشان او ماهر جوړونکي دې ورته راوستل شي چا چې ددغه کلا دننه او د باندي ټولي برخي او ترتیبات لیدلي دي، دوئ دې ددغه کلا مکمل رسم وباسي او ماته دې راوړي: د چنګیز دغه مفکوره په حقیقت کې د عسکري خریطې د ضرورت ډېره ښه مفکوره وه چې تر دغه وخته چا په دې مورد کې چا کومه ایجادي نظریه نه وه ورکړې (لیکوال).
نومومړي ماهران دغه کارته وګمارل شو او هغوئ ټولو په پوره موشګافۍ او ډېر دقت سره ددغه کلا نقشه او رسم و ایست او لکه په تیرو پاڼو کې تری یادونه وشوه چنګیز ته یې وړاندې کړ، ده په پوره ځیر سره هغه وکوت او پوره باور یې راغی چې په ربښتیا سره ددې کوټ له نیولو څخه بیوسی دی. نو یې دخپلو سلاکرانو سره تر مشوری وروسته ددغه کلا له نیولو څخه صرف نظر وکړ [1]

---

(۱) دا پورتني موضوع په روضات الجنات بخش یکم ۱۳۳۸ - ۳۵۷ - ۳۵۹ مخونو، تاریخنامه هرات د سیف بن محمد هروي تالیف او ایل قرن هفتم او د شهرهای اریانا په ۷۷ مخ کې بیان شوی ده.

تاریخنامه هرات ددی کلا په اړوند په پوره تفصیل یادونه کوي‌او وایي چې په دغــه اوســپینیزه کــلا کې چــې ډېره ښه هوا . خوړی اوبه او رڼی چینی لري او تــر ډیــره پــوری د خــوراکــی مــوادو ذخــیری پــکې خــوندی دی او دمــدافعی گرده شــرایط پــکی تامین دی [۱] هیڅوك د هغی د تسخیرولو قدرت نه لري.

- د منکو خان د سلطنت (۱۲۵۱ - ۱۳۵۹م) په وخت کې شمس الدین کرت چې په اصل کې غوری او دخیسار د کلا اداره یې په لاس کې وه د هرات ښار یې ونیو (اصطخری ۲۸۵ هـ) وایي چې دغه شمس الدین دکرت د کورنۍ موسس شو د ملك رکن الدين تر مړینی وروسته. طاهربهادر مغلی سردار، دغه ملك شمس الدین کرت په ۶۴۳ هـ په خاصو مراسمو سره د خیسار حکمران کړ.
- په کال ۶۵۳ هـ یعنی لس کاله وروسته شهزاده ارغون خان مغلی، هرات ته راغی د ملك علاء الدین یې ښه پالنه وکړه. په دی وخت کې دده له امیرانو څخه د هند امیر او د نوئین دده سره مخالفت وکړ او د خیسار کلا ته یې پناه یووړله، ملك شمس الدین کرت چې هلته د مغلو لاس پوڅی حکمران ؤ دی یې ونیو او ارغون ته یې واستاوه، تر څو د خیسار په کلا کې د اوسیدلو اجازه ورکړه (روضات الجنات ... ۴۲۷ مخ).

## د ملك شمس الدین په زمانه کې دحکومت مرکز خیسار ؤ (۶۴۳ هـ)

- وایي چې ربیعی پوشنگی د هرات د دربار د شاعرانو صدر د ملك فخرالدین په وخت کې د خیسار په کلا کې بندی ؤ او له هغه ځایه یې دده په نوم یوه قصیده هم لیکلی وه.

---

(۱) ســیف بن مــحمد هروی تاریخنامه هرات، ۱۳۲۶.

- دخیسار کلا چې دخپلې ټینګتیا له پلوه یې په دفاعی برخه کې خپله اتلولی خوندی ساتلې وه او د خپلې زمانې یوه حماسه جوړونکې پدیده ګرزیدلی وه بیا هم له بده مرغه د ملك رکن الدین له خوا په ښې لاس مغلو ته ورتسلیم کړه او خپل لمسی ملك شمس الدین یې مغلی دربار چنګیزته ولیږه [1] چې دده خوش خدمتی ورته ثابته کړی.
- د امیر تیمور په زمانه کې د خیسار له کلا څخه پرته د غور په ولایت کې د بل کوم ځای څخه یادونه نه ده شوی او ددی کلا ځای هم نه دی ښودل شوی (جغرافیای تایخی ایران ۴۴۳ مخ).

په دی ځای کې په ډاګه دا حقیقت څرګندیږی چې دغو نورو کلاګانو د چنګیزی لښکرو د تاړاکونو په مقابل کې سخت مقاومت کړی او د هغوی تر فتحې وروسته، د هغوی له خوا نه په وحشیانه ډول ورانی شوی او نښې نښانې یې له منځه تللی دی. خو د خیسار کلا د زیات محکموالی او قهرمانه مقاومت باوجود – د مغلو د لاس پوڅی حکمران له خوا په ډېره بې ننګۍ هغوئ ته ورتسلیم شوی او دا ده چې خوندی پاتی شوی ده.

## ۵ – د آستیه کلا (ښار) ۱۱۸۰ – ۱۱۸۱ م)

## ۵۴۳ – ۵۴۴ – ۵۵۸ هـ ق

د یاقوت په قول استیه هم د غور د مشهورو ښارونو (کلا ګانو) څخه دی د سوری سلطان (سلطان سیف الدین سوری ۵۴۳ – ۵۴۴ = ۱۱۸۰ – ۱۱۸۱ م) په زمانه کې دا ښار د غور اداری او سیاسی دارالملك په توګه وټاکل شو. نوموړی د غوریانو لومړنی پاچا دی چې په دی لقب (سلطان) باندی یادیږی.

---

(۱) میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه بیهقی مطبعه دولتی، ۱۳۴۶ کابل، ۲۳۸ مخ.

د استیه کلا په ناصری طبقاتو کې د غزنی او هرات تر منځ پرته ده. مشخص موقعیت او بیاد ایښودونکی یې معلوم نه دی.

د سلطان غیاث الدین محمد د بل ورور (ابو المظفر معز الدین چې د غور د سترو پاچاهانو له جملې څخه و) او خپل ورور یې د سر جاندار (جبه رسان، د ګارد قوماندان) په توګه د غور دکجوران او استیه د کلا د حکمران په توګه وټاکه (۵۵۸ هـ - ۱۱۹۵ م)

د استیه تایخ د هجری قمری د شپږم قرن د نیمایی پوی تعلق لری.

## ۶ - د زرنی کلا (ښار)

**۱۳۹ هـ ق؟**

فرانسوی جنرال فریه چې په ۱۸۴۵ م کې د غور د بیلا بیلو سیمو څخه لیدنه کتنه کړې ده وایي چې په پخوا زمانو کې د غور د پایختونو له جملې څخه او د هغه دوری د ابادو ښارونه څخه زرنی هم شمیرل کیدله. دی زیاتوی دلته خرابی یو پر بل باندی پرتی وی.

زرنی د مساحت له مخی یو کوچنی ښار و او په یوه کلا کې چې د تیږو او خښتو څخه جوړه شوی وه او زیاتی برخی یې نړیدلی وی محاط و.

د زرنی د وادی په منځ کې یې ددی ښار د جوړولو د پاره یې ډېر ښه موقعیت انتخاب کړی و چې د تپی شاوخوا یې په ونو پټه وه او هری خواته یې ویالی کړی وړی رابهیدلی.

زرنی له هراته ۴۰ فرسخه مسافه لری او نفوس یې له ۱۲۰۰ تنو څخه تیری نه کوی چې له سوریانو او تیمنی ګانو څخه متشکل و.

د ګبر څو کورنۍ چې د لومړی ځل د پاره ورسره په افغانستان کې مخامخ شوم همدلته مې ولیدل. نورو مورخینو هم په خپلو لیکنو کې زرنی د غور لرغونی پایتخت ګڼلی دی. چې د غوریانو د واکمنۍ د برم او دبدبې په وخت

کې د غور په جنوبي غرنیو سیمو کې یو ودان او معمور ښار وځ، خو دوئ هغه ماخذ ته اشاره نه وه کړې. او یا دا چې ((وزنی)) یا ((ورنی))؟ که د طبقات ناصری مولف د غور د پنځو غرونو د یادونی په ترځ کې هغه ((راسیات جبال عالم)) بولي خو دکوم سند او ماخذ ذکر نه کوي.

مګر زیات شمیر پوهان همدا زرنی د غور د پایتخت په شکل پیژنی نه بل کوم په دی ورته نوم ښار. احمدعلی کهزاد چې له دی سیمی څخه یې لیدنه کتنه کړې او یو لړ څیړنی یې سرته رسولی دی وایي چې زرنی یو لوی کلی دی چې د تیوری په جنوب کې موقعیت لری او د ننی غور له مرکز څخه د ((آبه)) او ((دو رودی)) له لارو څخه ۶۰ کیلومتره لیری پروت دی.

د زرنی کلا د یوی غونډۍ د پاسه پرته ده چې د ختیز له خوا د پنج شاه په غره، د جنوب له خوا د نمکه غر او د لویدیز خواته یې خچه ګګ لورته غرونو احاطه کړې ده.

زرنی، نیلی او د مژګان دره د غور ډېری جنوبي څنډې ګڼل کیږي چې دکندلان بالشتان، ګلستان، زمینداور او ګرمسیر سره ګاونډیتوب لری.

کهزاد د طبقات ناصری روایت ته په اشاری سره دا هم زیاته کړې ده چې:

د زرنی د موجوده کلا ګنجایش (ابعاد) د کجوران دمقر څخه مایندګی کوي.

دکلا حجم د غور د ډیرو زیاتو پخو، ښکلو او لوړو کلاګانو څخه دی.

د زرنی په لویدیز افق کې د لومړنی غره (پنج شاه) په پوزې او د زرنی په نژدی سیمو باندی حاکمیت لری او د هغی ښخو شوو خزانو په هکله داستانونه لیکل شوی دی. د تاریخی اسنادو په اعتبار د زرنی نوم بیخی موثق دی.

نعیمی لیکی که د غور جغرافیه وکتل شی د زرنی د اوسنی ښار او سیمی په هکله (هولدج) او دفریه په تفصیل سره خبری کړې دی او په هم هغه موقعیت کې چې زرنی پرته ده موږ یې پیژنو [۱]

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، مطبعه پوهنتون ۱۳۶۰ کابل، ۷۱ - ۷۳ مخونه.

په تاريخي اسنادو کې چې ما ترې استفاده کړې د زرنی د ښار يا کلا ښستې اينښودونکی نه دی ښودل شوی،همدا شان دغور د پاچاهانو څخه دمشخص پاچا نوم پکی نه دی اخستل شوی او ددی تر څنګ د زرنی په تړاو تاريخی پيښنی نه دی بيان شوی. خو د پورتنيو څيړنو څخه داخبره بيخی جوته ده چې د زرنی کلا د ستراتيژيکی وضعيت له مخې په مناسب محل کې جوړه شوی او تدافعوی اهميت يې خورا زيات دی.

## ۷ - زميندا ور کلا (ښار)

## ۱۳۹ هـ ق

زميندا ور (د اروانښاد علامه رشاد په قول) د غور د غرنيو سيمو جنوب خواته په منځنيو پيړيو کې د هلمند ولايت په شمالی سرحدونو کې پروت دی. چې د غور واکمنانو دژمنۍ پلازمينی په تيره بيا د غور د ستر سلطان غياث الدين (۵۵۹ - ۵۹۹ هـ) د سلطنت پايتخت وُ. که څه هم دلته له پخوا نه د غور واکمنانو استفاده کړله خو د پټې خزانی په حواله امير کروړ د سوری امير پولاد زوی ۱۳۹ هـ په مورد کې ويل کيږي.
چې امير کروړ به په دوبی (زميندا ور)کې وُ او هلته به يې ماڼۍ درلودله چې کټ مټه د منديش د ماڼۍ غوندی وه او په دغه ځای کې يې ښکار کاوه او عشرت [۱] بايد وويل شی چې د غور ددی ژمنی پايتخت زيات سياسی اهميت دسلطان غياث الدين د سلطنت په زمانه کې ښه پيژندل کيدای شي، چې له دی ځای څخه يې په ټول افغانستان، هندوستان او د ايران په يوه برخه حکمرانی کوله. په دغه زمانه کې په ((داور کې يې يو ښکلی او له دبدبی ډك

(۱) محمد بن داؤد هوتك - پټه خزانه دوهم چاپ، پوهنی وزارت مطبعه، ۱۳۳۹ کابل، ۳۲ مخ.

باغ جوړ کړی وُ چې د باغ ارم (باغ حرم) په نوم يادیده او قاضی منهاج سراج د سلطان غياث الدين په يادونه کې له دی باغ څخه هم يادونی لری.
داسی روايت دی چې نوموړی سلطان د ځوانۍ په لومړی وخت کې یو لوی معاشر وُ او ښکار يې خوښاوه. د فيروز کوه له ارګه چې دده پلازمينه وه دزمینداور تر ښاره پوری چې ژمنی دار الملك و هيڅ ژوندی ته اجازه نه وه چې ښکار وکړی.
ددی دواړو ښارونوترمنځه واټن ۴۰ فرسنګه وُ.
نوموړی په زمینداور کې چې کوم باغ جوړکړی وُ، د باغ ارم نوم يې پری ایښودلی وُ او الحق چې د دنيا پر مخ د ښکلا او تازګۍ له مخی هيڅ يوه پاچا داسی باغ نه درلود، اوږدوالی يې له دوو ميان دارو څخه زياتښت کاوه ټولې چینی يې د رياحيو په بوټو ښکلی کړی شوی وی سلطان امر کړی وُ چې ددی باغ تر څنګه يو ميدان جوړ کړی چې ددغه ميدان اوږدوالی اولنډوالی سره مساوی يعنی مربع شکل دی او هر کال به يې يو ځل فرمان ورکاوه چې د ۵۶ فرسنګو له نژدی سیمو څخه لس زره ښکاريان دغه ميدان ته راټوليدل او په دی ترتیب دښکاريانو پرتمين جشن به يې جوړاوه [(۱)] خو اوس په داور کې په دی نامه کوم باغ نشته دی او په قوی احتمال سره کیدای شي چې دا باغ په باغران کې چې په تاريخی زمینداور کې پرت دی وموندل شی ځکه چې په اصل کې دغه باغ – باغ ارم وُ. او د وخت په تيريدلو سره په باغران اوښتلی دی.ددی په خوا کې يو بل دليل هم شته دی چې په دغه ولسوالی کې اوس هم طبيعی ښکلی منظری، خود رويه ښکلی ګلونه او زيات شمير ځروبی موجود دی او د قاضی منهاج هماغه خبره رايادوی چې دلته باغ ارم جوړ شوی و.

---

(۱) عتيق الله پژواك، غوريان، انجمن تاريخ، مطبعه دولتی، ۱۳۴۵ کابل، ۷۱ – ۷۲ مخونه.

نن زمینداور په کوچنی کلی بدل شوی چې د هلمند ولایت دموسی قلعه د دریو میلو په مسافه جنوب خواته پروت دی. دشمال خوا نه د هلمند د باغران د ولسوالۍ او د جنوب له خوا نه د هلمند د ښپانده رود او د شرق له خوا د ازرګان ولایت او د دهراوت ولسوالی او د لویدیز له خوانه د موسی کلا سره نښتلی دی (۱)

## ۸ - د بامیانو کلا (د غلغلی ښار):

### د غلغلی د ښار بالاحصار

### ۵۴۰ هـ ۵۵۸ هـ ق - ۶۱۸ هـ ق

د غوری دولت د پلازمینو څخه یو هم په بامیانو کې د غلغلی ښار دی. پخوا تردې چې بامیان د شنسب د کورنۍ سیاسی مرکزیت وګرزی د غلغلی ښار د بودایی مذهب یو مرکز ؤ او د نړۍ له هر ګوټ څخه دهغوئ د مشهورو مجسمو د زیارت په مقصد ورته زایرین راتلل او بیا هغه وخت چې دغوریانو سیاسی نفوذ په دغه سیمه کې پراختیا پیداکړه او مسلمانان ورته راغلل نو یې وغوښتل چې په اسلامی سبك یو ښار او یومرکز دلته ودان کړی، همدا وجه وه چې د بامیانود غلغلی ښار چې د اسلامی دوری دخصوصیاتو مرکز ؤ د شنسبانو دکورنۍ دسلطنت تر تاسیس وروسته د سلطان علاءالدین حسین جهانسوز په لاسونو تاسیس او د شنسبانو لومړنی امیر ملك فخر الدین مسعود بن جنین شنسبی چې دعلاء الدین حسین مشر ورور ؤ په بامیانو کې قدرت ته ورسید او ( ۵۴۰ هـ - ۵۵۸ هـ. پوری یې پاچاهی وکړه. دی پاچا د شغنان، طخارستان د غرونو سلسلی، د درواز، بلور اوترکستان تر پولو

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل - ۱۳۶۰، ۴۹ - ۵۰ مخ.

پوری د خپل دولت نفوذ ورساوه، خشن او بدخشان يې په خپل واك کې راوستل.

د شنسب دکورنی پنځو تنو په باميانو حکومت وکړ او وروستنی امير يې علاء الدين مسعود بن شمس الدين محمد وُ (۶۱۰ هـ په حدودکې)، تر ده وروسته جلال الدين منکبرنی د خوارزم د شاهی کورنۍ څخه د سلطان محمد خوارزم شاه زوی د يو څو مودی د پاره په باميانو حکومت وکړ. ترڅوچې دا ښکلی او تاريخی ښار د چنګيز دحملو له لاسه په۱۲۲۲ م) وران او دخاوروسره خاوری شو.

نن ورځ ددی ښار خرابی د بودا د سترو مجسمو په مقابل کې د يوی جګی تپی د پاسه پرتی دی، او ددی ښار اصلی اوسيدونکی دا ښار ډېر لوی باله او ويل يې چې دده لمنی د پولادی درې يعنی د شمال غرب خواته د ښار د ډيرو ليريو سيمو پوری پراختيا درلودله. ددی ښار له مخروبو څخه يو پخپله ارګ دی چې د تپی د پاسه په ځانګړی توګه واقع وُ او نوری بقاياوی يې اصلی ښار دی چې د سمڅو او خرابو په شکل ليدل کيږی. دا ښار په سپږمه هجری پيړۍ کې ډېر اباد او زيات جمعيت يې درلود، تجارت او صنعت پکی زياته ترقی کړی وه، او تجارتی کاروانونه له جنوب شمال ته او له شماله جنوب ته تګ او راتګ درلود او د غلغلی ښار يې دمه ځای و. [1] د غور دتاريخی جغرافيا ليکوال د غلغلی د ښار او د هغه د پيښو په باب په تفصيل سره داسی څرګندوی کوی:

... د يوه لوی ديوال په مقابل کې دبودائی مجسمو د جهان تپی ډېر لوړی مجسمی په زرنيخی رنګ نيمه مخروطی شکل د باميانو دنرۍ او به بنی

---

(۱) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور، انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰، ۵۱ - ۵۲ مخونه.

څنډی ته د سړی پاملرنه ځانته را اړوی چې هغه د غلغلی ښار د بالاحصار څه عبارت دی.

د ښار لمنه د بالاحصار د احاطی څخه څو کرته پراخه ده. پخپله د غلغلی ښار په تاریخی ماخذونوکې لیدل شوی نه دی خو د بامیانو کلا یا کلاګانو، لکه ضحاك او سرخشك ته اشاره شوی ده.

ددی ښار اوسیدونکو د شپږمی هجری پیړۍ په لومړیوکې په سمڅو، پخو ودانیو بارو، لویو برجونو، د پخو او اومو خښتو او تیږو څخه په جوړو شوو ودانیو کې ژوند کاوه وروسته تر هغی چې علاء الدین محمد خوارزمشاه د ۶۰۷ - ۶۱۱ هـ کلونو په حدودو کې د غوریانو او غزنویانو اردوګانو ته ماتی ورکړه زوی یې جلال الدین د غلغلی په ښار کې خپل مرکزیت ټینګ کړ تر څو چې د چنګیز وحشتناکه هجوم د شمالی برخو څخه د هندوکش جنوب ته سرایت وکړ.

چنګیز په زیات ګومان سره د شکاری له دری څخه بامیان ته راننووت او د ضحاك په ښار کې چې د بامیانو د شمال ختیز په (۱۷) کیلومتری کې یې خرابي موجودی دی چیرته چې د بامیان او کالو ښار دسالخوی اوبه سره یو ځای کیږی او کله چې موتی جن د چغتای زوی او د چنګیز لمسی ووژل شو، نو چنګیز قسم وخوړ چې په ښار کې به په نوم ژوندی، انسان وی که حیوان ژوندی پاتی نه شی، نو د غلغلی ښار یې تر ډېر مقاومت وروسته په ۶۱۸ هـ) کې د خاورو سره خاوری کړ.

د مغلو فاتح ښار ته اور واچوواو هغه څوك چې د اور له لمبو څخه په امان پاتی شوی وو له یو سره یې ه تیغه تیر کړل. او بالاخره د غور شنسبیانواو خوارزمشاهانو دعلم دوستو او هنر پالونکو پاچاهانو د ((ازادګان)) کلا دغه د علم او فضلیت او هنر کاتون په خپله اصطلاح (ما او بالغ) یعنی دمغصوب او نحس ښار لقب ورکړ.

د غلغلې جنوب شرق ته د غلغلې خرابې د سید آباد په کلې کې د یوه مستطیل شکلې کلا بدنه د لوړو دیوالونو سره موجوده ده چې د غلغلې د ښار د وګړو د ورځنیو محاورو له مخې د ((قلعهء دختر)) په نوم مشهوره ده.
په دې هکله زیاتو پوهانو لکه پروفیسور هاکن فرانسوی مشهور لرغون پیژندونکی، پروفیسور مینورسکی او داسې نورو پوره څیړنې تر سره کړې دي. او د غلغلې د ښار ریښې یې بیان کړې دي.
پر دې اسنادو برسیره د غلغلې د کلا دوه یادګاره هم د کابل په موزیم کې موجود وو چې یوه یې د لرګي دروازه چې د هغې په پورتنۍ برخه کې یې په کوفي رسم الخط (الملک الله) لیکلې شوي او بل یو خطي کتاب چې په فالنامو مشهور دی‌او هغه دڅو رسالو څخه عبارت دی او ځینې نور یادداشتونه کوم چې په **۵۸۳** هـ کې لیکلې شوي دي. او د شنسباني دوهم امیر ملک شمس الدین د ملک فخرالدین زوی د سلطان د دورې سره مطابقت لري چې تر **۵۸۶** هـ کاله پورې یې په بامیانو کې سلطنت کړی و. [۱]

## ۹ – د غزنه کلا (ښکار)

**۵۹۵** هـ ش – **۶۱۲** هـ ق

د غور پاچاهانو د لویو سیاسي مرکزونو څخه یو هم د غزنه ښار و چې هلته د غوري کورنۍ پنځو تنو سلطنت کړی دی. او لوی پاچا یې غوري سلطان مغرالدین و چې د غور او حتی د ختیز دسترو پاچاهانو څخه شمرل کیده، دی علم دوست او مدنیت پالونکی پاچا د غزنی د ښار بیاجوړونې ته چې د علاء الدین جهانسوز له لاسه د خاورو سره خاوري شوی و ملا وتړله او تر یوه حده پورې یې د غزنین ښار بیا ودان کړ.

---

(۱) عزیز احمد پنجشري، جغرفیای تاریخی غور، د کابل پوهنتون،کابل، ۱۳۶۰، ۱۱۱ – ۱۱۳ مخونه.

په دی دوره کې د غزنه د سیاسی قلمرو پولی د ختیز خواته د کنګا تر غاړو. له لویدیزه دخراسان خوارزم د سیمو او دنسا او بارورد پوری اوږدوالی درلود او دجنوب له خوا نه د عرب د بحیری سره نښت. نوموړی پاچا په ۶۰۲ چې دچنګیز د وتلو کال دی مړ شو ښایي وویل شی چې د سلطان معزالدین غوری ژمنی پایتخت د لاهور ښار او داوړی پلازمینه یې غزنه او خراسان.

**د غزنه پنځه تنه پاچاهان دادی:**

۱ - د سلطان سیف الدین سوری **۵۵۱** هـ

۲ - سلطان معزالدین غوری **۵۶۹** - ۶۰۲ هـ

۳ - سلطان علاء الدین محمد بن سام ۶۰۲ - ۶۱۲ هـ

۴ - سلطان تاج الدین یلدز المعزی

**۵** - ملك الكريم قطب الدین ایبك العزی (۱)

## ۱۰ - د برکوشك کلا (ښار)

**یا د برکوشك مانۍ (سلطان کوشك)**

**۱۳۹ هـ ق - ۸۵۶ م - ۶۱۱ هـ ق**

د برکوشك کلا (مانۍ) په فیروز کوه کې پرته وه. یا په بل عبارت د فیروز کوه له ښارونو څخه یو هم د برکوشك ډېره مجلله، اوله عظمته ډکه د غوریانو د دورې ودانی ده چې د احنف بن قیس له خواجوړه شوی ده دا هماغه مانۍ ده چې د پاسه یې په سرو زرو مرصع کنګری. درو مترو په لوړوالی او د دوو مترو په سور جوړی شوی دی او د سرو زرو دهما مجسمه د

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، ۵۲ - **۵۳** مخونه.

اوښ په اندازه پرې نصب شوې ده [۱] برکوشك هغه قصر دی چې په فیروز کوه کې اباد شوی اوپه ناصری طبقاتو کې تری داسی یادونه شوی ده ((برکوشك قصریست در میان فیروز کوه که درهیچ ملك و حضرت مثل آن به ارتفاع و تدویر و ارکان و منظره ها رواقات و مشرفات هیچ مهندسی نشان نداده است، و بالاي قصر پنج کنگره ازین مرصع نهاده اند.
هریك به ارتفاع سه گز و چیزی در عرض دو گز و دو همای زرین هر یك به مقدار شتر بزرگ نهاده به آن شرفات زرین (هما) [۲] په پورتنی اثر کې ددی ماڼۍ څه په مکرره توګه یادونه شوی ده او وایي چې دامانۍ د یو لوړ غر د پاسه پرته ده او له همدی امله ورته بر (پورته) ویل کیږی چې په لوړتیا او جګوالی کې یې ساری نه درلود او د فیروز کوه له نامتو ښارونو څه ګڼل کیږی [۳] څرګنده ده چې په فیروز کوه کې د برکوشك برسیره نورو مشهورو کلاګانو هم موقعیت درلود. د برکوشك ماڼۍ دمعمارۍ د صنعت له پلوه د هغی منظری، رواقونه (ګنبدیزی طاقچی) او داسی نور تزئیناتی ترتیبات په ډېر مقبولیت سره کار شوی دی.
په همدی ډول ددی ماڼۍ د مهندسۍ چاری په ډېرو لوړو هنری معیارونو تر سره شوی دی. چې دنړۍ په نورو مدنیتونو کې یې بیخی نظیر نه دی لیدل شوی.
د ماڼۍ د پورتنیو مشخصاتو په تائید ویل شوی چې دی ماڼۍ پنځه کتاری (کنګری) درلودلی چې هر یوه یې ۲ په ۳ ګزو کې اوږدوالی درلود. د سرو زرو او جواهراتو څخه جوړی شوی وی او دوه طلایی هما چې هر یو یې د اوښ په اندازه لوی وُ د ماڼۍ دپاسه ځای په ځای شوی وُ.

---

(۱) میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، بیهقی کتاب چاپولو موسسه، دولتی مطبعه ۱۳۴۶، کابل، ۱۳۴ مخ.
(۲) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری ج ۱، ۶۵۸ هـ ۳۷۵ مخ.
(۳) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ج ۲، ۶۵۸ هـ. ۳۸۲ مخ.

ددی مانۍ د کتاري دا دوه سیمرغه سلطان غیاث الدین د اجمیر تر فتحی وروسته د تحفې په ډول دنورو سوغاتونو سره یو ځای د غور د لوی سلطان غیاث الدین د پاره فیروز کوه ته رالیږلی و. [1] چې له دی جملې څخه زرینه کړۍ، د زرینو ځنځیرونو سره د یوی جریری ( ) چې پنځه په پنځه مترو کې یې دایره وه د زرین کوس (غږې) چې په ګردونه (څرخ) یې څرخاوه د سلطان غیاث الدین په امر دغه حلقه او جریره یې د فیروز کوه دجومات په طاق کې ځوړند کړل او کله چې یو وخت داجومات سیلاب وران کړ نو یې هغه د هرات جومات ته ولیږله او بیا څه وخت چې د هرات جومات ویجاړ شو، دهمدغو قیمتی شیانو په (وجوه) ارزښت یې هغه بیا له سره ودان کړ [2] د برکوشك مانۍ د ډیرو نورو لوړو کلاګانو غوندی په (۱۳۹ هـ = ۸۵۶ م) کې د امیر کروړ په واك کې وه.

دنورو پیښو تر څنګ یوازې دا پیښه په تاریخ کې په مشخص ډول د برکوشك په اړوند ضبط شوی ده:

کله چې ملك ضیاء الدین (ملك علاء الدین) په فیروز کې پاچا شو (۶۱۱ هـ) نو یې د برکوشك ښار او مانۍ محاصره کړه تر څو یې ملك علاء الدین ازاد کړ او غزنی ته یې بوت [3] البته دا دوهم علاء الدین بل شخص وې چې پخوا په دغه مانۍ کې بندی ساتل شوی وې په پټه خزانه کې د برکوشك د مانۍ په باب ویل شوی دی (۳۲ مخ):

---

(۱) شهزاده سیف زی، مدنیت غوری در افغانستان، پوهنځی ادبیات و علوم بشری کابل، ۱۳۵۵ - ۲۳ مخ.

(۲) عـزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ - ۶۵ مخ.

(۳) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری ج ۲، ۶۵۸ هـ - ۳۸۲ مخ.

((وايي چې د غور کوټونه، د بالشتان او خيسار او تمران ماڼۍ او برکوشك يې تول ونيول.))

## ۱۱ - خول ماڼۍ (کلا

### قلعه سنگی يا سنجه

۱۳۹ هـ ق

خول ماڼۍ دغور دخاوری دنامتو کلاگانو څخه شميرل کيږی چې د جوړيدو دقيقه نيټه يې معلومه نه ده. خو ويل کيږی هغه چا چې داکلا بنا کړه هغه سلطان حسين غازی امير فخرالدين ؤ چې د ۵۴۰- ۵۵۸ هـ تر منځه يې ژوند کاوه.

دا ماڼۍ د غزنويانو او غوريانو د دوری په تاريخ کې زيات شهرت لری. د خول ماڼۍ دکلا موقعيت په غرجستان کې دی سنگه او يا قلعه سنگه هم ورته ويل کيدله ددی‌کلا نوم د غور دنورو ځايونو په شان سوچه پښتو دی او له دوو کلمو څخه مرکب دی خول ((کلاه اهنين)) ماڼۍ د (قصر) نو خول ماڼۍ هغه قصر ته وايي چې د خول په شکل جوړه شوی وی، يعنی کيدای شي دا شاهی ماڼۍ په همدی شکل ودانه شوی وی او دا يوه هغسی ماڼۍ ده چې د پاچاهی تاج د په سر کولو مراسم پکی سرته رسيدل (۱) خو زما په عقيده دا ښکلی او د پاچاهی ماڼۍ نه يوازی دا چې لوی سياسی او اداری مرکز ؤ د نوم په اعتبار يوه ډېره پخه او مستحکمه کلا وه چې د هر ډول تجاوز ګرانو د تجاوز په مقابل کې يې دفاع کولای شوه.

د قاضی منهاج سراج په قول قلعه سنگه د منديش دار الملك دی او خول ماڼۍ ورته وايي ياقوت ليکی چې سنجه (سنگه) او بيوار (فيوار) د غرجستان له ښارونوڅخه دی مگر هيچا د هغی د موقعيت په باره کې څه نه

---

(۱) قاضی منهاج سراج، ناصری طبقات، ۲ ج، ۶۵۸ - ۳۶۴ مخ.

دی ویلی. دهغه ځای اوسیدونکو څخه یوازې یوه تن راته همدومره وویل: چې دا دواړه ښارونه په غرینو سیمو کې پراته دی. [۱] پورتني اثر په یوه بله برخه کې ددی کلا په باب بیا داسی لیکي:

سلطان سوری چې استیه یې پایتخت و بهام الدین سام ته یې قلعه سنګه ورکړه چې د مندیش دار الملك وئ. جغرافیای تاریخی غور د قلعه سنګه (خول ماڼۍ) په باره کې یو څه تفصیلی معلومات وړاندی‌کوی او وایي:

خول ماڼۍ (قلعه سنګه) چې د خیسار کلی ته نژدی پرته ده له یوی مخی له تیږو څخه جوړه شوی ده چې همدا اوس د هغی مخروبې موجود دی دی.

فرانسوی جنرال فریه هغه وخت چې یې د غور څخه لیدنه کوله د تیوری د شمال ختیز په څوفر سنګۍ کې یې د دریو لویو تاریخی کلا ګانی خرابې ولیدلی چې د خیسار کلا، سنګی قلعه او فخر اباد د کلا څخه عبارت دی. نوموړی لیکی:

سنګی کلا د خیسار کلا ته نژدی پرته ده او هغی ته له دی کبله سنګی وایی چې له تیږو څخه جوړه شوی ده دا کلا لوړ برجونه لري.او احاطه یې له لویو او زړو تیږو څخه جوړه شوی ده چې له سیمتو څخه یوه د بل د پاسه ایښودل شوی او ډېره پخه ده ځکه چې د زمانی د حوادثو په مقابل کې یې پاینښت کړی دی او له منځه نه دی تللی بلکې ددی کلا له جوړښت څخه داسی ښکاری چې په یوه زمانه کې د اوبو د دوو مجراګانو څخه چې د خیسار د اوبو د مجرا له ډوله دي دغه کلا ته اوبه رسول کیدلی او اوبه یې په یوه لوی ټانګ (حوض) کې چې د کلا په مرکز وئ ذخیره کیدلی.

دجنرال فریه د وینا له مخې ددی کلا په اطراف کې پخې ستنی موجودی وی او دا پاتی شونی اثار داخبره په ګوته کوی چې پخوا ددی‌کلا د بهرنی دیـوال

---

(۱) منهاج سراج، ناصری طبقات، ۲ ج، ۶۵۸ - ۳۳۵ مخ.

(ديوان، ربض) په واسطه ساتل کيدله [۱] د فريد د معلوماتو له مخې ددې کلا په چاپيريال کې پخوا ستنې (ستونونه) موجودې وې چې د پاتې شوو اثارو په شهادت پخوا د ايوان (خارجي ديوال) په واسطه احاطه شوې وې. د شمال شرق خواته يو سرك ښکاري چې د تيږو د ټوټو په واسطه ډير محکم فرش شوی دی او ويل کيږي چې داسرك تر غزني پورې رسيږي، دا ډول سرك په منځنۍ اسيا کې يو غير معمولي کار دی چې په قلعه سنګه کې تر سترګو کيږي.

اوس په دې کلا کې څوك هستوګنه نه لري اويوازې شاوخوا يې په ګڼو ونو پټه ده مستر فريه زياتوي.چې الکوزي يارمحمد د هغه وخت دهرات والي د دا ډول خرابو څخه سخت ډاريده، ځکه نو ويل کيږي چې له دې مخروبو څخه د باغيانود پناه ګاګانو په مقصد کار اخستل کيده نو يې امر وکړ چې د خاورو سره يې خاورې کړي [۲]

## ۱۲ - د کاليون کلا

۶۱۹ هـ ق

کاليون يا کليون په غور کې يوه پوځې کلا او عسکرې ښار و چې دهرات په ۲۰ فرسنګۍ کې پرته ده او د چنګيز د حملو په مقابل کې يې د زيات مقاومت ښوولو له امله د يادونې وړ زيانونه وګالل خو اوس ددې کلا محل معلوم نه دی. خو په قوي احتمال سره مکن داکلا د غور په غرجستان کې موقعيت ولري.

---

(۱) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخي غور، پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ - ۱۷۷ مخ، د پژواك د غوريانو اثر په حواله ۳۲ مخ.

(۲) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخي غور، پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ - ۱۷۷ مخ د پژواك د غوريانو اثر په حواله ۸۴ - ۸۵ او ۱۷۷مخ.

د اومی هجری په لومړنیو کې (۶۱۹ هـ) دوه ستری او مشهوری کلاگانی (کالیون او فیوار) وې چې لس فرسخه یو له بله لیری پرتی وی او د مغلو د حملو په وجه د خاورو سره خاوری شوی ددی دواړو کلا ګانو موقعیت په داسی ترتیب هسی انتخاب شوی وو چې یوه د بلی ساتونکی وه او خبرونکی - (د فیوار کلا په بحث کې پری خبری کیږی).

وایي چې مغل د هرات له نیولو څخه فارغ شواو هغه ښار یې خراب کړ، نو لښکر یې په دوو برخو وویشه چې یوه برخه یې د کالیون کلا ته راغله.

کالـــیون یـــوه داسی پـــخه کلا وه چې په نـړۍ کې په دی مـحکموالی تر فیواره وروسته بله کلا نه وه څه د لوړوالی او جګوالی له پلوه او څه دمحکموالی له مخی.

د نړۍ په نوم استادانو چې په مسلکونو او ملکونو کې یې زیات شهرت درلود ددی کلا په جوړولو کې برخه اخستلی ده. ددی کلا په هکله مفصل بیان داسی شوی دی.

((کالیون حصاریست که از پای شهر هرات تا پای آن قلعه هر که روان شود، بیست فرسنگ روی در بالا و رفعت می باید رفت، تا به پای آن حصار رسند، بعداً یك فرسنگ دگر در بالا باید رفت تا بپای آن حصار رسیده شود، یك فرسنگ دگر در بالا رفت تا بپای سنگ آن قلعه رسید. که بارهء آن بر سر آن سنگ است. و بلندی سنگ او بقدر یکهزار زراع یا زیادت باشد. روی آن سنگ مثل دیوار است که بر رفتن هیچ جانوری بران ممکن نگردد، مگر حشرات ارضي را و بران سنگ صحن بقدر چهار تیر برتاب یا زیادت باشد، و هفت چاه در ان قلعه در سنگ خارا حفر کرده اند و در هر یك چندان آب زاینده باشد که هرگز به خرچ نقصان نگردد، در میان قلعه میدان ایست بزرگ بود و پسران ابوبکر که پهلوانان سلطان محمد بودند، دو پهلوان نامدار و دو زنده کارزار کوتوال آن قلعه بودند)).

داسی روایت دی چې دغه دواړه پهلوانان (وروڼه) د مړانی او زړورتوب له مخې ددی کلا د مشهورو امیرانو څخه وو. دوئ دواړو دومره جګې ونی (قدونه) درلودل کله چې به سطان محمد د اس په رکاب وریورته شو نو بیا به هم د دوئ ونی تری جګې وی [1] قاضی منهاج سراج چې د چنګیز د زمانی مورخ دی ددی کلا د پېښو په تړاو لیکی:

ددغه کلا کوتوالان د ابوبکر دوه نامتو پهلوانان زامن وو.

طغرائی دولت یار اختیار الملك چې د خوارزمشاهی د مملکتونو (ملکونو) له قوماندانانو څخه وُ هم دغه کلا ته راغلی و، هر کله چې د کفارو (چنګزیانو) سره جګړه پیل شوه غازیان او عیاران له کلا څخه راښکته شول او په جهاد یې شروع وکړه او دمغلو زیات شمیر یې دوزخ ته ولیږل، دوئ شپه او ورځ په مرګ او د کفارو د حملو په دفع کولو بوخت وو د کلا اوسیدونکو د زړورتوب کار یو هغسی حد ته ورسید چې د مغلو لښکر د شپې له خوا د دوئ له ډاره خوب نه شوکولای ، کفارو د کلا نه ګرد چاپیر دوه باری جوړی کړی او دوه دروازی یې ایښی وی. د کلا مخ ته او د هغی مقابل ته یې باره جوړه کړه او هلته به یې د شپې ګزمه او بهره کوله، د مغلو د لښکر د ساتنی کار دغه مقام ته رارسیدلی وُ. څه رنګه چې ددی محاصری څخه یو کال تیر شو نو دا وخت ((سعدی چربی)) د مغلی لښکر سره له سیستان څخه راغی او دا وه چې د مغلولو لښکر د کالیون کلا ته ورځیرمه

---

(۱) محمد عثمان صدقی، شهرهای اریانا، ۸۴ مخ.
- محمد عرفان، جغرافیه تاریخی سرزمین های خلافت شرقی، تهران ۱۳۳۷ – ۴۴۲ – ۴۴۴ مخ.
- قاضی منهاج سراج – ناصری طبقات ج ۲، ۶۵۸ هـ. ۱۳۰ مخ.
- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه طبع کتب، ۱۳۴۶ کابل، ۲۱۳ مخ.

شو. دکلا اوسیدونکی دوبا په ناروغۍ اخته شو او له دی امله یې زیات شمیر مړه شول او داځکه چې دکلا ذخیره وچه غوښه او زیاته پسته وه په کلا کې اوه کوهیان موجود وو، ددی غوښې او پستې له خوراکه په هغوئ کی دغه ناروغی ګډه شوه.

د ۱۶ میاشتو وروسته له دوی څخه تر پنځوسو زیات کسان ژوندی پاتی نه شول چې له دی جملې څخه یې شل تنه فاروغ وو. او دیرش تنه نور یې روغ وو، د دوئ له منځه یوتن له کلا څخه د باندی وواته او دښمن ته یې د کلا په باب کیسه وکړه، دا وه چې کفارو ځان کلا ته د ورننوتلو د پاره چمتو کړ. مګر دی پنځوسو تنو شهادت ته ارجحیت ورکړ نو ټول شیان له سرو زرو نیولی تر قیمتی شیانوپوری دا ټول یې په ځاګانو کې واچول او ځینی یې وسیزل، د کلا دروازه یې بیرته کړه، توری یې و ایستلی او د دښمن سره تر سختی جګړې وروسته ټول په شهارت ورسیدل (۱)

پورتنی واقعیتونه د کالیون د کلا زیات ټینګوالی او ژیوپولیتکی اهمیت په ډاګه کوی چې تر اخره پرته له دی طبیعی افت څخه دښمن ونه نیولای شوه او د هغو اوسیدونکو په ډېره اتلولۍ سره تر وروستنۍ فرد پوری شجاعانه دفاع وکړه.

## ۱۳ - د فیوار کلا:

### ۵۴۴ هـ ق - ۱۱۴۹ م - ۶۱۷ هـ ق

د غور د هغو کلاګانو څخه چې د پوځی استحکاماتو له مخې ډېری پخی او مستحکمی او مشهوری وی د کالیون او فیوار کلا وی دی، چې د لسو فرسنګونو په مسافه یو بل ته نژدی پرتی دی.

---

(۱) منهاج سراج - طبقات ناصری. ۲ ج، ۶۵۸ هـ، ۱۳۰ مخ

میر غلام محمد غبار افغانستان در مسیر تاریخ، بیهقی کتاب چاپولو موسسه ۱۳۴۶ کابل، ۲۱۳ - ۲۱۴ مخونه.

د فیوار کلا په قادس کې د غرجستان او مادین تر منځه پرته ده او د هغو ځلورو پخو کلاګانو څخه ده چې په ۵۴۴ هـ - ۱۱۴۹ د بهام الدین سام له خوا په غور کې جوړه شوې ده.

دا کلا په پخوانیو زمانوکې د غور په غرونوکې یو عسکری او پوځي کلا وه چې د چنګیز د بریدونو په مقابل کې یې زیات مقامت وکړ او وروسته د هغه یرغلګرو لښکرو له خوا ورانه شوه،اوس یې ځای معلوم نه دی [۱] د ځو روایتونو له مخی کلیون او فیوار د غور دوه مشهوری کلاګانی دی چې یو بل ته نژدی پرتی وی.

د طبقات ناصری په حواله د فیوار کلا په پوخوالی کی د کالیون تر کلا ډېره پخه او مضبوطه وه ددی کلا محکموالی له دی څه جوتیږی چې یوازی لسوتنو د هغی ساتنه کولای شوه.

د فیوار او کالیون کلاګانی چې د یوی او بلی په مقابل کې نژدی پرتی دی د یوی او بلی د ساتنی څارنی او دفاع په برخه کې پوره اغیزمنی تمامیدلی وایي کله چې به د دښمن له خوا په یوی باندی حمله وشوه نوکه ورځ به وه ددی‌کلا اوسیدونکی به لوګی کول او که شپه به وه نو رڼا به یې پورته کوله په دی اشارو به دمقابلی کلا اوسیدونکی پوهیدل چې په کلا حمله شوی ده، او پــه دی ډول بـه یــې د دښمن دحـملی او جـګړی د پاره جګړه ییز چمتووالی نیوه.

وایي چې د فیوار په کلا باندی په اومه پیړۍ کې دمغلو له خو احمله وشوه او دکلا اوسیدونکی پرته له جګړی څخه دمغلو په محاصره کې کینبوتل او د دوو میاشتو وروسته د کلا د اوسیدنکو له خوا یوازې اوه تنه ژوندی او ناروغ پاتی شول. وروسته مغلو داکلا ونیوله او په ۶۱۷ هـ کې یې هغه اوه

---

(۱) لسترنج، جغرافیای تاریخی سرزمین های خلافت شرقی، ترجمه محمود عرفان، ۱۳۳۷ هـ ش، ۴۴ مخ.

واړه هم په پوره نامردۍ په شهادت ورسول [۱] په یو بل روایت د فیوار دکلا اوسیدونکو دمغلو سره په جګړه کې که څه هم خوراکی مواد یې نه درلودل په ډېره حوصله مندۍ اوشجاعت پوره دوه میاشتی د دښمن سره جګړه وکړه ترڅو چې دجګړه مارو دنه تناسب په وجه مغلوب شول. [۲]

## ۱۴ - د تیری کلا ۶۵۳ هـ. ق

پخپله تیری یوه سمسوره او پراخه وادی ده، چې د غورد جنوبی غرونوپه بیخی وروستنۍ برخه کې تقریباً د ۶۰ کروهو په اوږدوالی او څه زیات پراخوالی د تیری د سیند په غاړه شرقاً او جنوباً پرته ده، دتیری رودچې د د هراود او هلمند سره ورګډېږی هغه کرښی ته ورته دی چې سرد سیری او ګرمسیری سیمی سره بیلوی. دتیری وادی ډېره ښکلی منظې او ځړوبی لری. دغوریانو زمانی ته نژدی دوره کې یې پوره شهرت درلود اودی وادی د تیری دکلا په نوم یوه کلا درلودله چې اوس هم د هغی پاتی شوونی او د نورو پخو کلاګانو څخه په لوړو غونډیو پرتی دي په زیاتو برخو کې یې نښی نښانی لیدلی کیږی. [۳]

## د ۶۵۳ کال په حدودو کې ددی سیمی حکمران (المار) پښتون وُ.

د تیری کوټ، د سندان ښار او خاسك کلا په نژدی سیمو کې سره پرتی دی. د جګړې او قهرمانۍ پیښې یې د المار د نوم سره نه شلیدونکی اړیکی لری او دا هغه وخت دی چې دملك شمس الدین په واسطه (د طاهر بهادر مغلی سردار له خوا حکمران) د غور په ځینو سیمو باندی بریدونه کیږی چې یوه سیمه یې تیری او دتیری کلا وه.

---

(۱) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ۶۵۸ هـ. ق، ۱۳۱ مخ.
(۲) مرغلام محمدغبار، افغانستان درمسیر تاریخ، دولتی مطبعه کابل، ۱۳۴۶، ۱۳۱ مخ.
(۳) عبدالحی حبیبی، پنځوس مقالی، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۶۲ کابل، مخ.

## دتیری د کلا په متعلق تاریخي پیښې:

وايي کله چې په کال ۶۵۳ هـ ق کې ملك شمس الدین د سندان دښار او خاسك کلا د مستننك د ښار تر جګړو وروسته د تیز (تیری) یا دمکران تبریز په کلا حمله وکړه، دایوه ډېره پخه او مستحکمه کلا وه چې کوتوال یې المار پښتون نومیده، څوك چې په پوره شهامت، شجاعت او زړورتیا مشهور و. دکلا اوسیدونکو پښتنو څلورمی برخي په کلا کې ذخیره شیان درلودل او د المار ځواك دوه زره جنګی سړی وو.

څه وخت چې ملك شمس الدین دافغانستان والیانو اوحکمرانانو ته لیك واستوو تر څو دده بیعت ومنی او د مغلو خدمتګاران شي نو المار ته یې هم دغسی لیك ور ورسید المار پښتون ورته په پوره تهور، زړورتیا اوپښتنی غرور سره په ځواب کې داسی ویکل.

((... که چیرته زما ټول خپلوان او ملګری ستا په خدمت کې شی او خراج ومنی زه چې المار یادیږم او تر څو پوری ژوندی یم دغه کار ته به غاړه کي نږدم، دا ځکه تر دی دمخه په تاریخ کې د هیڅ یوه پاچا په زمانه کي زمورپلرونو او نیکونو د مغلو خدمت نه دی کړی او کافرانو ته یې باجونه نه دی ورکړی)).

((څو واره طاهر بهادر، قرانوین او سالی نوئین دی سیمی ته راغلل که څه هم له شمیره وتلی لویې لویې لښکری ورسره وی بیایې هم پر موږ لاس نه دی بر شوی او په نتیجه کې په ماتی، ناکام او نا امید بیرته په شا شوی دی. که چیرته ته جنابګی! ملك اسلام هر کال ۲۰۰ مریان، څو خیمی او نور څه اخلی نوپری راضی یم او که د سولی لیك درکوم.

زه یې مریی او خدمتګار یم او که تر دی زیات څه غواړی او یا زما د متابعت په باب زیاتی کوی زما او د ملك په منځ کې به تیغ، غشی او جګړه وی.))

البته د جنابګی ملك اسلام څخه مراد ملك شمس الدین و چې دمغلو مریي او بې ننګه سړی و.

وروسته ملك شمس الدین د المار په دې ډول ځواب لیك په قاریږی او د ۶۵۳ هـ د صفری وروستۍ کې د زیات لښکر سره د تیری کلا ته رارسیږی. په شپږمه ورځ امر کوی. چې کلا دې د ښې او کیڼې خواڅخه محاصره شي دجګړی نغاره دې ووهي کله چې المار دملك شمس الدین د لښکر شوراو ځوږ اوری نو زرتنه نامتو توره وهونکی چې هر یو یې په جګړه کې لکه زمری جنګیږی او د فیلانو غوندې مست وود کلاڅخه د باندې ورووتل او دملك شمس الدین سره یې په جګړه لاس پوری کړ.

ملك شمس الدین چې ددغو پښتنو دا ډول زړورتیا او شهامت ګوری نوپه خپل لښکر یې ورغږ کړ همدا ستاسی د توری او مړانی ورځ ده او ددې حملې په واسطه د المار ۵۰ تنه مړه او ځینی یې ونیول شول.

په دې توګه دغې جګړی یوه ورځ کم یوه میاشت دوام وکړ، ترڅو چې د تیری کلا ونیول شوه ملك شمس الدین امروکړچې المار دوه نیمی کړی. د المار کورنۍ او د خدمتګارانو له غړو سره (۵) تنو څخه پوستکی وایستل شو له پنځو سو تنو څخه یې لاس او پښې غوڅې کړی او د پنځوسو تنو څه یې پوزې او غوږونه پری کړل. او ۳۰ تنه یې په دار وځړول او نور یې حسام الدین جاول (جاهو) ته وروبخښل. [1]

په دې ډول د المار کلا دملك شمس الدین له خوا ونیول شوه او د هغه زیات ملګری په شهادت ورسول شو او ځینی نور یې په ځورونکو جزاګانو محکوم شول. او دالمار نوم د یوه مړنی پښتون په عنوان تل تر تله ویاړلی پاتې شو. [2]
[3]

---

(۱) معین الدین اسفزاری، روضات الجنات فی. ۱۳۳۸، ۴۱۳ – ۴۱۳ مخونه.
– محمد بن یعقوب الهروی، تاریخنامه هرات ۱۳۲۶، ۲۰۵ مخ.
– عبدالحی حبیبی. پنځوس مقالی، ښوونی او روزنې مطبعه، ۱۳۶۲، مخ.

## ۱۵ - د کهيرا کلا: ۵۴۴ هـ. ق ۱۱۴۹ م

د کهيرا کلا دغور د هغو پخو کوټونو څخه شميرل کيږي چې په تاريخ کې يې د پوره قهرمانۍ او تلپاتې حماسې په ياد ګار پرېښې دي.

دا کلا چې په ګرمسير کې يې موقعيت درلود د جوړيدونيټه او موسس يې نه دي معلوم خوتاريخي پېښې يې په لاندني ډول ليکل شوي دي.

وايي کله چې ملك شمس الدين هماغه د مغلو مريي، ملك عزالدين تولك او مبارز الدين محمد نهي په تکنا باد کې قايمقام وټاکل نو ملك عز الدين د لښکر مشران او د دربار لويان د افغانستان سيمو ته وليږل چې د هغه ځاى دخلکو څخه خراج اوماليې راغونډې کړي.

يوه شپه د پښتنو يوه ټولګې په مبارز الدين بريد وکړ، څو اسان يې ترې يووړل او څو تنه يې ترې ووژل، چې ددې زړورې ډلې مشر شعيب افغان و.

شعيب يو ميړه او نامتو سړى و او يو زرو پنځه سوه تنه جنګې سړي يې تر لاس لاندې وو.ملك شمس الدين چې په افغانستان لښکر کشي کوله شعيب افغان کشمير ته پناه وړې وه. او کله چې خبر شو چې ملك شمس الدين د خاسك او تيرى کلا ګانې نيولې ملك شهنشاه بهرام شاه اوالمار يې په پوره وحشيانه ډول وژلې دي (دمخه ترې يادونه وشوه) نويې په دې سلا شوه چې کشمير څخه راوځي او افغانستان ته راشي، ده ته داخبره شرم او عيب ښکاريده ددې پر ځاى چې له دښمنه د نوموړو شهيدانو افغانانو کسات واخلي شمس الدين ته تسليم شي، دخپل لښکر، قوم د وژلو، لوټمارۍ، زړورتيا،ياغي توب په واسطه په افغانستان کې شهرت پيدا کړي، د بزدلۍ او بدنامۍ يادګار ترې پاتې شي نو داوه چې د زرو تنو سپرو سره د مستنك په لور راوخوزيد. او له هغه ځايه څخه ګرمسير ته راغى او د کهيرا په کلي کې يې ځاى ونيو.

ملك شمس الدين دده د نيولو د پاره هلته ځان ور ورساوه او پوره شل ورځې يې د کلا ښځ ته تيرې کړې،اود پښتنو پنځه تنه سپين ږيري يې شعيب ته وليږل او پيغام يې ورکړ چې هغه ته تسليم شي. او په دې توګه يې ځانونه په امان پاتې شي اوبيا به تر ابده پورې همدلته اوسيږي. کله چې نوموړي استازي شعيب ته راغلل نودې پرې په قار شواو پنځه واړه يې ووژل اوله کلا څخه ښکته يې واچول کله چې ملك شمس الدين داحالت وليد نو د ټول لښکر په ګډون يې د کهيرا په کلا باندې د حملې قوماندې ورکړه.تر ۴۰ ورځو پورې د کلا د اوسيدونکو د ژوند شرايط مخ په ګرانيدو شو او په خپلو منځونو کې دوې ډلې شوې:
يوې ډلې د ملك شمس الدين سره سوله غوښتله او بلې ډلې د شعيب افغان په مشرۍ جګړې ته ددوام ورکولو پلويان و.د لومړۍ ډلې انډول درونډ شو نو يې شعيب ونيو په داسې حال کې چې له دوو ځانګو څخه يې نيولې و ملك شمس الدين ته يې بوت،او هغه په خپل لاس وواژه او په کال ۶۵۴ هـ کې يې د کهيرا کلا هم ورانه کړه (۱) خو روضات الجنات... بيا دا کلا (کبر) بولې او ددې کلا په اړوند د پيښو د بيانولو په وروستۍ برخه کې وايي:
((... بعداً حصار کبر بقول مقدسی (کبرتون) را هم از ان ديار گرفته وشعيب افغان را بکشت)) (۲) او په دې ډول دخو بې ننګو اوبې غيرتو پښتنو د ناموس فروشۍ په وجه دکهيرا دکلا اود هغې د قهرمان پښتون شعيب افغان د اتلولۍ ډرامه پای ته ورسيدله.

---

(۱) سيف محمد الهروی، تاريخنامه هرات، ۱۳۲۶، مخ.
(۲) معين الدين اسفزاری، روضات الجنات فی ....... طبع بخش يكم ۱۳۳۸ - (۴۱۲) مخ.

## ۱۶ - د دوکی کلا (کوټ) ۶۵۴ هـ

د دوکی کلا لکه چې د نوم څخه يې معلوميږي د غور ډيره يخه کلا وه، تر دغه وخته پورې هيڅ يوه پاچا او ملك د هغې په فتح کولو نه و بريالی شوی،له عمرونو او زمانو پکی ذخيره موجوده وه او دملك شمس الدين په خلاف د متمردينو مرکز وز د دی کلا موقعيت او تاداو ايښودونکی معلوم نه دی مگر په يوه تاريخی پيښه (۶۵۴ هـ) کې داسی ثبت شوی ده:

ددی کلا د اتلولۍ حادثه د غور د نورو کلاگاو په تيره بيا دتيری کلا، خاسك د کلا کهيرا او اشيار د کلا غوندی په لاندی ډول ده.

وايي کله چې ملك شمس الدين په ۶۵۴ هـ کې د کهيرا کوټ وران کړ او شعيب افغان يې په شهادت ورساوو د سورنا د قوم څخه د پښتنو يو مشر چې (سندان) (په يوه بل روايت مسندان) نوميده او د شعيب افغان د کاکا زوی و، او زر تنه زړور جنگياليان سړی يې درلودل.

مسندان ډير غښتلی او مړنی‌او زړور سړی و، د زمانی تودی سړی يې ليدلی وی او يو کال يې دملك شمس الدين په دربارکې هم خدمت کړی، کله چې يې وليدل چې شعيب په څومره بيرحمۍ سره ووژل شو نو يې د انتقام اخستلو د پاره دخپلو خپلوانو او دوستانو سره مشوره وکړه که چوپ کښينو نو يو کال وروسته به ملك شمس الدين موږ ټول ووژنی د سندان نوکرانو هم دامشوره ومنله، بله ورځ مخکی تر دی چې لمر راوخيژی سندان د خپلو ملگرو سره دملك شمس الدين د قرارگاه څخه راووت او د يوه مياشت مسافرت وروسته د دوکی کوټ ته راورسيد او هلته يې د هغو فراريانو او ياغيانو بيعت قبول کړ چې د دوکی په کوټ کې سره راغونډ شوی وو او شمير يې نژدی زرو تنو ته رسيده دوئی تصميم ونيو چې دملك شمس الدين سره به سوله نه کوی. څه وخت چې ملك شمس الدين له پيښی څخه خبر شو نويې تاج الدين او مبارز الدين محمد نهی د دوو زرو لشکرو سره د هغوئ پسی وليږل دوئ له اتو

ورځو وروسته بيرته راستانه شول او معلومات يې ورکړل چې سندان له هغې لارې څخه تللی دی چې ډېره زياته پيچلې او سخته ده او زموږ اسان پرې ورختلای نه شي. ملك شمس الدين، حسام الدين جاهو (جاول) ته مخ راواړوو او ورته يې وويل: څه چاره ده؟ ښايي هرات ته لاړ شو او له شانه په سندان حمله وکړو جاهو ورته وويل: ښايي هرات ته لاړ شواو دمغلو د لشکر څخه ۵ زره تنه راواخلو او د سندان پسې يې ولېږو. خو ملك شمس الدين ونه منله او وويې ويل:

ښه به دا وي هغه طايفه چې د سندان سره موږ ته نه ده راغلې ونه وژنو، هرات ته لاړ نه شو. ځکه که هرات ته لاړ شو، هغوئ جرئت پيداکوي او هر قوم چې دغه کوټ ته پناه يوسي په اسانۍ سره نه وهل کيږي... ملك شمس الدين ددي کال (۶۵۴ هـ) د څلورمې په نيمائي کې ملك عز الدين تولك، تاج الدين لغنی، ملك تاج الدين کرت د دوو زرو تنو مشهورو سپرو سره، سندان کوټ ته ولېږل او امر يې وکړ چې دده تر راتلو پورې د سندان کوټ کلا بند کړي د شلو ورځو وروسته دغه لښکر د دوکی کلا ته راورسيد او د سندان (مسندان) کلی دکلاڅخه يې نژدې ۵۰ تنه رعيت، خدمتګاران او مينځې ونيولې. بله ورځ ملك تاج الدين کرت د پنځو سوو سپرو سره چې زغرې يې اغوستلې دي دکلا بيخ ته راغلی او سندان ته يې په لوړ اواز ورغږ کړ:

سندان ته وايي: چې تاج الدين کرت راغلی دی او غواړي چې خبرې ورسره وکړي کله چې سندان د هغه غږ واوريد نو د کلا يوې برخې ته راغی او په ملك تاج الدين کرت باندې يې سلام واچوو، کرت ورته وويل:

ای دوسته! زياتی له دې سرغړونې څخه لاس واخله. دکلا دروازه بيرته کړه زه به دې شفاعت وکړم.

سندان ورته ځواب کې وويل:

زه دې په دې پلمه نه تيروزم.

تاج الدين بيرته ستون شو او دملك عزالدين تولك او تاج الدين لغنی سره يې سلا وکړه ملك عزالدين امر وکړ چې د لښکر پلی او سواره دی، د دوکی کلا ته راټول شی او د جګړی نغاره دی ووهي:

دا وخت سندان له اوو سوو تنو جګړه مارو سره له کلا نه راووت او هغه ورځ يې تر ماښامه پوری د غزالدين سره جګړه وکړه. په دی ډول دی جګړو ۱۸ ورځی دوام وکړ خه رګه چې کوټ ډېری موانع درلودلی نودعزالدين تولك زور پری ونه رسيده چې فتح يې کړی.

د جګړی په ۱۹ ورځ په داسی حال کې چې دواړه لښکری په جګړه اخته وی ملك شمس الدين راورسيد. او په ګډه يې د دوکی په کلا حمله وکړه خو د ډير سخت مقاومت سره مخامخ شو، دکلا اوسيدونکی د تيرو او غشو په ګزارولو سخت وارونه کول په دی ډول څلور ورځی نوری هم دی جګړی ادامه پيدا کړه. خو بيا هم د سندان دجګړه مارو د لا مقاومت سره مخامخ شول. په دی شپه دملك شمس الدين په امر لښکر بې ساری سخته حمله پيل کړه. خو بيا هم د سندان دملګرو د بې ساری پاخه مقاومت په وجه پری بريالی نه شول، هر څومره چې به د کلا اوسيدونکی مړه کيدل بيا به هم مقاومت زياتښت مونده. د بلی ورځی په سهار يې دکلا دروازی ته اور واچوو او هغه يې وسيزله. وروسته يې دکلا برجونه ونيول،کله چې سندان پوه شو چې زياتی نو کلا ونيول شوه او دا ګړی به ګرده قتل کړی شی، نو يې دکلا اوسيدونکو ته په لوړ اواز ورغږ کړ او وي ويل:

((ای زړورو او نوميالو! موږ ته ددې قوم څخه به امان نه وی. بايد هر يو يو تن له ځانه سره يو ځای ووژنو، تر څو په ښه نوم ووژل شو.))

د سندان سره د دووسو خپلوانو په يو ځلی پر دښمن يرغل يوړو او دملك شمس الدين د لښکر څو نامی کسان يې ووژل او ځينی يې ټپيان کړل.

لنډه داچې سندان هم دخپلو خپلوانو او دوستانو سره ووژل شو او نور پاتی کسان ملك شمس الدین ته تسلیم شول. هغه ورځ ملك شمس الدین د مازیگر تر لمانځه پوری د دوکی په کلا کې و، څوك یې ووژل او څوك یې وبخښل [۱]

## خاطره:

څه رنگه چې د کهیرا او دوکی کوټونه لکه د تاریخی پیښو په بحث کې وویل شو چې سندان د شعیب افغان دتره زوی و نو خامخا دغه کوټونو یو او یوبل ته نژدی موقعیت درلود، نو د کهیرا کوټ چې په گرمسیر کې ښودل شوی دی، منطقی ده چې د دوکی کلا هم په گرمسیر او یا هغه سره په نژدی سیمه پرته وي.

## ۱۷ - د سیفرود کلا

**۵۴۴** هـ **۶۱۷** هـ. ق

د سیفرودکلا دغور د خورا مستحکمو کلاگانو څخه شمیرل کیږی چې د پوخوالی او د مغلو د بریدونو په مقابل کې دمقاومت له پلوه په نړۍکې ډیره مشهوره ده ددی کلا تاداو ایښودونکی سلطان بهاء الدین سام ابن حسین و (**۵۴۴** هـ).

هغه وخت چې د سلطان غیاث الدین او معزالدین پلار امر وکړ چې ملك قطب الدین دی دغه کلا جوړه کړی، خو ددیکار د پاره دومره فرصت نه و او کلا پکی په بشپړه توکه جوړه نه شوه. ددغه کلا د پاسه د اوبو د یو حوض نه پرته نور څه لانه و جوړ شوی او د سلطان ددغه امر څخه دوی میاشتی وروسته دمغلو لښکرو دلته راورسید، دا وه چې د کلا د ودانولو کار وځندید. د کلا

---

(۱) سیف بن محمد بن یعقوب هروی، تاریخنامه هرات، اوایل قرن هفتم، ۱۳۲۶ هـ. ق - ۲۱۳ - ۲۲۱ مخونه.

په جوړ شوی ډنډکې د ۴۰ ورځو د پاره د اوبو ذخیره پاتې وه. حوض ته د اوبو نژدیوالی دا موضوع په ګوته کوی چې البته د سیفرود کلا ته نژدی د اوبو طبیعی منابع موجودی وی.

د طبقات ناصری مولف ددی‌کلا د جګړو په اړوند چې د مغلو د لښکرو په مقابل کې یې وکړی داسی یادونه کوي:

کله چې سلطان محمد خوارزمشاه د بلخ له خوا نه د مازندران و لور ته لاړ، امر یې وکړ چې ملك قطب الدين دی دا کلا جوړه کړی خو فرصت ډېر کم ؤ دکلا د پاسه د یوه حوض ځه بل حوض جوړ نه شو، [۱] د پورتنی قول ځه ځرګندیږی چې د سلطان غیاث الدین او معزالدین پلار همدا سلطان محمد خوارزمشاه ؤ چې د سیفرود د کلا د جوړولو امر یې ملك قطب الدین ته ورکړی دی.

د مغلو لښکری دمنکوته نوئين – قارچه نوئين او اکبر نوئين په مشری د سیفرودکلا ته راورسیدلی او هغه یې محاصره کړه او د کلا د باندی ټول ځارویان او نور شیان ي دخپلو سردارانو په امر لوټ کړل او چې ورته ځرګنده شوه چې دکلا اوسیدونکی اوبه نه لری اود کلا په شاوخوا کې یې لښکری ځای په ځای او په جګړه یې پیل وکړه. دغه جګړی په حقیقت کې داوږدی محاصرې شکل درلود.

دکلا اوسیدونکو د مغلی لښکرو په مقابل کې (۵۰) ورځی په پوره میړانه مقاومت وکړ او تر ځلرویښتوزرو زیات حیوانان یې له تندی مړه شول، خو بیا هم مغلی لښکر ته نه تسلیمیدل او پخپله وسله یې دفاع کوله او د کلا د

---

(۱) عـزیز احـمد پـنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، ص ۸۸.

موجودو شیانو څخه يې استفاده کوله او په دی جګړه کې کم شمير مسلمان او زيات شمير کفار (مغل) مړه شول.
ملك قطب الدين د سيفرود د کلا حاکم په کلا کې امر وکړ چې د نه اوبو له امله ټول حيوانات ووژنی، ټوټی ټوټی يې کړ څو يې د کلا اوسيدونکی وخوری او له تندی څخه مړه حيوانات دی له کلا نه بهر ته غورځوی، تر څو دښمن يې له وړمونو څخه په تنګ شي.
د پنځوسووورځو وروسته د اوبو ذخيره خلاصه شوه. دغه وخت د کلا اوسيدونکو دملك قطب الدين سره مشوری وکړی چې په راتلوکی ورځ د مازيګر د لمانځه تر ادا کولو وروسته لومړی خپلی ښځی او ماشومان به پخپلو لاسونو بربنډې ووژنی او بيا به د کلا دروازه بيرته کوی او دمغلو سره به په ويستلی توره مخامخ جګړه کوی، ترڅو چې د ټولو شهادت په برخه شي.
مګر په هيڅ صورت به نامردانه او ننګنيو تسليميدو ته غاړه نه ايږدو. خو د نيکه مرغه پيښه بل ډول واقع شوه.
د همدی ورځی په ماښام په اسمان کې وريځ را پيدا شوه او ورسره سم سخت باران واوريد چې په دی توګه د کلا په حوض کې د دو مياشتو د پاره د اوبو ذخيره پيدا شوه او د بلی خوا نه څه رنګه چې ژمی راتلونکی وُ نو دمغلو لښکری په اجباری توګه د سفيرود له کلا څخه په شا شولی.
د ۶۱۸ هـ په پسرلی کې مغلو بيا د غور د غرونو سلسلو ته راغلل او د سيفرود کلا ته يې ځانونه راورسول او په کلا باندی يې بيا حمله پيل کړه خو دا پلا د ملك قطب الدين په لار ښوونه د کلا هره برخه مستحکمه وهاوبه او خواړه يې ذخيره کړی او زيات فرصت يې تر لاسه کړی وُ.
نو يې د مغلو لښکرې تر دوو مياشتو پروی په خونړيو جګړوکې مصروفی وساتلی، دا وه چې مغلو له جګړو څخه لاس واخيست او په تګماريو يې پيل

وکړ او په دی ترتیب یې په کلا کې دننه نفوذ وکړ، خو ملك قطق الدين ورسره سوله نه منله.

دا وخت د کلا دځینواوسیدونکو (د ملك قطق الدیند امر خلاف) او د مغلو تر منځه د راکړی ورکړی تجارتی معامله شروع شوی وه په کلاکې چې د کلا اوسیدونکو دا موضوع درك کړه چې دمغلو ددی فریبکارۍ له مخی تباه کیږی ځکه مغلو مخکی له مخکی خپل لښکر دکلا شاوخوا ته دجګړی په مقصد تعبیه کړی وې.

- په دریمه ورځ دکلا اوسیدونکو په مغلو باندی حمله وکړه او په دی مخامخ جګړه کې یې د ډیرو مغلو سره بیره هغه مسلمانان (د کلا اوسیدونکی) یې هم ووژل چې هلته د مغلو سره په تجارتی معامله اخته و. خو ۲۸۰ تنه د کلا مبارزین هم د مغلو له خوا ونیول شول او مغلو پیشنهاد وکړ چې دغه نفر دمغلو سره تبادله کړی، خو ملك قطب الدين ورسره ونه منله، نوداوه چې هغه یې په شهادت ورسول. په دې وخت کې محاصره او جګړه ډېره سخته شوی وهاو دکلا اوسیدونکو ته دوه لاری پاتی وې یامرګ یا به مغلو بریالیتوب. دلته دوی له یوه ډول تکتیك څخه کار واخیست دکلا اوسیدونکی دوی برخی شول یوې برخی یې د کلا په مناسبو ځایونو کې ځانونه پټ کړل او بله برخه یې دکلا په دروازه کې ځای په ځای شول، او بیایې د کلا دروازه بیرته کړه. مغل په پوره خاطر جمعۍ سرهکلاته رانوتل، ګوندی ټګمارۍ یې د کلا په اوسیدونکو کې کار کړی وی. او چې کلا ته ننه رادننه شول، نو دکلا اوسیدونکو پری په یو اواز ناڅاپه یرغل وروړ، دمغلو دلښکر زیاته شمیر یې وواژه او پاتی تری وتښتیدل. [۱]

---

(۱) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ج۲، ۶۵۸ هـ، ۳۳۳ - ۳۴ مخونه.

میر غلام محمد غبار، افغانستان درمسیر تاریخ، مطبعه دولتی، ۱۳۴۶ ش، ۲۳۸، ۲۰۶، ۲۱۵ مخونه.

د سیفرود کلا اوسیدونکو په دی توګه یو ځل بیا مغلو ته خپل جنګی قدرت ښېنتنی او اسلامی شهامت وروښود او د سیفرود کلا یې دخپلی اتلولی له امله د غور د قهرمانو کلاګانو په ډله کې ودروله.

خو په یوبل روایت په ۶۱۷ هـ کې دمغلو لښکرو (البته په یوه بله سخته حمله کې) د سیفرود په کلا ورننوتل او په ډېره وحشیانه حملی سرهیې د کلا اوسیدونکی په شهادت ورسول.[1]

د سیفرود د کلا تر نیولو وروسته ددی کلا څخه د سیاسی بندیانود زندانی کولو په مقصد کار واخستل شو لکه یچ د طبقات ناصری مولف لیکی:

... غیاث الدین فرمان ورکړ چې خسرو ملك د غرجستان د بلروان په کلا کې محبوس کړی او کله چې د سلطان شاه پیښه په خراسان کې څرګنده شوه او د غور ټولواکان نورالله مفحهم دغه پښی ته مخه وکړه او سلطان خسرو یې په شهارت ورساوه. دده زوی بهرامشاه چې د غور د سیفرود په کلا کې بندی ؤ هم شهید کړی شو او د ناصر الدین سبکتګین دکورنۍ غړی مندرس (زاړه) شول او د ایران پاچاهی او د هندوستان تخت او د خراسان ملك شنسبانیانو ته ورسید.[2] البته دغه پیښی د غوریانو واکمنۍ ته د رسیدلو دخه زمانی پوری تړاو لری.

---

(۱) عتیق الله پژواك، غوریان، انجمن تاریخ افغانستان، دولتی مطبعه ۱۳۴۵ کابل، ۳۵ مخ.

- اریانا مجله ۷ ګڼه، اریانا دایره المعارف ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۴۰ کابل، ۱۹ مخ.

(۲) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ج۲ - د حبیبی په تصحیح ... تاریخ ټولنه، ۱۳۴۲ کابل، ۲۴۴ مخ.

که څه هم اوس په غور کې د سيفرود د کلا په نوم کوم محل نشته خو يو شمير کلي د کلاګانو په نوم، د کلا خولې ،انې،او حصارکونه په غورکې موجود دي‌چې ددې تاريخي نوم دسيفرود څخه يادونه کوي. (۱)

## ۱۸ – د خاسك کلا (کوټ):

(۶۵۳ هـ)

د خاسك کلا چې دمستنك اوتيرى کلاګانو ته په نژدې سيمو کې پرته وه، دغويانويوه پخه او له برمه ډکه کلا وه چې بې حسابه ذخيره يې درلودله.

دڎې کلا د جوړيدنې نيټه معلومه نه ده، خو په تاريخ کې د غور د نورو کلاوو په شان ددې کلا له اتلولې او محکموالې څخه يادونه شوې ده.

د خاسك دکوټ مشران درې تنه وو چې د شاهنشاه، بهرامشاه او ميرانشاه څخه عبارت دي.

## دخاسك کلا په اړوند تاريخي پيښې:

مغلې لښکرو د غوريانو د قهرمانو کلا ګانو د مشرانو د مقاومتونو او شهامتونو د ښودلو با وجود هغه تسخيرولې، په ډېر وحشيانه ډول يې د کلا اوسيدونکي وژل، مالونه يې ورته لوټول او کلاګانې يې ورته د خاورو سره خاورې کولې، چې دا وې د خاسك په کلا باندې دمغلې لښکرو د حملو په مقابل کې د خاسك د کلا د اوسيدونکو دمقاومت او فداکاريو کارنامې په لاندې ډول بيان شوې دي.

... ملك شمس الدين په ۶۵۳ کې د غور د نورو کلاګانو دنيولو په لړ کې د خاسك کوټ د نيولو په غرض له زيات شمير لښکر سره دمستنك د ښار تر

---

(۱) اطلس قريه هاى افغانستان، ج۳ د حبيبي په تصحيح .. تاريخ ټولنه ۱۳۵۳ کابل.

- عزيزاحمد پنجشيرى، جغرافياى تاريخى افغانستان، انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰ کابل، ۸۷ – ۸۸ مخونه.

نیولو وروسته د خاسك کلا ته راغی په کلا يې حمله وکړه او پوره دری نیمی میاشتی يې دغه کوټ کلا بند کړ او اوه ځلی يې پری سخته حمله وکړه، خو بیا يې هم ونه کړای شول چې دغه کلا اشغال کړی. مګر په کلا کې د محاصری د اوږو شرایطو په وجه د کلا اوسیدونکی په خورا بدو ستونزو اخته شو او ملك شاهنشاه په مشری يې ځینی اوسیدونکی دملك شمس الدین سره سولی ته راضی شول، خو میرانشاه ځکه ورسره دغه خبره نه منله چې هغه ډېر ښه پوهیده د دښمن له خوا تباه کیږي،او د دښمن په قول باور نه شی کولای، تر څو چې د کلا اوسیدونکی شهنشاه ته راغلل او ورته يې وویل چې ملك شمس الدین ته لاړ شی او عفوه ورځنی وغواړی.

ملك شهنشاه ورته وویل چې میرانشاه ورسره داخبره نه منی او هغه په سوله نه راضی کیږی. نو يې د هغوئ په مشوره میرانشاه ته وویل چې د کلا ذخیره خلاصه ده اوتر دی وروسته موږ مقاومت نه شوکولای ښایي چې سوله وکړو خو ملك میرانشاه په غوسه شو او ځواب يې ورکړ، په همدی شیبه به توره راوباسم له کلا به بهر شم او د ملك شمس الدین سره به جګړه وکړم.)) په دې ترتیب هغوئ له شرمی ډکی سولی ته حاضر نه شول او مخامخ جګړه يې ومنله:

پخوا تر دی چې لمر راوخیژی په سبا يې د ردو سوو تنو میړنو سړو سره چې زغری يې اغوستی وی له کلا څخه راووتل او د ملك شمس الدین د لښکر په یو څنډه يې حمله وکړه او له هغی لاری په پوره سلامتیا تری بیرته ووتل.

شهنشاه او بهرامشاه او د دوی دلښکر سرداران اود کلا ټول اوسیدونی‌ك وروسته تر دی چې نیمه ورځ تیره شوه او په جګړه کې له دواړو خواوو څخه زیات شمیل کسان ووژل شول دملك شمس الدین په وړاندی يې د سولی غږ پورته کړ او له جګړی څخه يې لاس واخیست.

په دی موقع د ملك شمس الدین لښکر په یوه حمله دکلادروازه برته کړه او کلا ته ورننوتل او د ۴۰۰ جګړه مارو سړوپه حدودو کې یې شهیدان کړل، شهنشاه او بهرامشاه یې د ۹۰ تنو خپلوانو او سردارانو سره هم ووژل او د دوی سرونه یې له تنی څخه غوځ کړل او د افغانستان هری خواته یې ولیږل، د دوی ټوله شتمنی، مالونه، څاروی او نور شیان ي دمنصور په سپاهیانو وویشل او نور پاتی یې ملك تاج الدین ته وروبخښل.[1] د پورتنۍ څرګندونی له مخی میرانشاه دخپل پاخه تدبیر له مخې د ملك شمس الدین د لښکر له تباهۍ څخه خوندی باتی شو،خو معلومه نه شوه چې هغه چیرته پناه یوړله، دی پیښی یو ځل بیا وښودله چې مغلی دښمن په غوریانو باندی حتی د متارکی په وخت کې هم رحم نه دی کړی او مړنیو غوریانو هم هر ډول قربانۍ ته غاړه ایښی خو د هغوی ننګینه تسلیمی او غلامی یې نه ده منلی او د پښتنی شهامت لوړانداز یې ورښودلی دی.

## ۱۹ - د تولك کلا (ښار):

**(۳۵۳ هـ)**

تولك دغور او غرجستان له لرغونو مهمو ښارونو څخه دی. ددی تاریخی کلا د جوړیدو نسبت ابوعلی محمد بن العاس تولکی ته کیږي.
د هیواد یو نامتو مورخ ابوسعید عبدالحی ګردیزی په خپل مشهور اثر زین الاخبار کې چې هغه یې په ۴۴۰ هـ کې تالیف کړی دی له تولك څخه یادونه کړی ده:
د هرات د ولایت یو سرهنګ (      ) چې ابوعلی محمد بن العاس تولکی ورته ویل کیده په دی‌کلا کې له سامانیانو سرکشی وکړه او د تولك ښار یې اباد کړ

(۱) سیف محمد بن یعقوب الهروی، تاریخنامه هرات به تصحیح محمد زبیر الصدیقی ۱۳۲۶.

قوم پرې راتول شو، وروسته امیر ابوالحسن مرابو جعفر زیادي يې وتاکه ترڅو دتولکی سره جګړې ته لاړ شی او نوموړی يې د تولك په ښار کې وموند.(۱)
که څه هم تولك د غور د پخوانیو ښارونو څخه شمیرل کیده خو اوس یوازې د یوه کلي په توګه پاتې دی او د تولك کلا یوه هغسی کلا ده چې د هیڅ یوه غر سره نښتی نه وه.

د منو چهر په زمانه کې جوړه شوی وه چې د غور او خراسان په منځ کې پرته وهو دی کلا د غشو د ویشتلو د پاره سوری (تیرکشونه) درلودل.د کلا د پاسه د تیږې او چونې (سنګ خرا) څخه خونی جوړې شوی وی چې ارشی ورته ویل کیده.

امیر نصر تولك دکلا د پاسه د اوبو حوض جوړ کړ چې د هغه ګرد چاپیر د چونی او تیږې څخه شل په شلو مترو کې و او اوبه تری هیڅ نه تیریدلی.(۲) خو طبقات ناصری په یوه بل ځای کې داسی اشاره کوی چې تولك د هرات په غرونو کې واقع دی.(۳) همدا شان په یوه بل روایت د تولك کلا یوه هغسی کلا ده چې د یوه غره د پاسه چې په تندی کې يې د وریځو سره غاړه ایستله او پوخوالی کې يې د سکندر د دیوال سره سیالی کوله دملك غیاث الدین په وخت کې هلته لښکر کې وشوه، د هغی کوتوال فرحزاد او بیا ملك اسلام او وروسته سراج الدین عمر هارون وټاکل شو. (۴) ددی کلا د مضبوطوالی د ثبوت د پاره چې پرې د مغلو د هجوم پیښی ته رجوع وشي ((هغه وخت چې مغولو په تولك برید وکړ،د تولك خلکو پوره ۸ میاشتنی د غوئ سره جګړه وکړه تر څو چې يې هغوئ ناکام مراجعت ته مجبور کړل.(۵) دتاریخي اسنادو له

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، ۷۴ مخ.
(۲) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ۲ج، طبع ۸۵۶.
(۳) منهاج سراج، طبقات ناصری، ۱ج، طبع ۱۳۳.
(۴) سیف محمد بن یعقوب الهروی،تاریخنامه هرات، ۱۳۲۶، ص ۷۷۰ - ۷۷۳.
(۵) میرغلام احمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، مبطعه دولتی، ۱۳۴۶ کابل، ص ۲۱۴.

مخی د تولك کلا تر ۳۵۳ هـ کال نه دمخه ودانه شوی ده او دا ځکه چې په دی کلونو کې په زیاتو تاریخی پیښو کې ددی کلا یادونه شوی ده. [۱] استاد خلیلی دهرات په اثاروکې د تولك په هکله لیکی:

ننی تولك د هرات د ښار جنوب غربی خواته د څلویښتو کروړو په مسافه پروت دی او د یوی کلا په خوا کې چې اوس د حکومت مرکز هلته دی دلته یوه لویه کلا وه چې په تولك نومیدله له همدی امله د کلا ټول شاوخوا ته تولك ویل کیږي.

تولك له تیرو نه په ډکو غرنیو سیمو کې پروت دی په کوچنیو او لویو درو باندی ویشل شوی دی. دا درې تولك ته اوبه ورکوی او دغه رود ته کیان وایي.

پخوانی مدارك ښیی چې له پخوانۍ ابادی پرته له هماغه خرابی نور چیرته تولك هم کم لیدل کیږی.

د تولك کینۍ خواته یو غار دی چې په ((غار گوش)) باندی مشهوردی او په ډیر عجیب شکل جوړ شوی دی چې د ورننوتلو لار یې له یوه کوهی څخه ده.

که د تولك په هکله دخلیلی په لیکنه کې د تولك موقعیت تصحیح شي نو د تولك ولسوالی د هرات په جنوب شرق کې، نه دهرات په جنوب غرب کې پرته ده. [۲]

## ۲۰ – دکجوران کلا (مانۍ)

**۵۴۴ هـ**

کجوران (کجران) د غورد جنوبی سیمو څخه دیچې تر تمران کلا وروسته د هغه لویدیزی خواته پرته دهاو د ساخر رود هغه خړوبوی،کجوران یوه

---

(۱) عبدالحی حبیبی، د افغانستان لنډ تاریخ، تاریخ ټولنه دولتی مطبعه، ۱۳۴۶، ص ۱۸۰

(۲) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات کابل، ۱۳۶۰، ص ۷۵..

سمسوره. معموره او غرنۍ سیمه ده. دتمران رود د کجوران په جنوب کې د هلمند دریاب ته ورګدیږي. د کجوران اوسنی نوم کجران دی.

د کجوران ماڼۍ د غور د ورنی (زرنی) غره په لمه او څانګو کې پرته ده په زیات ګومان سره دا هماغه د جم کلا ده چې د غورد ډېرو محکمو او ډېرو پخو کلاګانو څخه شمیرل کیدله اود نوموړی غر د فیروز کوه د پوزی په ((پنځه ښاخه)) باندی ودانه شوی او په خپل چاپیریال باندی پوره حاکمیت لری.[۱] منهاج سراج، وايي: د غورد پنځو لویو غرونو څخه يې څلورم ورنی (زرنی) دی د اور والشت (بالشتان) او کجوران ماڼۍ د هغه په اطراف او څانګه کې پرتی دی نو د نوموړی ددی تصریح څخه جوتيږی چې د غزنویانو د سلطنت په دوره کې کجوران یوه مهمه او مشهوره ماڼۍ وه او په یوه بله برخه کې ددی ماڼۍ ودانی د هغو څلور ګونو کلاګانو څخه شمیرل کيږی چې په ۵۴۴ هـ جوړی شوی دی[۲]

په یو بل قول د غزنویانو د واکمنۍ په وخت کې د کجوران ماڼی زیات ارزښت درلود چې په یوه برخه کې دا ماڼۍ د غورد هغو څلورو ودانیو څخه شمیرل کيږی چې د سلطان بهاء الدین سام په حسین غوری ته يې جوړيدل منسوب دی.[۳]

وایي کله چې نوموړی سلطان د فیروز کوه پر تخت کښیناست په ۵۲۴ - ۱۱۲۹ م او د پنځوسومقالو په روایت ۵۴۴ هـ په ګرمسیر کې يې د کجوران کلا (د غور او کندهار تر منځه اوسنی کجران) د هرات په غرونوکې يې د شیرسنګ (شورسنګ) کلا او په غرجستان کې يې د بندراو (بندار) کلا د

---

(۱) عبدالحی حبیبی، د افغانستان لنډ تاریخ، انجمن تاریخ، مطبعه دولتی، ۱۳۴۶ کابل، ۲۴ مخ.

(۲) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، ۱۳۶۰ کابل، ۹۶ مخ.

(۳) عبدالحی حبیبی، پنځوس مقالی، د ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۶۲ کابل، ۲۱۲ مخ.

هرات او مادين تر منځه يې د فيوار کلا جوړه کړه. [۱] دا سيمه د (اسينه) ياقوت په قول د غور له ښارونو څخه ګڼلی شوی او کله چې سلطان غياث الدين په ۵۵۸ هـ کې په فيروز کوه کې پاچاهی ته ورسيد خپل ورور ابوالمظفر معزالدين بن سام يې چې د سنجستانی ملك شمس الدين سره ئ ځانته راوغوښت اود سرجاندار په رتبه (د شاهی ګارد قوماندان) يې د غور د استيه او کجوران حکمران مقرر کړ. [۲][۳]

د غرغښت نامی ليکوال دولت محمد کاکړ هم کجوران ته په ۹۱۲ کې تللی دی. [۴]

**خاطره:**

د کجوران په تړاو يوه تايخی پيښه د تکانی د کلا په بحث کې هم راغلی ده.

## ۲۱ - د اشيار کلا:

(۶۱۱ هـ)

د اشيار کلا د غور په غرجستان کې پرته ده او دا دهغو کلاګانو له جملی څخه ده چې په ناصری طبقاتو کې په مکرره توګه ترې يادونه شوی‌ده لکه چې وايي:

((قلاع رنګ و بدار قلعه بلروان و قلعه لاغری، قلعه سناخانه و قلعه سنګه (خول مانی) د قلعه اشيار که طاقهاست در روی کوها، چناچه باران بر اهل

(۱) عبدالحی حبيبی، د افغانستان لنډ تاريخ، انجمن تاريخ افغانستان، ۲۳۲ مخ. البته ۵۴۴ کال سم دی.

(۲) دکجوران څخه په پښتو ادبياتو کې هم پوره يادونه شوی او دکجوران د ادبی شخصيتونو څخه يوهم شيخ تمين کاکړ دی چې له ده څه شيخ بستان بړيخ يادونه کړی ده.

(۳) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ۶۵۸ هـ، ۳۹۸ مخ.

(۴) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور، ۱۳۶۰، ۹۶ مخ.

قلعه ببارد و چشمه های اب قلعه در غرجستان (غور) است. [۱] د پورتنۍ لیکنې له مخې د غور د کوټونو غونډی د اشیار کلا هم یوه هغسې کلا ده چې د غرجستان په غره کې موقعیت لري. او د اوبو له مخې ځکه مهمه ده چې زیاتی چیني لري او ددې کلا موقعیت له مخې دا موضوع په پوره صراحت څرگندیږي چې په دفاعي چارو کې دغه کلا یو پوخ کوټ بلل کیږي چې د یرغلگرانوله خوا یې نیول خورا گران دي.

د اشیار د کلا حکومت د مرغزی امیر محمد په لاس کې و چې د نصرت کوه، تالقان او گرزیوان څخه دچنگیز د تیریدنې په وخت کې بامیانو ته. ده او دده خلکو په مکرره توگه دچنگیز په مخه او شا حمله کوله او زیات قیمتي شیان یې د هغو له لښکرو څخه لوټول او ددې تر څنگ یې د مغلو کاروان زیات شمیر کسان وژل او یا یې بندیان نیول. خو کله چې چنگیز د هند له فتحې څخه راستون شو نو یې ((تولی)) د افغانستان د ودانیو د تخریبولو د پاره مامور کړ. [۲] وایي هغه وخت چې چنگیز تولی (ایله بوئین) چېد مغولي لښکر د لسو زرو منجنیقي لښکرو سردار و، د اشیار د کلا د نیولود پاره وگماره. نو څه رنگه چې دکلا نیول گران و، هغه د یو کال او درو میاشتو د پاره داکوټ محاصره کړ تر هغې چې د ښارو واښه خلاص شول او خبره دانسان غوښې خوړلو ته راورسیدله، دوئ د خپلو مړو غوښې خوړلې او جگړې ته یې ادامه ورکوله ځیني مورخینداسې روایت کوي:

چې په دغه کلا کې یوه ډمه وه مور او وینځه یې درلودله،مور یې مړه شوه هغه یې ټوټې ټوټې کړه بیا یې مینځه مړه شوه په هغې هم دغسې کار وکړ د

---

(۱) قاضی منهاج سراج، ناصری طبقات، طبع ۶۵۸، ص ۱۴۳.

(۲) قاضی منهاج سراج، ناصری طبقات، طبع ۶۵۸، ص ۱۴۳.

دواړو مړه غوښی يې په لوږه بيه خرڅی کړی او له دی بابته يې ۲۵۰ ديناره (طلا) تر لاسه کړه او بالاخره پخپله هم مړه شوه ځکه چې غذايی نه درلوده.
په کلا کې وروسته وضعی بدلون وموند او دننه په کلا کې د محاصری د بيخی سختو شرايطو په وجه د کلا د اوسيدونکو تر منځه مخالفت پيدا شو اوداموضوع ددې سبب شوه چې مغولو کلا ونيوله او د هغی ټول اوسيدونکی يې په شهادت ورسول. [1]
او په يوه بل روايت تر ۱۵ مياشتو وروسته په دی ترتيب نارينه او ښحی ټول مړه شول او يوازې امير محمد مرغزی له ديرشو تنو سره په کلا کې پاتی شو، او بيا د اشيار کلا فتحه شوه [2] يعنی نوموړی امير د مغلی لښکر سره په ډېر کم کميت کې يې قرار درلود مغلوب شو. د تاريخی پيښو په لړ کې د اشيار د کلا په اړوند د افغانستان په لنډ تاريخ کې ويل شوی دی.
... چې علاء الدين بوعلی (د غوری غياث الدين د تره زوی) د سلطان معزالدين وروسته د غرجستان په کوټ کې بندی شو او بيا د ناصری طبقاتو په قول ۶۱۱ هـ کې کله چې ملك علاء الدين (ملك ضياء الدين) پاچا شو اود ايار د کلا څخه ازاد شو او غزنی ته يې بووت [3]

## ۲۲ - د والشتان (بالشتان) کلا

۱۳۹ هـ

دا کلا په والشتان مشهوره ده او د جوړيدو نيټه يې ښه معلومه نه ده په تاريخ کې والشتان دکلا، ښار او سيمی په نوم پيژندل شوی دی چې اوس دومره شهرت نه لری.

---

(۱) عبدالحی حبيبی، د افغانستان لنډ تاريخ، ۱۳۴۶، ۲۳۳ مخ.
- قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری ۶۵۸ هـ، ۳۸۲ مخ.
(۲) ميرغلام محمد غبار – افغانستان در مسير تاريخ، ۱۳۴۶هـ. ش.
(۳) ميرغلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ ۱۳۴۶ ش، ۲۱۴ مخ.

والشتان د غور د جنوبي سيمو څخه دی چې تر (تيری) او (دهراوت) وروسته د غور د جنوب د غرنيو سيموکې پورت دی، او داد هغو سيمو له جملی څه دی چې د اسلام د ظهور په لومړنيو وختونوکې هم موجوده وه.

هغه مهم کتاب چې ددی سيمی ذکر پکی راغلی دی د محمد ابن علی البستی سوری تاريخ دی په دوو روايتونو چې د سوری امير پولاد زوی (امير کروړ) ۱۳۹ هـ = ۹۵۶ م په شاو خوا کې د غور ټولی کلاګانی چې د بالشتان کلا هم په دغه ډله کې ده ونيولی.

او د لرغونی پښتانه کتاب د ليکونکی شيخ کته د ليکنی له مخی چې ۷۵۰ کال په حدودو کې يې ژوندکاوه له سوری تاريخ څخه نقل کوی او دپټې خزانی په واسطه چې يې هغه په بالشتان کې ليدلی وه څرګندېږی چې د اتمی پيړۍ د نيمايی په شاوخوا کې هم بالشتان يو ودان ښار و[1] د طبقات ناصری د [2] په وينا د والشتان يا بالشتان دغور د سيمو اود هغه د مشهورو کلاګانو څخه يوه کلا وه چې د تيری او کندهار تر منځه د غور په جنوب ختيز کې پرته ده همدا شان په ۱۳۹ هـ دنورو کلاګانو په خواکې له دی کلا څخه يادونه شوی چې اداره يې د امير کروړ په لاس کې وه او بيا د پټې خزانی له مخی په تاريخی او جغرافيايی کتابونو کې والشتان ليکل شوی دی.

په تاريخی مدارکو او د غزنويانو په دوره کې اوسنی بالشتان په والشتان ضبط دی او همداسی د په هغه يوه تاريخی نسخه کې چې په دی هلکه ليکلی شوی او په پتر سبرګک کې موجوده ده، دا ښار د غور والشتان بلل شوی دی چې ګور والشت هم راغلی دی.

خو د بيهقی د غور د ښارونو په جمله کي دا ښار د لومړنی صرف په بدلون لکه دمخه ورته اشاره وشه ګوروالشت دی زياته شوی ده چې دا ښار د تکناباد او منديش تر منځه پروت دی.

---

(۱) عبدالحی حبيبی، پنځوس مقالی، ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۶۲ کابل، ۲۰۸.

(۲) اريانا مجله ۷ ګڼه – اريانا دريه المعاف ټولنه دولتی مطبعه ۱۳۴۰ ټوک

په تاريخي اسنادو کې دا ښار د غور سيمه ده او د منهاج سراج د اثر په لومړی ټوك کې بيا والشتان په دوو برخو يعنی برنی والشتان او لرنی والشتان ويشل شوی دی او وايي چې ددی ځای اوسيدونکی د امير سوری په زمانه کې مسلمانان نه وو [۱]

د سيستان په تاريخ کې هم بالشتان د زميندداور، بست او والشتان په نومونو ضبط دی چې بې له شکه همدا بالشتان دی او ابوالحسن علی بن زيد بيهقی چې په ابن فندق باندی مشهور دی په همدی ډول والشتان د بست يوه ناحيه ګڼی چې مرکز يې د سيوار په نوم يو کلی دی.

بيهقی له ګوروالشت څخه يادونه کوی چې امير محمد د سلطان مسعود ورور د شاه په امر بندی شو او بيا يې د کوهتيز له کلا څخه د منديش کلا ته انتقال کړ.

**نوموړی د بالشتان په باره کې داسی وايي:**

... څه وخت چې له جنګل اياز (جنګ آباد) څخه راولاړ شو او ګوروالشت ته ورسيدلو د کلا له کيڼی وا منديش د ورځی له خوا راښکاره شو، لاره مو ونه موندله او يوه کلا مو وليدله ډېره جګه وهچې بې شميره پوړی يې درلودلې چې په ډېر زحمت سره پرې سړی ختلای شو. [۲] همدا مطلب د بيهقی مولف په يو څه تفسير سره داسی راوړی دی.

... نزد يك ګوروالشت رسيدند، از چپ راه، قلعت منديش از دور پديد امد... قلعه ديديم سخت بلند ونزدبان پايه های بی حد و اندازه. چنانکه بسيار رنج رسيدی تا کسی بر توانستی شد [۳]

---

(۱) منهاج سراج – طبقات ناصری، ج۲، ۶۵۸ هـ. ۳۲۵ مخ.
- عبدالحی حبيبی – ۵ مقالی، ښووني او روزني وزارت مطبعه ۱۳۶۲ ش، ۲۰۹ مخ.
- منهاج سراج – طبقات ناصری ج ۲، ۶۵۸.

(۲) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور ۱۳۶۰، ۹۸ – ۹۵ مخ.

(۳) محمد بن حسين بيهقی ابوالفصل، تاريخ بيهقی، طبع کتب مطبعه دولتی، ۱۳۶۴ کابل، ۸۵ مخ.

## ۲۳ - د تمران کلا

۱۳۹ (۶۱۸ هـ)

تمران د غور د د مشهور ښارونو څخه ؤ چې د غور د غرونو په جنوبی سلسلی یعنی د ورشك غره په لمنو او څانګو کې د ((ګزیو)) لویدیز ته پروت ؤ. دا ځای د هغو غرنیو سیمو له جملی څخه و چې ډېره په زړه پوری آب و هوا یې درلودله او شنو درویی شهرت درلود.

په تاریخ کې د تمران د کلا دجوړېدو نیټه نه ده معلومه خو وایي د شنسب د کورنۍ د واکمنۍ په زمانه کې له دی ځایه ډیر زیات نومیالی راپورته شوی دی.

حدود العالم تمران له خراسان څخه د کاروان د یوه رباط په واټن لیری ښودلی دی او څرګندوی چې دا دغور یوه سړه سیمه ده. (۱) عبدالحی حبیبی په خپلو پنځوسو مقالو کې د تمران په باب داسی لیکلی دی:

دحدود العالم نومور کې مولف په ۲۷۲ هـ کې داسی سیمی ته تمازان ویلی چې ددی ځای مشر یې تمازان قزنده بللی دی. دغوریانو او غزنویانوتر نهضت دمخه یې هم پوره شهرت درلود.

دهلمند دریاب له تمران څخه تیریږی، همدا شان تمران او کجران (کجوران) یو د بلی سره نغښتی پراته دی.

دحدود العالم مولف په بل ځای کې تمران او تمازان د خراسان دوی ځانګړی سیمی بولی.

منهاج سراج چې په کال ۶۱۸ هـ کې یې له دی سیمی څخه لیدنه کړی وه وایي چې د غور له پنځو څخه یو غر راسك (راشك یا ورشك) دی چې په تمران کې پروت دی کوم چې د غور د ډېرو لوړو غرونو څخه حسابیږی. (۲)

---

(۱) منهاج سراج، جوزجانی - طبقات ناصری، ۶۵۸ هـ ۳۴۱ مخ.
(۲) عبدالحی حبیبی - پنځوس مقالی ۱۳۶۲ هـ، ۲۸ مخ.

په يوه بل روايت تمران اوتمزان نژدی دکاروان د يوه رباط په اندازه (د مانشان) جنوب ته د مرغاب د چينود لمر ليوديزي وروستۍ برخې او د غور د جنوب شرق استيه په اخره برخه کې د دای‌کندي په غرونوکې پروت دی او اوس د ارزګان ولايت د دهراود دولسوالۍ يوهبرخه ده. [۱]

دافغانستان د لنډ تاريخ په ۲۳۲ مخ کې هغه وخت چې (۶۱۸ هـ) دملك شهاب الدين محمد فرنګ د زوی ملك ناصرالدين ابوبکر په لاس کې د ګزيو اوتمران حکمرانی وه ددی ښار موقعيت د کندهار ولايت شمالی خواته ښودل شوی دی.

دا تاريخی کلا چې په حدود العالم کې په عين شکل باندی ليکل شوی دتمزان لويديز ته پروت دی او د ارزګان ولايت دکجران سره نښتلی دی. د غوريانو او غزنويانو د ټولواکۍ دمخه يې لکه تمزان شهرت درلود. قاضی منهاج سراج يې د ګزيو په قطار کې يې شميری او زياتوی چې د تمران دا غرونه دغوردټولوسيمو څخه د عظمت او واقعيت له مخی زيات دی.

د تمران هری خواته غرونه دی اوله دی وضعيت څخه يي څرګنديږی چې په دی پراخی او غرنۍ سيمی کې زيات ښارونه موجود وو. چې دلته د زړو کلاګانو زياتی نښی نښانی ليدل کيږی. [۲] تمرانيان د غوريانو د واکمنۍ په وخت کې زيات شهرت درلود، د دوئ په منځ کې پوځی اداری او سياسی ستر شخصيتونه د سلطان غياث الدين محمد سام په دربار کې موجود وو لکه تمرانی ملك ناصر الدين، ملك مويد الدين، مسعود تمرانی او داسی نور.

دمنهاج سراج په قول دملك تاج الدين تمرانی لور د بهاءالدين سام اوملك شمس الدين محمد د غوری شنسب دکورنۍ له نسله وه چې ((معزيه ملکه))

---

(۱) محمدعثمان صدقی شهرهای اريانا – موسسه نشر کتب بيهقی. ۱۳۵۴ ش، ص ۴۳.
(۲) عزيزاحمد پنجشيری – جغرافيای تاريخی غور، ۱۳۶۰ش، ص ۹۲.

نومیدله او دی ملکی دخپل میړه تر شهادت وروسته سلطان غیاث الدین محمود د زیاتو تاریخی کرانامو مصدر ګرزیدلی وه.
همداشا د کرت دنسل په وخت کې تمرانیان هم زیات مشهور وو چې له دی جملی څخه تمرانی لوی حسن د وخت دنومیالو څخه شمیرل کیده.
د تمران کلا اوس دا تاریخی سیمه د یوه کوچنی‌کلی په نوم چې تیموریان وایي چې دا د تمران تحریف شوی شکل دی. د تمزان په لویدیز کې باقی پای دی او یو شمیر اوسیدنکی یې د وخت په تیریدلو سره فرسی، تولك او دهرات جنوبی سیمو ته مهاجرت کړی چې دتیموریانو په نامه ځانونه پیژنی. [1]

## تمزان:

د سیمی او تاریخی واقعی نژدوالی په ترڅ کې په ځینو مواردو کې تمران او تمزان یو مفهوم ورکړی دی او داسی فکرکیږی چې ګویا د تمران (ر) په (ز) تعویض او تمران تری جوړ شوی وی دی خو حقیقت دادی چې تمران او تمزان دوه ځانګړی ځایونه او محلونه دی او تمزان لکه تمران د غول له سیمو څخه شمیرل کیده او د تمران غوندی یوه مشهوره سیمه وه نن ورځ هم په دی نامه یادیږی.
تمران د ارزګان ولایت دګزاب په شمال غرب کې واقع دی شنی دری او په زړه پوری آب و هوا لری.
د تاریخی مدارکو له مخې تمزان د تمران سره خوا پخوا په ډېرو اثراو کې یاد شوی دی [2] او داموضوع ددی سبب شوی ده چې کله کله یې د تمران د نوم سره نژدی مفهوم ورکړی دی.

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری - جغرافیایی تاریخی غور، ۱۳۶۰، ص ۹۳.
(۲) اریانا مجله، ۷ ګڼه، ۱۳۴۰، ۱۸ مخ.

## ٢٤ - دتکانی کلا (کوټ)

(۶۴۴ هـ)

د تکانی کلا د غور د پخوکلاګانو څخه ده چې د اوومی پیړۍ ۶۴۴ هـ پوری اړه لری او د غور د کجوران کلا ته نژدی پرته ده.

### تاریخنامه هرات د دی کلا په هکله لیکی:

په کال ۶۴۴ کې ملك شمس الدین (مغلی قوماندان) د شلو زرو تنو سره له پنجاب څخه دی کلا ته راغی او د خپل بادار طایر بهادر دمغلی لښکر د مشر د پاره (چا چی دی یې د خیسار د کلا په حکمرانۍ ټاکلی وٶ) یې مالونه، وسلی، جامی اونور باجونه راټولول،تکانی د کلا ځینو اوسیدونکو دده ددی عمل سره مخالفت وکړ اودکجوران حکمران (ملك فخرالدین) ته ورغلل او هغه یې داسی پوه کړچې ګوندی ملك شمس الدین یې د نیولو د پاره راغلی دی. ملك فخرالدین هم دمغلی سلطی لاندی (چې دکجوران حکمران و) دواړه د خپل وراره ملك عماد الدین په واسطه ۱۵۰ جګړه مار ورسره وو، ملك شمس الدین یې ونیواو د تکانی کلا ته یې راووست او بیا طاهر بهادر ته ورغی او ورته یې وویل چې په تکانی کې یې خلك خپل بیعت ته رابلل او بیا خیسار ته، تل، موږ هغه ونیو او که ستا خوښه وی هغه به مړ کړو.
مغلی سردار ورته وویل: چې ملك رکن الدین زما دوست دی او نوموړی یې ماته سپارلی دی نو ماته یې راولئ چې موضوع تری وپوښتم، وروسته یې هغه ورته راوسته څرګنده شوه چې اصل موضوع دروغ ده. او دی وخت کې ملك عماد الدین له هغه ځایه تښتی.[1] په هر صورت دتکانی کلا مستحکمه

(۱) سیف محمد الهروی،تاریخنامه هرات، ۱۳۲۶، ص ۱۶۰ - ۱۶۱.

کلا وه او اوسیدونکی یې هم مړنی خلك وو. او تر ډېره حده د ورځنیو پالیسو سره بلد و لکه د ظالم سره همدغسی غولونې ضرور دی.

## ۲۵ – د وجیرستان کلا (قلعه وجیر)

(۵۴۴ هـ)

دی کلا د غور په وجیرستان کې موقعیت درلود، د اجرستان (تاریخی وجیرستان) او د وجیر په کلا هم مشهوره ده.

د غوریانو په تاریخ کې ددی کلا څخه د وجیرستان په باب دېره کمه یادونه شوی ده.

علاء الدین جهانسوز چې د غور په وجیرستان کې حکمران وو د خپل ورور سلطان بهاء الدین تر مړینی وروسته چې په فیروز کوه کې پاچاهی ته ورسید.

د وجیر کلا (د وجیرستان حکمرانی) دغه سوری سلطان، سلطان علاء الدین حسین جهانسوز ته ورکړه. [(۱)]

په یو بله تاریخی پیښنه کې ددی کلاڅخه داسی تذکر راغلی دی.

هغه وخت چې سلطان علاء الدین د فیروز کوه پر تخت کښیناست نو خپل وریرونه د سلطان شهاب الدین زامن (غیاث الدین محمد سام او معز الدین سام) یې د وجیرستان په کلا کې بندیان کړل. بیا وروسته (سیف الدین سام د پاچاهی په وخت کې هغوئ ددغه کلا له زندانه خلاص کړی شول. [(۲)] په یو بل روایت د ګزیو د معرفی کولو په لړ کې دتاریخی وجیرستان څه داسی یادونه شوی ده.

---

(۱) عبدالحی حبیبی، دافغانستان لنډ تاریخ، ۲۳۲ مخ.
- ناصری طبقات ۶۵۸ هـ، ۳۳۷ مخ.

(۲) عبدالحی حبیبی، همدغه اثر ۲۳۵ مخ.

... گزیو در تشکلات موجود به حکومت روزگاران (ارزگان) شمال قندهار مربوط و بغرب اجیرستان (وجیرستان تاریخی) همهء این نقاط عبارت از کوهسار، دره های شاداب و پر جنگ و چشمه سار است، اثار و بلاد قدیمه و قلاع کهن در موارد متعدد به نظر می رسد.
لنډه داچې وجیر یا وجیرستان همدا اوسنی اجرستان دی چې د ارزگان په ولایتکې موقعیت لری.
دوجیر ستان شهرت د غزنویانو او غوریانو په دوره کې دجغرافیه پوهانو لکه بلا ذری او داسی نورو په لیکنو کې موجود دی.

## ۲۶ - د شهرك کلا

د شهرك کلا د غور د لرغونو کلاگانو اوښارونو څخه شمیرل کیدله چې د غوری واکمنانو او امیرانو مرکز وؤ. اوس هم د افغانستان په اداری تشکیل کې په همدغه نوم پاتی دی.
فرانسوی جنرال فریه عقیده لری چې د شهرك ښار یو وخت د زیات نفوس درلودونکی و او یو ډېر ښکلی ښار وؤ. او اوس یې مساحت کم شو ی دی، ایماقانو هلته ژوند کاوه د ناصری طبقاتو په دوهم ټوك کې د غور د غرونود معرفۍ په لړ کې د شهرك څخه یوازې دومره تذکر راغلی دی.
... راهیکه میان تیوره (مرکز موجودهء غور)، شهرك و خواجه خشت هرات موجود است تا ۶۰ کیلومتر می رسد. (۱)

## استاد خلیلی د هرات په اثارو کې لیکی:

فریه بیا هم **۱۹۴۵** م د غورد یوه بمی شهزاده له خولی وایي:
د شهرك پخوانی ښار چې دولت یار ته نژدی پروت دی د غور پخوانی پایتخت دی (۲)

---

(۱) محمدعثمان صدقی، شهرهای اریانا ،موسسه نشر کتب بیهقی **۱۳۵۴**، ص ۶۴.
- منهاج سراج، طبقات ناصری ج۲، ص ۳۳۶ - ۳۳۸.
(۲) بارتولد، جغرافیه تاریخی ایران، ۱۳۰۸، ص ۱۰۳.

شهرك دهرات او چغچران په منځ کې پروت دی او د ختيزی خواته يې درياب او د جنوب په سيمه کې يې د نګار دجومات او نورو ودانيو اثار موجود دی.
د غوري دوری د بی سارو ودانيو څخه يو هم د جام منار د سلطان غياث الدين يادګار دی.
دملادی ۱۲ پيړۍ راوروسته هم د جام په دره کې شهرك موجود وٶ. [۱]

## ۲۷ - د کاسی کلا:

(۵۵۰ هـ_ ۶۰۷ هـ)

د غور د سيمو او ښارونو څخه يوه هم د کاسی کلا ده چې د غور په تاريخی پيښنو کې داسی يادونه شوی ده.
دا کلا د چغچران په شمال کې پرته ده او د دولت يارڅخه د ۳۷ کيلومترو په واټن موقعيت لری. او دټولو کليو په ګډون دهريرود په شمال کې واقع ده.
د کاسی شرق ته د قطس - غرب ته سونك، او الند / شمال ته غلمين، جنوب ته هريرود پروتدی.
د کاسی د مربوطاتو څخه يو هم د ((کند ديوال)) شيله ده چې د کاسی د وادی څخه چې ((بند بايان)) رينبو ته دننه تللی دی، د کاسی دره په بره سره او منځنۍ دره تقسيم او ۳۰۰ کورونه پکی موجوددیاوسيدونکی يې فيروز کوهی د خدايار او شيخ ادهم له کورنۍ څخه دی. [۲]

### د کاسی په اړوند په يوه تاريخی پيښنه کې داسی يادونه شته:

وايي چې ملك فخر الدين مسعود چې تر ټولو وروڼو مشر وٶ د غور په کاسی کې ۵۵۰ هـ) دمځه امير شو،په يو بل سند کې.

---

(۱) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيايی تاريخی غور، ص ۶۷ - ۶۸.
(۲) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور، ۱۳۶۰، ص ۱۰۰.

د سلطان غياث الدين په وخت کې د ۶۰۷ = ۱۲۱۱ م ملك ايرانشاه محمود د ملك علاء الدين بوعلي زوی د پنځه سوو زرو تنو غزنوی او کاسی لښکر سره پر غور او فيروز کوه يرغل وکی خو سطلان تری سر غوځ کړ [۱] ښايی وويل شی چې په دقيق ډولد کاسی او چغچران د يو محل او يو کلا په يوه محل کې موقعيت لری دوه نومونه دی چې اوس نشته دی.

## ۲۸ - د شورشنګ (شير سنګ) کلا

(۵۴۴ هـ)

دا کلا دهغو ځلورو کلاګانو (فيروز، فيوار او کليون) څخه يوه کلا ده چې د بهاء الدين محمد سام په زمانه کې **۵۴۴** هـ جوړه شوی ده.

د شيرسنګ کلا د هرات په غرونو کې موقعيت لری. [۲] د شور سنګ د کلا د قلعه سنګه يعني خول ماني سره يوه څه مشابهت لری، مګر داخبره د طبقات ناصري په قول د سلطان سوری چې استيه يې پايتخت ؤ بهاء الدين محمد سام ته يې قلعه سنګه ور کړه چې منديش يې دار الملك و. را پيدا شوی اشتباه يو څه رفع کوی او داسی معلوميږی چې د شور سنګه (سورنګ) کلا د قلعه سنګه څخه د مخه جوړه شوی ده. د يو بل روايت له مخی کله چې نو موړي سلطان د فيروز کوه پر تخت کښيناست په **۵۴۴** هـ =۱۱۴۹ م کې يې د نورو کلا ګانو د جوړولو په سلسله کې د هرات په غرونوکې د شير سنګ (شور سسنګ) کلا **۵۴۴** هـ جوړه کړه [۳] د پورتني څرګندونی له مخی ښکاره شوه چې شورسنګه او سنګه قلعه بيلا بيلي کلاوی دي او موسس يې هم بهاء الدين سام دی چې دمخه ورته دغه کلا ورکړي شوی ده. يا ممکن ده ددغه کلا کار اکمال کړي دی.

---

(۱) عبدالحی حبيبی، د افغانستان لنډ تاريخ. ۲۳۵ او ۲۳۹ مخونه.

(۲) قاضی منهاج سراج، طبقات ناصری، ج۱، ۶۵۸ هـ، ۳۲۷ مخ.

(۳) عبدالحي حبيبی، د افغانستان لنډ تاريخ، ۲۳۲ مخ.

## ۲۹- دفیروز کلا ۵۴۴ هـ:

لکه چې د شور سنګه کلا په بحث کې وویل شو د فیروز کلا د هرات په غرونو کې د بهاء الدین محمد سام په زمانه کې جوړه شوی او د هغه د دوري د څلو ګونو کلا ګانو څخه یوه کلا ده.

## ۳۰- دګزیو کلا (۶۱۸ هـ):

د ګزیو او تمران کلا وی یو او بل ته نژدي او تقیباً د غور یو خواته پرتي دی ګزیو د غور په ختیز جنوب کی د لوړو غرونو تر منځه د هیرمند درو. دواړو خواوو ته پروت دی. او په اداري تشکیلاتو کې د کندهار د شمالي ارزګان د حکومت پوری تړلي او د اجیرستان (تاریخی وجیرستان) په غرب کې موقعت لری. دا ټولی سیمي له غرنیو سیمو، تازه درو، ګڼو ځنګلنو اوړنو چینو څخه عبارت دی. په دی سیمو کې د پخوانیو ښارونو او زړو کلاګانو اثار په زیاتو موارد و کې لیدل کیږي. [1] ګزیو د ملك شهاب الدین محمد خرنك د حسین دزوی په وختکې دده زوی ملك ناصر الدین ابوبکر چې د غور د شهزاده ګانو څخه وو مقر و. لکه د طبقات ناصری (۱۲۲۰م) = ۶۱۸ هـ کې له ګزیو څخه لیدنه کړی اود پاچا په حضور مشرف شوی ؤ.

نن د ارزګان ولایت په اداری تشکیل کې یوه ولسوالی د ګزاب (ګزاب، کزیو) په نوم یادیږی ددی ولسوالي وګړی د ګیزو او دفتریان ورته ګزاب لیکی.

دا سیمه د ارزګان شمال غرب ته واقع ده او دهیرمند دریاب یې له منځه تیریږی د ګزیو لرغوی‌ن تاریخی ښار (دګزیو کلا) د مورخینو په منځ کې زیات شهرت لری اوتر اوسه پروې یې مخروبه اثار د مځکی پر مخ ښکاری.[2] ځینی

---

(۱) منهاج سراج جوزجاني، طبقات ناصری، ج ۲، ۶۵۸ هـ، ص ۳۴۱ و ۳۴۲.

(۲) عتیق الله پژواك، غوریان، انجمن تاریخ افغانستان، ۱۳۴۵، ص ۱۳۶ - ۱۳۷.

خلك ګزيو ته کيزو وايي د ((ك)) په زير اود ((يا)) په زور خو دفترواله او مورخين ورته ګزيو وايي دا په يوه غرنۍ سيمه کې د روزګاران شمال غرب ته چې د هلمند رود يې له منځه تيريږي.
د ګزيو کلا د شنسب دکورنۍ په وخت کې پوره شهرت درلوداو په ۶۱۸ هـ د غور د شهرزادګانو څخه د ملکزاده ناصر الدين ابوبکر د واکمنۍ مقر وو. (۱)

## ۳۱ - د ساچی کلا:

(۵۴۴ هـ)

د ساچی کلا د غور اومضبوطو کلاګانو څخه ده چې په اومه هجری پیړۍ کې تری په تاريخ کې ذکر راغلی دی.
دا کلا تيری ته نژدی موقعيت لری او د ابادیدو نیټه يې څرګنده نه ده وايي کله چې د تيری کلا د مغولی حکمران (ملك شمس الدين) له خوا ونيول شوه المار، شعيب افغان او مسندان افغان د هغه له خوا ووژل شو نو په دغو پيښو کې ددی کلا څخه داسی يادونه شوی ده.
((شعيب افغان)) بکشت، قلعه دوکی را نيز ګرفت، مسندان افغان را بقتل اورد و حصار ساچی را نيز بحرب کشاد و ويران شاخت واکثر مردم انجا را بقتل رساند. (۲) د پورتنۍ ليکنی له مخی دا د کهيرا، خاسك، تيری، او د دوکی د کلاګانو غوندی يوه پخه کلا او د هغوکلاوو د تاريخی پيښو په جريان کې د سندان، مستنك ښارونو او د تيری په نژدی سيمو کې پرته وه او د مغلی لښکرو د قساوتونو په لړ کې ورانه شوی ده.

---

(۱) اريانا مجله ۷ ګڼه - د تاريخ ټولنه - دولتی مطبعه، ۱۳۴۰ کابل، ۱۸ مخ.
(۲) معين الدين اسفزاری، روضات الجنات،طبع ۱۳۳۸، ص ۴۱۲ و ۴۱۳.

## ۳۲ - د تیر د هنده کلا:

د غوریانو په قلمرو کې د تیر دهنده په نوم هم یوه کلا موجوده وه له دی امله چې ممکن دغه دېرهکوچنۍ کلا وی او ستراتیژیکی اهمیت یې چندان زیات نه وٍ. نو ځکه تری په تاریخی پیبنو کې دومره یادونه شوی نه ده.

**د طبقات ناصری په لومړی ټوك کې ددی کلا په هکله هم دومره اشاره شوی ده:**

«او قاضی تولك یې د تیر دهنده په کلا کې پریښود.» [۱]

## ۳۳ - د بندراو کلا:

(۵۴۴ هـ)

د بندراو کوټ هغه کلا ده چې ۵۴۴ = ۱۱۴۹ م کې د بهاء الدین محمد سام د واکمنۍ په دوره کې د هغه له خوا د غور په غرجستان کې جوړه شوی ده.

دا کلا د هغه د څلور ګونوکلاوو څخه ده چې د غور ددغه لومړنی پاچا پهزمانه کې په غور کې ودانه شوی ده. [۲]

## ۳۴ - د پلروان کلا

د پلروان کلا د غور او غرجستان دکلاګانو له جملی څه یوه کلا ده چې د طبقات ناصری ج ۱ په ۳۹۸ مخکی ورته داسی تذکر ورکړ شوی دی.

معزالدین دملك شمس الدین سجستانی سره وٍ، سلطان غیاث الدیني نوموړی ځانته راوغوښت، دکوجوران ولایت او د استیه کلایې ورکړه، تر هغه وروسته چې سلطان غزنی ته راستون شواو خسرو ملك یې هم د ځانه سره هلته بوت او بیا یې د سلطان غیاث الدین حضور ته ولیږه او هلته یې دغرجستان بلروان په کلا کې بندی کړ.

---

(۱) قاضی منهاج سراج، جوزجانی، طبقات ناصری ج۱، ۶۵۸ هـ، ص ۴۰۰.

(۲) قاضی منهاج سراج جوزجانی - طبقات ناصری، ج ۱، ۶۵۸ هـ، ص ۴۰۰ او په تاریخی پیبنو کې تری هم یادونه شوی ده.

## ۳۵ - د کوهتیز (کوهشیر) کلا:

دا کلا چې په تاریخي اسنادو کې د کوهژ، کوهتیز، کوهشیرك او کوړك باندي مشهوره ده [۱] د غوریانو د زماني کلاګانو ته منسوبه ده. او د غوریانو د واکمنۍ د دوری په لومړنیو وختونوکې ورته داسي اشاره شوی ده: ابوالفضل بیهقي وایي کله یچ امیر محمدبن محمود د خپل ورور مسعود له خوا د کوهتیز (کوهشیر) په کلاکې بندي وءاو بیا له هغه ځایه دمندیش کلا ته یوورل شو [۲] پرته له دی یادوني څخه نور معلومات تر لاسه نه شول.

## ۳۶ - د سبکجي کلا:

دا کلا هم د غور د هغو کلاګانو له جملي څخه ده چې اسلام ورته ډېره وروسته لاره پرانستله او وايي هغه وخت چې علاء الدین جهانسوز د غوریانو پاچا شو نود سبکجي په کلا باندي يې شپږ کاله جګړه وکړه تر څو چې د هغي اوسیدونکي مسلمان شول. [۳] ددي ينبي څخه داحقيقت په ډاګه کیدای شي چې دا کلا د غور د ډېرو مستحکمو کلاګانو په جمله کې راتله او په پوخوالي کې ي لوړمقام درلود.

ددی کلا د جوړیدو ځای او نیټه نه ده معلومه.

## ۳۷ - د خوست کلا:

فزويني په اومه هجری پیړۍ کې د غور دمهمو ښارونو څخه يو هم خوست يادوی او ليری نهده چې دغه ښار د ((خشت)) سره د هيريرود په چینوکې پروت دی.

---

(۱) مجله اریانا، شماره اول - انجمن تاریخ - مطبعه دولتی، ۱۳۲۲ کابل، ص ۲۲.

(۲) منهاج سراج جوزجاني، طبقات ناصری، ج۱، طبع ۶۵۸ هـ، ص ۳۹۸.

(۳) منهاج سراج جوزجاني، طبقات ناصری، ج۱، طبع ۶۵۸ هـ، ص ۳۴۹.

خشت (خست) د دوو ورځو په واټن له اوخی (اوبی) څخه د یوه کلی په شکل پروت دی او اوبه د هرات مربوط د غور له توابعو څه ده. [۱]

## ۳۸ - د ایثار کلا:

دکلاګانو د څیړلو په لړ کې مې په کوم یو اثر کې د ایثار کلا هم له نظره تیره شوه چې په تاریخی پیښنو کې تری یادونه شوی ده. خو د هغی په متعلق کوم معلومات تر لاسه نه شول ممکن دا کلا د ایثار کلا او یا د غور کومه پله کلا وی.

## ۳۹ - د فخرآباد کلا:

د بامیانو د شنسبانو د سلسلې یعنی فخرالدین شنسب د بنا وو څه چې د ننی د غلغلی ښار په تاریخی بامیان یې حکومت کاوه،د فریه فرانسوی له نظره داکلا د قلعه سنګی څخه جنوب طرف ته د دوه ساعته لاری په اندازه موقعیت ولری.
فخرآباد یوه لرغونی کلا ده او ویل کیږی چې په زیاته اندازه موقعیت ولری.
فخرآباد یوه لرغونی کلا ده او ویل کیږی چې په زیاته اندازه د سرو زرو او سپینو زرو سکی له دی کلا څخه لاس ته راغلی دی. [۲]

## ۴۰ - د بشلنګ کلا:

(۴۰۱ هـ)

د غور د مستحکمو کلا څخه چې د جنګی استحکام له مخی یې اهمیت درلود د بشلنګ کلا ده په پریکونی دلیل دبشلنګ کلمه د (پ) په پیښن او د (لام) په زور یوی هغی کلا ته وایي چې د غره د پاسه جوړه شوی وی،

---

(۱) بارتولد، جغرفیای تاریخی‌ایران، ، تهران، ۱۳۰۸هـ.ش، ص ۴۴۳ - ۴۴۴.
- محمود عرفان،سر زمین خلافت شرقی مسترنج، تهران ۱۳۳۷.

(۲) عزیز احمد پنجشری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، ص ۸۶.

خواصطخری یې په په ب اړولی او د پیښ په ځای یې زور ورکړی دی.[١] دا کلا په پشلنګ، فشلنګ اوبشلنګ مشهوره ده چې دزمینداور د شمال غرونو په برخه کې یعنی د غور د جنوبی او جنوب شرقی وادی کې موقعیت لری. همدارنګه د عمید د فرهنګ له مخی د پشلنګ د کلمې اصل لکه چې د مخه ورته اشاره شوه د هغی یوی کلا په معنا دی چې د غره د پاسه جوړه شوی وی.

ابن حوقل لیکی: چې بلدي داور (زمینداور) د غور د سیمی د پریمانو نعمتونو درلودونکي یو اقلیم سیمه ده اوبغنین، خلج او بشلنګ هغه سیمی د چې د هر یوی سیمی حاکم د هغه په نون یادیږی. په همدی شان اصطخری هم دا کلا د زمینداور په سیمو کې معرفي کوی لکه چې لیکی:

داور د پریمانون نعمتونو یو اقلیم او دغور شفر دی، ینبن (بغنین) بشلنګ خلج او خاش په دی سیمه کې موقعیت لری.

سلطان محمود کله چې په دی محکمی کلا ((۴٠١ هـ)) شخصاً حمله وکړه، سیستانی فرخی لاندنی بیتونه د ده په مدح کې ولیکل:

*انکه بر کند به یک حمله در قلعه طــاق　　انکه بکشاد به یک تیر در ارگ زرنگ*

*انــکه زیــر سـم اسبان لپـه خورد بـسود　　بــزمـانی درو دیــوار، حصار پشــلنگ*

د پشلنګ د کلا موقعیت د موسی کلا د رود په غاړه د هلمند ولایت د بغران خولی د لکي په جنوب کې تثبیت شوی چې اوس هم د افغانستان په نقشه کې دی نوم پیژندل کیږی[٢]

---

(١) اریانا مجله، اریانا دایره المعارف ټولنه، دولتی مطبعه، ١٧.

(٢) غــزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی زمینداور، بولتن جغرافیه شماره پنجم ١٣۵٧، ص١٨.

- عزیز احمد پنجشیری جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل ١٣۶٠، ص٨۶.

## ۴۱- دخوابین کلا (۴۰۵ هـ):

د زمینداور په شمالي برخه کې د ښارونو څخه یو ښار او یوه کلا خوابین دی، د غور دا ایالت په ۴۰۵ هـ کې د غزنوی سلطان محمود له خوا فتح شو. په دی وخت کې دا سیمه د ابو الحسن خلف پوری تعلق درلود. دی شخص د سلطان مسعود په لښکر کشیو کې چې ۴۱۱ هـ کې یې په غور وکړل ګډون درلود.

بیهقی د خوابین څخه داسی یادونه کوی، امیر محمود (سلطان محمود) په ۴۰۵ هـ کې له بسته په خوابین چې د غور یوسیمه او دبست او زمینداور سره تړلي ده حمله وکړه هلته کافران وو چې ډیر پلید او ډیر غښتلی وو، زیاته اذوقه او پخی کلاوی یې درلودلی او امې مسعود یې هم له ځانه سره بود، ده د خپل د پلار د پاره ډېر خدمتونه تر سره کړل، ډېره زیاته مړانه یې وښودله تر څو یې هغه کلا ونیوله.[1]

طبیعی ده چې د مغلو د تاړاکونو څخه دا کله په امان پاتی شوی نه ده، خو تر دی زیات معلومات په لاس کی نشته.

## ۴۲- دخلج کلا ۳۰۰ هـ:

د غور د مستحکمو کلا ګانو او ښارونو څخه یوه هم د خلج کلا ده چې د افغانستان د حماسو په تاریخ کې خاص مقام لری. ددی کلا موقعیت د عربو د خبریالانو د لیکنو له مخی د غور د کوهستاناتو د مرکزی برخی په جنوب غرب کې دی. ابن حوقل په څلورمه هجری پیړی کې له دی کلا څخه یادونه کړی ده او اصطخری هم دا لیکنه تائید کړی او وایي.

د اور یوه سیمه ده چې ډېر پریمانه نعمتونه لری بغنین،خلج اوپشلنګ او خاص هم دلته واقع دی.

---

(۱) ابوالفضل بیهقي، تاریخ بیهقی، د داکتر غنی او داکتر فیاض مهران په اهتمام ۱۳۲۴، مخ ۱۱۴.

عزیز احمد پنجشری جغرافیای تاریخی غور ۱۳۶۰ کابل، ۸۷ مخ.

**د بيهقی په تايخ کې د دی کلا په باب داسی ويل شوی دی:**

د محرم د مياشتی په نولسمه د پنجشنبی په ورځ علی کوټوال له غزنی څخه د قوی لښکر په مشری د خلج لور ته وخوزيد چې ددی اوسيدونکو ورانکاری کړی وی، تر څو چې دوئ اصلح کړی، يا سوله وکړی او يا جګړه. په همدی وخت کې بوعلی کوټوال د غزنويانو په وخت کې خلج فتح کړ.

د بيهقی تاريخ د وروستی ځل د پاره په ۶۶۲ هـ دخلج نه په دی عبارتو يادونه کړی ده:

بوعلی کوټوال له خلج څخه راستون شو او هغه کار يې جوړ کړ، د ربيع الاول په مياشت کې امير ته راغی د هغه له خوا تقدير شو او بيرته ستون شو.

اوس هم دخلج يا خلچ په نوم د هلمند ولايت د بارکزائی د ناوی دولسوالۍ په مرکز کې دا کلی موجود دی. د غور په ځينو برخو کې هم دخلج په نوم د ترکيبی نوم په صورت دا تاريخی نوم ضبط دی. چې ددغی کلا د تاريخی شهرت څخه نمايندګی کوی، لکه چې د غور لويديز ته يوه ناوه د پير خلج د غره په نوم شته دی‌او دا نامتو والی يې ساتلی دی.

په حقيقت کې خلج د هيواد هغو نقاطو څخه دی چې تر ابده پوری به د تاريخ له پاڼو محوه نه شی او دا ځکه چې په هند کې د افغان د خلجيانو مشهوری کورنۍ له ډيرو مړنيواو غيرتمنو په مقام له همدی کوچنۍ محلی پوری انتساب لری.

د احمد علی کهزاد په قول چې د خلج په اړوند يې په يوه لنډه مقاله کې يادونه کړی ليکلی دی.

په هند کې د افغانانو يوه کورنۍ چې له موالی څخه وروسته سلطنت ته ورسيدله له ۶۸۷ – ۷۲۱ هـ پوری پنځه تنه د ډهلی پر تخت کښيناستل چې د خلجی په کورنۍ ياديږی او بنسټ ايښودونکی يې يو هم جلال الدين فيروز شاه خلجی دی.[۱]

---

(۱) عتيق الله پژواک، غوريان، انجمن تايخ افغانستان، مطبعه دولتی، ۱۳۴۵ کابل، ۳۵ مخ.

- عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور ۱۳۶۰ کابل، ۸۹ – ۹۰ مخونه.

## ۴۳ - د روزگارن کلا:

(۵۴۴ هـ)

د روزگاران کلا هم د غور د لرغونو کلاوواو ښارونو څه ګڼل کیږی چې د طبقات ناصری کې ددی موضوع په تایید لیکلی شوی دی.

د سلطان غیاث الدین په ژوندانه کې بست،وجیر، ګرمسیر، درمشان (درفشان) روزګاناو غزنین د ملك الحسابی علاء الدین محمد بن ابی علی له کلاګانو څخه یوه کلا وه.

د د تاریخی ښار دختیز خواته د دایه چوپان ولسوالی، جنوب ته دکلات غلزائي او ترین لویدیز ته موسی قلعه، شمال ته ګرزاب پروت دی.

دترین رود ددی سیمی د شمال شرق څخه دجنوب غرب په استقامت تیریږی او هغه خړوبوی په لویدیز کې یې دهلمند دریاب بهیږی اود چله خور رود چې د ارغنداپ د رود معاون دی دده په ختیز کې جریان لری.

په ارزګان او وجیرستان (اجرستان) کې اوس هم د تاریخی مخروبو اثار شته دی[۱]

## ۴۴ - دقره باغ کلا:

۵۴۴ هـ

قره باغ د مستر فریه فرانسوی له نظره چې د غور په باره کې د ډېرو زیاتو معلوماتو لرونکی دی هم یو وخت د غوریانو مرکز و. نوموړی پخپله سفرنامه کې لیکلی دی، چې شهزاده سعادت ملوك د شهرك دمنطقی (کلا) حکمران ماته وویل: د قره باغ ښار چې هغی خواته پروت دی یو پخوانی ښار و او په ډېرو خرابو باندی محاط دی‌او اوس هم یو شمیر اوسیدونکی لری. لکه چې د سرو زرو او سپینو زرو زیاتی سکی له دغه ښار څخه لاس ته راغلی دی. چې

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیایی تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل، ۱۳۶۰، مخونه ۹۰ - ۹۱.

زمونږ په عصرکې په دغسې غتوالي سکې بل چيرته ډېرې کمې ليدلې شوې دي. چې د يوې سکې قطر ۳ نيم انچه اټکل شوې دې وايي چې نوموړې شهزاده يوه سکه. (ماميجرتاو) ته ښوولې ده او دغه ميجر ماته ويلي وُ چې ددې سکې د پاسه د لوی سکندر صورت کښل شوی وُ. او د هيواد په يوه حاصلخيزه سيمه کې ددې مخروبو موجوديت په ګوته کوې چې قره باغ هماغه د (نساء) ښار وُاو نن د برك او کرك د درلودلو له مخې مشهو ردي.
بارتولد هم په خپله تاريخي جغرافيه کې د قره باغ څخه نوم اخستلی او د مستر فريه په وينا اسناد کوی او نور څه نه زياتوی. [۱]

## ۴۵ – د دولت يار کلا

(۴۴ هـ)

د دولت يار کلا هم دغورد تاريخې کلاووا وسيمو څخه يوهکلا شميرل کيږي.
دولت يار اوس يوازې د يوه کلې په توګه باقی پاتې دی چې د چغچران په ختيز کې د غورد عمومی سرك شمالی خواته واقع دی.
د دولت کلا (رباط) له پنجاب څخه ۱۵۳ کيلومتره او دماهې پر څخه ۱۵۸ کيلومتره په ليرې مسافه کې پروت دی.وګړي يې تخميني چې نژدې ۲۰۰ کورنۍ تشکيلوی. او د اداری تشکيل له مخې د چغچران د ولايت مرکز پورې تړلې دی. [۲]

## ۴۶ – چغچران کلا:

د چغچران کلا هم د غور دتايخې کلاوو له جملې څخه ده چې د شمال خواته دغور ولايت د لعل سر جنګل او د ولسوالۍ د غرب له خوا د شهرك ولسوالې (کلا) يوه برخه بادغيس ولايت، د جوند د ولسوالۍ پورې اود شمال له خوا د جوزجان ولايت د ميمنې او سرپل او د جنوب له خوا نه هم په شهرك پورې

(۱) عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور، ۱۳۶۰ ، ۹۶ – ۹۷ مخونه.
(۲) اريانا دايره المعارف، ۵ ټوك، ۱۳۴۸ کابل، ۹۹ – ۱۰۰ مخونه. او اوس نشته دی.

تـړلی دی، دچـغـچران څخه دوه لـوی سیندونه تیریږي. چې یـو یې هریرود او بـل یې مرغاب دی چې لومړنی یې له پنجابه او دویم یې لـه بامیان څخه سرچینه اخلي.

د چغچران لارې په عمومي ډول غرنۍ دی‌اویو خام سرك چغچران دهرات او بامیان سره نښلوی بند بایان د چغچران په جنوب کې پروت دی د ((لبدیان)) په برخه کې د دریاب شمال خواته یو ډېر لوړ او پرتمین منار واقع دی چې د معمارۍ له مخی د پوره پاملرنی وړ بلل کیږي دامنار داخل ته لار لری او کله چې یې سړی سرته وخیژی د ګرد چاپیر سیمی لیدلی کیدای شي د مینار ټولی څنډې په بیلو بیلو رنګونو رنګ امیزی شوی او ځینی مبارك ایتونه او احدیث پری لیکل شوی دی. [۱] په لاس ته راغلو په نورو اسنادوکې ددی‌کلا په باب زیاتره معلومات ونه موندلای شو.

باید وویل شی له کومه ځایه چې د چغچران او کاسی کلاوی سره نژدی دی نو له همدی امله ښایی دا دواړه نومونه د یوی کلا او محل وګنل شی.

او اوس یې څه پته نشته دی.

## ۴۷ - د چهل ابدال کلا:

د چهل ابدال په نوم هم غور یوکلا درلودله چې موقعیت یې دتیوری شمال ته د یخن فراز د سور د کلی دری سیمی اوعلاقی د څنډې شمال ته پرتی دی‌او یوه ګلابی او په مروطی شکل هوا ته جګه شوی ده.

دا تاریخی کلا جنرال فریه له نن څخه نژدی ۱۵۷ کاله دمخه لیدلی او چپ دالان په نوم یې یاده کړی‌ده او وایي چې چپ دالان د مځمکی دمخ د ډېرو جګو ځوکو څخه دی.

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیایی تاریخی غور، ۱۳۶۰ کابل، ۹۸ مخ.

هولدج دهند د درازې په نوم اثر کې په صحیح تلفظ چهل ابدال یاد کړی دی او وایي چې له دی ځایه یوه لوړه او ښه لار خواجه چشت ته تللی ده او دا لار هغه وخت چې د زرنی او تیوری څه د غره په سیوری کې تیره شوی نودغه چې دالان او چهل ابدال کلا چې د هغو شاوخوا سیمو د اوسیدونکو په عقیده کې ډېر زیات روایت او رازونه شته دی. دهولدج د وینا په استناد ددی کلا لوړوالی ۱۲۷۰۰ فټه یعنی ۴۰۰۰ مترو ته تجاروز کوی خو په حقیقی توګه یې لوړوالی ۲۸۷۰ متره دی او تر دی څخه بیا لوړ کوه سنګ دی چې دا هم د سیاه کوه په جنوب شرق کې یوه کلا ده او د غره لوړوالی یې ۳۹۲۳ متره لوړ دی.

دموسی قلعه د سیند اوبه ددې غره دجنوب ښکتنۍ برخی څخه تیریمی[۱] ددی غره په څوکه کې یو زیارت دی چې ټول غر او دهغه څوکه د همدی زیارت یعنی چهل ابدال په نوم شهرت موندلی دی.

چهل ابال او چهل ملنګ د غور د ځینو غرونو په تسمیه کې پوره دخالت لری.[۲]

## ۴۸ - د چار درکلا:

(۵ هـ - ۷ هـ ق)

د چاردرکلا د غور یوه لرغونیکلا وه، دا کلا اوس هم د یوه کلی په توګه دتیوری په جنوبکې ۱۲ کیلومتره وړاندی پرته ده.

د چاردردکلمی دتسمیی په وجه دهغه ځای دنژدی اوسیدونکی د یوه تن غوری له خولی داسی ویلی شوی دی چې چاردر یعنی څلور در او دا په دی معنا چې دا کلا د څلورو درو د خولو په تقاطع کې موقعیت لری.

---

(۱) غلام جیلانی عارض، نور جغرافیه پوهان، جغرافیای افغانستان، پوهنځی ادبیات و علوم بشری ۱۳۵۷ ش، ۴۵ مخ.

(۲) عزیز احمد، پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، ۱۳۶۰، ۱۰۲مخ.

**دغه ځلور واړه دري ددی کلا ځلورو خواوو ته لاندني ترتيب پرتی دی.**

- د چاردر د کلا شمال ته د پشکران دره.
- د چاردر دکلا جنوب ته د پيشور د (پشواره)دره.
- د چاردر دکلا شرق ته د جوز دره.
- د چاردر دکلا غرب ته د خرنك دره [1] ددی کلا دمخروبی نښاني اوس هم شته دی.

باید وویل شی چې د کلاسيك موقعيت له مخی دا کلا په يوه خاصه ستراتيژيکه نقطه کې پرته وه او دسياسی او پوځی اهميت له مخی خاص ارزښمنه ده.

## ۴۹ - د جوز درې کلا:

د غور د مهمو سيمو څخه يوه هم جوز دره ده چې دجوز درې کلا پکې پرته ده. او دا کلا د پوځی موقعيت په لحاظ زيات سوق الجشی اهميت لری، دا چې دغه کلا ډېره پخه او ډېره جګه ده نو تر اوسه پوری يې د پخوانيو مخروبو اثار لکه برجونه او نوری برخی د ځان سره ساتلی دی. ددی اثارو له مخی ګومان کيدای شي چې پخوا دلته زياتی ګڼی ودانۍ موجود وی.

د چار درې د ښۍ خوا د لاری سره متصل يو کلی شته دی چې يوه ټوټه ښکلی ديوال يې د نورو خصوصو تزئيناتو سره ليدل کيږی.

د تاريخی پيښو په ارتباط په دی هکله څه نه دی ويل شوی خو د پورتنۍ ليکنی په وروستنی برخه کې پسنګان د ښکلي او لوړ غره دسلسلو په لمنو کې د لوړو برجونو او لرغونو ودانيو (سبك) د يوه مستقيم خط په صورت د غره د ګردنی په يوه طرف باندی پورته تللی او د يامان کلی ته چې پنځه

[1] عزيز احمد پنجشيری، جغرافيای تاريخی غور ۱۳۶۰ کابل، ۱۰۴ مخ.

کیلومتره اوږدوالی لري، د لاري په اوږدو کې یو څه غونډۍ ګاني یعنی د پخوانیو ودانیو بقایاوي څو پلا غوځ شوي او بیا سره شروع کیږي.[۱]

## ۵۰- د یامان کلا:

(۵ ق هـ - ۷ ق هـ)

د تیوري دجنوب شرق په طرف اوس یوکلی دیامان (یمن) په نوم شته دی چې ددی کلی شمال غرب یو شمیر خرابی لیدل کیږی چې پراخه سیمه یې رانیولی ده، خو دا خرابی ښار ته نه پاتی کیږی، ځکه چې داټولی د یوی او بلی سره نښتلې نه دی او ویلای شو چې دا مخروبی د پخوانیواو ځانګړو کلاګانو د اثارو او بقایاوو څخه نمایندګی کوي. دا خرابی د یوی او بلی څخه د سلو او دوو سوو مترو په اندزه یو د بل نه لیری پرتی دی. د تمینی وګړی ددی خرابی مجموعی ته (ګله دیوال) وایي. ددی موجوده خرابو له نښو نښانو څخه څرګندیږی چې ددی کلا برجونه مختلف شکلونه لري، لویې او ساده لیندی په هغوئ باندی ایستل شوی دی چې د کلا د دروازی مدخل یې تشکیل کړی دی. عمرانی مواد یې عموماً خښتی دی د تهداب او د دیوال ځینی برخی یې له تیږو څخه محکمې دی.[۲]

## ۵۱- دپساوند کلا (پسابند کلا):

### (د پسابند د علاقی کلا یا شین کوټ)

د پسابند (ساوند) سیمه دغور د لرغونو منطقو څخه چې اوس هم په ادای تشکیلاتو کې یوه ولسوالی ده. یامان (یمن) چې پورته پری بحث وشو ددی ولسوالۍ یوه برخه ده. د پساوند لغوی معنا ((د غره شا)) ده.

---

(۱) عتیق الله پژواك. غوریان، انجمن تاریخ افغانستان ۱۳۴۵ ش کابل، ۴۵ مخ.

(۲) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، کابل ۱۳۶۰، ۱۰۵ مخ.

پسابند د غره له خوا نه دخطيف په ګردني. شرق له خوا نه (سنګان) د لوړو غرو د سپين بز، اوف تل، مستان بېلتون، خوينه، دايکنډۍ اود شمال له خوا د يمن او پسنګان په غره اود جنوب له خوا نه د کندلان، خواجه باز او د زميندا‌ور د پيرك په کليو محاط دی...

د کچی ګرد په برخه کې درې لاړې شته چې يوه يې د غرب له خوا چاردر ته تللی ده او بله يې د شرق خوا ته د يامان په استقامت امتداد لري. او دريمه لار يې جنوب او جنوب غرب ته د ورشك، زرني، او د نيلي د ګردنۍ له جګې برخې څه تيرېږي په کچی ګردکې يوه پخواني کلا ده چې په هغې کې د يوه ديوال ټوټه چې دېره ښکلې ده تراوسه پورې خپلې تاريخي علامې ساتلې دي. تر اوسه پورې ددې کلا د سنګ کارۍ، ديوالونه د برجونو ټوټې او حتی په تيرکش باندې د هغو تزئينات له منځه تللې نه دي. او د هغه وخت د فني هيئت د پوره مهارت، تزئيناتواو عمراني سبك د پلان د بې سارې توب نمايندګي کوي.[1] او داخبره هم جوتوې چې د غور په زياترو پخوانيو کلاګانو د پوځی محکموالي، ستراتيژيکي موقعيت تر څنګه د معماري هنري ارزښتونه هم په جدي توګه په نظر کې نيول شوي دي.

## ۵۲ - د ورشك کلا:

(۵۵ هـ ه ۵۷ هـ)

ورشك يا ورسك په کونړۍ اصطلاح د جګ غره يوه څنډې ته وايي. لکه دلته هم د ورشك موقعيت دا موضوع مستدلله کوي.

دورسك کلا د يامان څخه د ۱۳ کيلومترو په اندازه مسافه لري. اوسنی ورسك د يوه غره په څوکه د يوه څو کليوالي کورونو، نرۍ وياله اود څو ونو څخه عبارت دي. دلته د غره په پُوزه باندې د مربع شکل کلاوو څو مخروبې

---

(۱) عتيق الله پژواك غوريان، ۴۹ مخ - جغرافياي تاريخي غور - ۱۰۶ - ۱۰۷ مخونه.

چې له سختو او پنډو ديوالونو څخه جوړې شوی دی موجودی دی د ډېرو لويو تيږو ټوټې چې جګوالی يې په اوسنی تخنيکی وسايطو هم اسان نه دی ددغو ديوالونو په تهداب کې کاريدلی دی. او تر درو مترو پوری منظمه سنګکاری يې څرګنديږی، پاتی ديوالونه يې د ژيړی خاوری څخه پلستر شوی. ددی کلی اوسنی کورونه د پخوانيو پخو کلاګانو له موادو څخه ودان شوی دی.

د ورشك د کلا جنوب خواته يو غر دی چې هغه د يمن شاه ګردن وايي چې دا د ورزشی لوبو او پهلونی محل وئ. د ورشك څخه نيم کيلومتر رابنکته د غرب خواته يوه کلا ده چې د (ملك انتر) په کلا مشهوره ده. اوس دا کلا مربع شکله معلوميږی. ددی کلا د ديوالونو بقاياوی ښيیی چې د هغوئ جګوالی لسو مترو ته رسيده او په تير کشونو کې يې تر اوسه پوری مارپيچی تزئينات موجود دی د ودانۍ ښۍ او کينی خواته څو پوزی او د هغو برجسته ګی ګانی او دڅو کلاګانو مخروبې ليدل کيدای شي.[۱]

## ۵۳ – د بشوره (پشوره) کلا:

(۵ ق ۷ هـ پيړی)

د يامان کلی ته په شپاړسو کيلومترو په نژديوالی کې يوه بله ودانۍ موجوده چې د غور د لرغونو دورو زيات تاريخی اثار لری.

بشوره هم په يوه څلو لاری کې پرته ده چې يوه لاره يې ورشك ته، دوهمه يې د چاردر شمال غربی خواته، دريمه يې د پشوری جنوب غربی ته چې (سرمارود) ته غزيدلی ده (دا سرما رود البته. د رنجو غوندی تور او يا ژمنی رود دی) او څلورمه يې د جنوب شرقی ((اورپتو)) ته اوږده پرته ده.

(۱) عتيق الله پژواك غوريان، ۴۹ مخ – جغرافيايی تاريخی غور – ۶ ۱۰ ۷ ۱۰) مخونه.

د پشوری تایخی اثار د ژیړو ګونو غونډۍ ګانو په شکل د دهکدی غرب ته د کروندی پر مخ لیدل کیږی.
د هغی سیمی د وګرو په عقیده دا تارخی اثار د اسلام دمخه ودانیو پوری اړه لری. دجنوب شرقی غرونو په لړیوکې د تیرو د کلاګانو زیاتی مخروبی شته دی.
د پشوری کورنۍ له دیرشو کورنیو څخه زیاتی نه دی، د پخوانیو ودانیو د بقایاوو د زیاتوالی له مخی ویلای شو چې پخوا هلته زیات شمیر خلکو هستوګنه درلودله.
هر چیرته چې په دغه سیمه کې اوس کوم وړوکی کلی لیدل کیږی په **۵ - ۷** هجری پیړۍ کې هلته پخی او له برمه ډکی کلاګانی موجودی وی. هغه کلاوی چې اوس په جاردر، یامان خطیف، کجی ګرد، ورشك او پشوره کې شته دی، دا ټولی د معمارۍ له مخی په یوه سبك جوړی شوی (لکه چې یوه معمار او یا د هغه په څیر معمارانو پکی کار کړی دی) یوازې د تیرکشونود چاپیریال تزئینات یې یو له بله توپیر لری [۱]

## ۵۴ - دسرمژګان کلا:

ددي تاریخي کلا اوسیدونکی اوس دا کلا د سرمشګان په نامه پیژنی. په دی دره کې د هغو غرونو د مخروطو شکلو غاښو (ګردنو) چې د بڼو په څیر خوا په خوا پراته دی د مژګان نوم یې ورکړی دی.
ددی دری په پاسنۍ برخه یګ سرمژګان، منځنۍ برخه یې او ښکتنۍ برخه یې د مژګان په بیخ باندی مشهوری دی. دا دره چې د فراه ولایت د پرچمن ولسوالی په ختیز خواکې پرته ده دملکان له چینی څخه شروع کیږی.

---

(۱) عزیز احمد پنجشیري - جغرافیای تاریخی غور - ۱۳۶۰ کابل، ۱۰۸ مخ.

د شرمژګان کلا (کلی) عبارت دی له: ابشو، شین جبین، ده لفر، ده ترغان، دپای مژګان کلی، ده خرم جان، ده خرامان، ده بالا، ده ترسان او ده سواران، او له دی ځایه تر دل آرامه پوری ځو منزله لار ده. (۱)

## ۵۵ - د لروند کلا

لروند یو پښتو نوم دی چې په اصل کې (لاربند) ده. لروند یوه غرنۍ محوطه ده چې د څلورو خواوو څخه لوړو غرونو احاطه کړی ده او هغه غر چې جنوب شرقی خواته موقعیت لری د ((بلومه)) غره په نوم یادیږی. د لروند جنوب هم هغه لوی غر احاطه کړی چې لوړی څوکی او مخروطی شکل لری چې (اله زنګی) ورته وایي دجنوب غرب غر په (ختبنه) باندی مشهور دی چې معبر ته یې (آب سیب) وایي. چې د فراه خواته یې لاره تللی ده. د غربی خوا غر (غرق او) او د ختیزی خوا غر (بالارنګک) او (سو) نومیږی.
د لروند د شمال غربی سلسی غر به مختلفو نومونو لکه داعنه او غربالك باندی مشهوری دی او د (ناودان) غر شمال شرق ته واقع دی، چې کوتل یې د (کوتل سرخ) په نامه یادیږی اوس هم لروند د پرچمن د ولسوالی پوری مربوط دی (۲)
د لروند کلا هم په دی ستراتیژیکه سیمه کې موقعیت لری.

## ۵۶ - د حصار دره کلا:

د حصار دره د ترکان کلی څخه اته کیلومتره لیری پرته ده او دا د غور ډیره نژدی دره ده او سختی لارې لری، دلته یوه دحصار دره د کلا په نوم شته چې د دری کیلومترو لیری په مسافه یو مدور ساختمان لیدل کیږی چې د (تخت)

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور ۱۳۶۰، ۱۰۹ - ۱۱۰ مخونه (غوریان، د پژواك اثر ۵۰ مخ).
(۲) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور ۱۳۶۰، ۱۰۹ - ۱۱۰ مخونه.

په نوم یادیږي او د هغه په اطراف کې لرغوني اثار، دیوالونه او ودانۍ موجودي دي. او عقیده داسې ده چې د هغې ګرد چاپیر به باغیان موجود وو. په حصار دره کې هلته یوه له عجایبو غرایبو او سختو لارو خخه ډکه مغاره شته دی د حصار دری دکلا د پاسه د هغې د ودانۍ نښې نښانې اواثار موجود دي چې د صعب العبور له مخې له تعجب ډك دي او د غوریانو د دوری د عمراني صنعت له شهکارونو څخه یې ګڼلای شو. [۱] د غلغلی ښار هم د حصار دری کلا ته په نژدې سیمو کې پورت دي چې دمخه پری بحث شوی دی.

## ۵۷ - د ګرزیوان کلا:

**۵۴۴ هـ**

د غور د کوچنیو کلاګانو څخه یو هم د ګرزیوان کلا ده چې یوه ډېره مستحکمه او پخه کلا ده.

د چنګیزی تاړاکونوپه وخت کې د هغې مړنیو اوسیدونکو ډیر قهرمانانه مقاومت وکړ او د ژوند تر وروستنۍ شیبې پوری یې د چنګیز د لښکرو په مقابل کې دفاع وکړه، که څه هم چنګیز فکر کاوه چې په څو ورځو کې به دا کلا ونیول شي، مګر په دې وپوهیده چې په اسانۍ سره هغه نیول کیدای نه شي، نوشپه او ورځ یې جګړې ته ادامه ورکړه تر څو چې له یوې میاشتې وروسته د زیاتو تلفاتو ورکولو په بیه هغه کلا ونیوله، د کلا نر او ښځې یې له یوې مخې ووژل او کلا یې له بیخه ورانه کړه. [۲]

---

(۱) عزیز احمد پنجشیری، جغرافیای تاریخی غور، انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۰، ۱۱۱ مخ.

(۲) میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، طبع کتب، مطبعه دولتی ۱۳۴۶ کابل، ۲۱۱ مخ.

## غور پاتی نوری کلاگانی:

په غور کې د یاد شوو کلاگانو څخه پرته نوری زیاتی کلاګانی هم موجودی وی که څه هم دومره لویي او پخی نه وی خو بیا هم د تاریخی پیښنو له مخی زیات اهمیت لری چې دلته د هغوی په متعلق و مفصل معلومات د نه ترلاسه کیدلو په وجه یوازې د هغو یادونو ته اشاره کافی لیدل کیږی:

۱ - **د رنګک کلا**: په غرجستان کې.

۲ - **لاغری کلا**: په غرجستان کې.

۳ - **د ساخانه کلا**: (قلعه سناخانه) په غرجستان کې.

۴ - **د نای کلا**: چې خزانی پکی ساتل کیدلی.

۵ - **دمرنج کلا**:

۶ - **دکوه سنګک کلا**: د کوه سیاه په جنوبی شرقی سیمه کې.

۷ - **د کچی ګرد کلا**: (۵ - ۷ هـ. ق) د چاردر د سیمی یوه پخوانۍ کلا ده چې د لرغونو اثارو او عمرانی صنعت له پلوه ډیره په پوره ده (پژواك، غوریان ۴۸ مخ).

۸ - **د خطیف کلا**: د چار در د سیمی یوه کلا ده. (۵ ق. هـ)

۹ - **حصار تور**: د احسار هم یو ډیر محکم او حصار ۇ چې په کې پروت ۇ.

# نتيجه

کله چې مې د پوځي مسلك او د عسکری موضوعګانو په مطالعې او څيړنې هغه هم د لومړي ځل لپاره پيل وکړ هغه مهال و چې زه او استاد فضل اثر بی له حربی پوهنتون څخه د وسله وال پوځ په نمايندګۍ د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ((په دوو وروستيو پيړيو کې د پښتو د چاپي اثارو نړيوال سيمينار)) په نامه سيمينار کې ورمعرفی شو،د سيمينار په مقدماتی غونډوکې دنورو دندو سربيره، حربی پوهنتون ته ((په نولسمه پيړۍکې پښتو عسکری اصطلاحات)) د علمی تحقيقی مقاله هم وروسپارل شوه او بيا د حربی پوهنتون قوماندانی په دې تړاو د توظيف شوی کميسيون له خوا ددې مقالې ليکنه زما په غاړه واچوله، زما لپاره ډېره ګرانه وه،چې له يوې خوا نه مې د يو بی تجربې څيړنکي په توګه دا دنده په غاړه اخستلې وه او له بلې خوا نه ددې علمی، تحقيقی مقالي د ليکلو لپاره ضروري عسکری اثار بيخی نادراو د ترلاسه کولو امکانات يې بيخی کم وو هر څو چې مې د کابل د ښار په کتابتونونو حتی د شاهی ارګ په کتابتون کې د اړتيا وړ اثار وپلټل تر لاسه نه شول، تر ډېرو هلو ځلو وروسته مې د پښتو ټولنې او د اطلاعاتو او کلتور وزارت په کتابتونونو کې يويو اثر وموند هغه چې د امير شيرعلی خان او امير عبدالرحمن د سلطنت په دوره کې تاليف شوی وو دا وه چې د يوې غوټې مودې وروسته مې دغه ډېره پيچلی مقاله وليکله او ښايي په ډېر وياړ سره ووايم چې په نوموړی سيمينار کې چې د (۲۷) هيوادونو افغانستان پيژندونکو پوهانو ګډون درلود وه له خپلې مقالې څخه مې دفاع وکړای شوه.

دغه ډېر لوی علمی بریالیتوب زه دي ته وهڅولم چې د علمی، تحقیقی فعالیتونو هڅو ته دوام ورکړم او تر دې وروسته د پښتو ټولنې د افتخاری غړي په صفت مې په ټولو سیمینارونو کې یو څه فعاله ګډون درلود او بیا کله چې د سوری امیر کرړو جهان پهلوان د جوړیدو چارې پیل شوې ما غوښتل چې د غوریانو دجنګی کلاګانو په اړه یوه مقاله برابره کړم نو مې د خدای بخښلی محمد اکبر معتمد شینواری څخه په دې هکله مشوره وغوښتله هغوئ راته یوازې پنځه شپږ جنګی کلاوې را په ګوته کړې او دمقالې د لیکلو په باب یې هم راته لازمې مشورې او لارښوونې وکړې، دا وه چې د زیاتو اثارو د مطالعی په بنا مې ((د لرغونی غور جنګی کلاګانې او دهغو په متعلق تاریخي پېښې)) علمي، تحقیقي مقاله ولیکله لکه چې په سریزه کې ورته هم اشاره وشوه خو که څه هم د نوموړی سیمینار دارالانشاء (د غور او تدقیق کمیسیون) ټولو غړیو هغه مثبته ارزیابی کړه او تر دې دمخه په مقدماتی ډول د پښتو ټولنې ځینو پوهانو هم هغه ګټوره او مثبته ارزیابی کړی وه (چې اسناد یې را سره شته دی).

خودځینو متعصبو پوهانو له خوا ماته په سیمینار کې د هغې د لوستلو وخت رانه کړ شو او یوازې په دغه مناسبت یې زما دیو شعر په لوستلو زما برخه اخسته تعویض کړه تر دې وروسته د یوه علمی، تحقیقی اثر لپاره مې په دغه مقاله پراخ کار شروع کړ او حتی د زیاتو معلوماتو او د مطالعې د سرته رسولو په بنا مې څو رسالې هم ولیکلې.

دوه کاله وروسته چې مې د وسله وال پوځ د طبی علومو په اکادمی کې د لازمی مقررې څخه په ګټې اخستلو د پوهندوی علمی رتبه واخستله (د مقررې په حکم د پوهاندی درتبې د تثبیت لپاره (۱۵۰) نومرې ټاکل شوې په داسی حال کې چې ما ۲۷۴ نومرې درلودې او د اکادمی د علمی شورا له خوا ماته د پوهاندی رتبه پیشنهاد شوه، مګر داچې لوړې رتبې یوازې د لوړو بستونو او

عسکری لوړو رتبو پوري مختص شوي نو پرته له محاسبې يې زما نومرې (۱۰۲) تثبیت او په غیر عادلانه توګه يې د پوهندوی علمی رتبه راته وټاکله خو زه ناهیلی نه شوم بلکې په پوره علاقمندۍ مې نه يوازې د پورتنی اثر لاغنی کولو ته ملا وتړله بلکې په رسمی ډول مې د افغانستان دعلومو اکادمۍ د بیلا بیلو مرکزونو د درنو پوهانو په لار ښوونه او مشوره دنورو علمی، تحقیقی پروژو دسرته رسولوکار ته اقدام وکړ او د باستانشناسۍ د مرکز د محترم رئیس د محقق معاون فیروزی صاحب او د لارښود استاد په حیث د پښتو څیړنو دنړیوال مرکز دعلمی غړی او علمی منشی محترم نصرالله سوبمن صاحب په خاصه او پيرزوناکه لار ښوونه مې دا اثر بشپړ کړ.

په دې اثر کې ما تر خپلې وسې پورې هڅه کړې چې د لاژمو لومړی. او دوهم لاس اثارو په محتویاتو او پانو کې ددې اثر د لا بډاینې او ګټور توب په منظور زیات او تیت و پرك معلومات راټول کړم هغه چې د تاریخي سابقې له مخې پوره لرغونتوب يې درلود.

تر څو چې درندو پوهانو او مورخانو ته په زړه پورې نویوالی و لرلای شي او تر ممکنه حده دهغوئ د علاقی وړ رشتو او د هغوئ د څیړنو په برخه کې د اړتیا وړ موادو ماخذ وګرزیدلای شي. زما په عقیده په دې اثر کې یو شمیر کلاګانې د لرغون پیژندنې د فعالیتونو دمثمریت او استفادې له مخې د لرغون پیژندونکو په درد به وخوري په همدې ډول هغه محترم پوهان چې په راتلونکی کې که وغواړي چې د عسکري موضوعګانو په څانګو کې لیکنی او څیړنې وکړي د هغوئ سره به مرسته وکړای شي یوه بله موضوع چې د اهمیت وړ بلل کیږي داده چې ما د غور د کلا ګانو د تاریخی پیښنو په جریان کې داسی جدي واقعیتونه وموندل چې غوریانود یوه بې ساري مړنی، جنګیالی او ننګیالی فداکار ولس په توګه د خپلې خپلواکۍ، واکمنۍ او خپل ټاټوبی او کلاګانو څخه د یرغلګرانو د هر اړخیزو وحشتونو او مظالمو

سره سره داسې قهرمانانه دفاع کړی چې په تاریخ کې یې ساری بیخی کم لیدل کیږي. دوی په هیڅ صورت حتی د خپل ژوند تر وروستنۍ شېبې پورې شرافتمندانه مړینه پر ځان منلې خو دښمن ته یې د ننګینې تسلیمۍ او بدنام مغلوبیت غاړه نه ده ایښودله، د دښمن له خوا د دوئ د کلاګانو دمحاصرې او لا ډېرې اوږدې محاصرې په زیاتو ځورونکو له تحمل څخه په پورته شرایطو کې لکه د خوراکی موادو نشتوالی، د لوږې په مقابل کې د خپلو شهیدو مړو د غوښو خوړلو اود وبایي ناروغیو سره لاس او ګریوان کیدل او په دې نورو زهره چاودو شرایطو کې یې له خپلو کلاګانو څخه په پوره شهامت او رشادت مدافعه کړې وه او چې به کلا اوسیدونکی د ناروغیو له کبله له منځه لاړل او د دوئ شمیر به یو څو په شمیر کسانو ته راورسید نو د دښمن سره به یې مخامخ جګړې ته تر خپل وروستنی ژوند پورې دوام ورکړ. بیا به نو د دوئ په مړینه مغلو کلا ونیوله، وبه یې سیزله او ویجاړه به یې کړه.

په لرغونی غور کې د داسی کلا ګانو پېښې هم کتلای شو چې مغلو پکی لاس پوځي پیدا کړی او د دوئ په مرسته یې یا د کلاګانو په اوسیدونکو کې د زر او نفاق اچونې او یا یې د کلا د نیولو لارې چارې ورښودلې دي. او د دا ډول پلمو او پالیسۍ په کارولو یې کلاګانې نیولې دي.

مغلو همیشه هڅه کړې ده چې دغسی پست فطرت، دون همت او ناموس فروشو عناصر پیداکړی او دا ځکه چې د غوریانو د پخوا کلاګانو د نیولو لپاره دا ډېره اغیزمنه وسیله وه کنه له دې پرته هیڅ جنګی ځواك د زیاترو کلاګانو په نیولو بریالی شوی نه دی او یا یې هغه مهال نیولې دي چې د کلا ټول اوسیدونکی په مخامخ جګړه کې شهیدان شوي او میدان ورته خالي پاتې شوې دی. او بیا دغه هر خاین چې مغلو ته یې د بې ننګۍ ډك خدمت کړی و تر بریالیتوب وروسته د هغوئ له خوا وژل شوی دی.

لنډه دا چې دغه ډېر ترخه واقعیتونه دی چې دغسی بی ننګو عناصرو نه یوازې په ځان خرڅونه خپل ورونه او عزیزان د مغلی خونخوارو لښکرو په خوله کې ورکړي دي بلکې د کلا ګانو نښې نښانې یې هم له منځه وړي دي.
نو که زموږ په تاریخ کې د یوه مړني، باتور او فداکار ولس د سربښندنواو قهرمانیو کومې بیلګې وړاندی کول مطلب وي هغه به د کلاګانو د ساتلو او د مغولو په مقابل کې د پولادی مقاومت څخه غوریانو د تاریخي حماسو او کارنامو نه په غیر نور څه نه وي چې زموږ په لرغونی تاریخ کې د یوې ممتازې او بې نظیرې نمونې په توګه په میراث راپاتې دي.
په پای کې دا خبره هم د یادونې وړ ده کومی کلاګانې چې د تاریخی پېښو په اړوند یې نیتہ نه ده ثبت شوې ممکن دا کلاګانې یا د چنګیزی پوځونو تر بریدونو لاندی نه وي راغلي او یا دا چې دهغی تورې دورې وروسته ودانې شوی دي.

## غوښتنې او وړاندیزونه

هغه وخت چې مې د علاقې وړ موضوعګانو په تحقیق او څېړنو لاس نه و پوری کړی او ددې ډول مصروفیتونو په خوند او مزه نه وم پوهیدلی چې ګویا دا ډول فرهنګی فعالیتونه هغسې هڅې او لټونې دی لکه چې سړی په ایرو کې لعلونه ګوری او یا په شړو کنډوالو کې د سرو او سپینو زرو د سکو او نورو قیمتی شیانو پسې ګرزی، کنې اولټوی یې. او چې کوم یو وموندلی شی نود هیجانی خوښۍ اورضایت احساس ورته پیښیږی.
زه د خپل ادبی او ژورنالیستی ژوندانه د فرهنګی فعالیتونو د پیل کولو په دوره کې، د شعرونو، داستانونو، مقالو،ادبی ټوټو او په بیلا بیلو زمینوکې د مختلفو لیکنو سره دومره سرګرم پاتی وم چې مې فکر کاوه ددی بدیعو اثارو تخلیقول تر هر څه ګټور او غوره کار دی. خو مې تحقیقی،فرهنګی ژوند داسی وښودله چې په هره یوه زمینه کې لیکنی او تخلیق ځانته یو لړ ځانګړتیاوی او ارزښتونه لری. تر څو چې د تحقیقاتی مصروفیتونو اود څیړنود چارو سره مې هم مینه پیدا شوه او دا وخت وپوهیدلم چې دا ډول علمی، تحقیقی، فرهنګی او تاریخی فعالیتونه هم د یوه لیکوال او څیړونکی د پاره لاژم او تاریخی وظیفه ګڼل کیدای شي. خو وخت له وختنه تیر وُ نه هغه غنی کتابخانی د کابل په علمی او فرهنګی موسسو کې پاتې وی او نه هغه ټول اثار چې د یوه لیکوال او څیړونکی علمی او فرهنګی اړتیاوی پری لیری کیدلای شوی.
که د خپل هیواد تاریخی پس منظر ته ور وګرزو، بی له شکه چې په دی خاوره باندی که هر جابر او یرغلګر ډول ډول تجاوزونه او لوټماری کړی، خوتر دی

ټولو بربادونکي تباه کوونکي او له شرمه ډك د چنګیزیانو تاړاکونه دي هغه چې زموږ د ولسونو د بې سارو مدنیتونو ښکلې او ځلې ماڼۍ یې په ویرونکو کنډوالو بدلې او د هغو پر ځای یې د خپلو قساوتونو او خونکاریو په لړیو کې افغانانو له سرونو څخه کله منارونه جوړ کړل او زموږ د خلکو د پیړیو پیړیو د سترو شخصیتونو د علم او فرهنګ په زمینو کې لاس ته راوړنې چې د ګنجنیو حـــیثیت یې درلـــود د خـــارو سره بـــرابـــرې کړ، چې بالاخره د اوروستنۍ تنظیمي جګړې هم زموږ په دغه مظلوم او محکوم ملت باندې بیا تحمیل شوې د زورواکانو او ټوپك سالارانو حاکمیت او بې بندوبارۍ په تور تمو شرایطو کې د چپاولګریو، ورانکاریو، خونکاریو او داسې نورو بیلا بیلو کرکجنو او ناولو اعمالو د تر سره کولو په ترڅ کې مو ولیدل چې زموږ د ټولنې د سرشارو شتمنیو په مقدراتو د ماشومانو لوبې وشوې که چنګیز او هلاکو ژوندي وای او ددغو ټیکه دارانو وحشیانه کار روائي ګاني یې لیدلای وای نود تعجب څه به یې ګوتې ورته په غاښونو کې نیولې وای.

موږ شاهدان یو چې تاریخي لرغونې ودانۍ یې کنډرې وګرزولې، د اقتصادي تشبثاتو ګرده مرکزونه یې له منځه یوړول او حتی په نوم کتابونو یې هغسې ناوړه لوبې وکړې چې د تصور نه د باندې دي.

ما په خپلو سترګو ولیدل چې په نوم کتابونه دا زموږ دهیواد د فرهنګیانو د عمرونو د زیار ګالنو، د هغوئ د ذهني او فکري ستړیاوو، تجربو او پوهې محصول او د ایجادګریو پانګې یې د وچو لرګیو پر ځای وسوزولې او لا په ډېره بې شرمۍ یې له کتابخانو څخه د خاك اندازونو په توګه کار واخیست، چې ددغو جنایتکارانو ددې ناولو او خبیثو اعمالو په نتیجه کې زموږ دلته پاتې فرهنګي شخصیتونه د یوې هغسې وارخطایي او مایوسیو سره مخامخ شول چې د روانو جګړو فاجعو، ناتارونو، راکت بازیو، لوږې او هر اړخیزو مجبوریو د دغسې ویرجن حالت سره پخوا نه و مخامخ کړې چې ډېر ویانده

مثال يې زموږ دهیواد نامتو، تکړه او پیژندل شوی فرهنګی شخصیت اروانښاد دوست شینواری ناڅاپی ضايعه ده وایي چې یوه ورځ نوموړی دانشمند د پخوانۍ پښتو ټولنې په مقر کې چې خپل دفتر ته تللی ؤ او کله چې يې هلته دکتابخانې یوې کوټې ته سر دننه کړ نويې په خپل هغه یوه اثر سترګی ولګیدلی چې لویې میتیازې پرې شوې وې. که هر څو په خپلو سترګو بې باوره شو خو بیا هم هغه عمل یو واقعیت و .. او یو زښته زيات لوی جنایت او خیانت ... نو دخپل کتاب ددغسې غیر اسلامی او ننګین حالت په لیدلو يې دواره د خپل وطن د فرهنګی حالت داینديې دورنما، سترګو ته نیغه ودریدله، په وجدان او ضمیر يې یوه دهشتناکه زلزله راغله او د ډېرې تراژیدیکی بدې وضعې د درلودلو سره خپل کورته راستون شو.. او چې په بله ورځ خبر شوم د هغه زړه له حرکته ودریدلی او له دغسې ډیرو وحشتناکو صحنو او پیښو له نورو لیدنو څخه يې تر ابده سترګی پټې کړې وې.

د پورتنیو یادوونو څخه زما مطلب دادی چې ویجاړ شوي ښارونه او ودانۍ به بیا جوړې شي، واټونه او لارې به بیا وغزولی شي. ښکلی او لوړې ماڼۍ به ودانی شي او زموږ هیواد به د مادی شکلونو له مخی جوړ شي خو د تاریخ نومیالی او فرهنګی شخصیتونه به بیا راژوندی نه شي او دهغوئ اثار به بیا ایجاد نه شي.

هوکی علمی او فرهنګی شتمنۍ د یوه ملت بې ساری، سرشاری او تلپاتی خزانی دي او دهغوئ په هره رشته کې ټول اثار دنادرو او کمیابو اثارو له جملی څخه ګڼل کیږي په تیره بیا چې دغه اثار لرغوني او تاریخی صبغه او سابقه ولري او زموږ د خلکو خلاقتیونه، نووښتونه او اتلولۍ پکی منعکسې شوی وی.

ښه مې په یاد دي هغه مهال چې مې د غور د جنګی کلا ګانو مقاله او بیا دا اثر لیکه د کابل ښار د علمي او فرهنګي موسسی ټولې کتابخانې بیخی ړنګې

وي خو افسوس چې بیا وروسته د هم هغو کتابتونونو سرنوشت هغسې دی چې لکه په پورتني ډول بیان شو.

په هیواد کې ددې قحط الرجال حالت باوجود د قحط الکتاب حالت هم موجود دی چې په دې توګه علمي تحقیقي فعالیتونه څه ساده خبره نه ده او بیا کله چې ما ډېر ناوخته دشرایطو د نه مساعدت په حالت کې ددې اثر د علمي، تاریخي او تحقیقي میتودونو او معیارونو په پام کې نیولو سره د هغه په بشپړولو لاس پورې کړ د پوره ستونزو سره مخامخ وم.

په هر صورت دادی ددې اثر په اړوند خپلې هیلې او وړاندیزونه په لاندې ډول وړاندې کوم:

۱ – د پورتنیو ملحوظاتو له مخې مې تر هر څه وړاندې د ښاغلو فرهنګیانو او د مطالعې دعلاقمندانو څخه هیله داده چې زما دغه معذرتونه او مجبوریتونه به په پام کې ونیسي او د اثر نیمګړتیاوې به زما په نه زیار ایستنه تلقی نه کړي.

۲ – زما ددې اثر له محتویاتو څخه په ډاګه کیدای شي چې په ځینو برخو کې ما د اثر دمشخصو موضوعګانو سربیره یو څه زیاتګی لیکنې هم ورسره نښلولې دی د بیلګې په توګه د یو ښار دپوځي ماهیت اود لرغونتوب د خصوصیت تر څنګه د هغه ښار او کلا په فرهنګي او مدني ارزښتونو مې هم یو څه بحث کړی دی او دهغوئ د پوځي پېښو په خوا کې په ځینو نورو پیښو اوحالاتو باندی رڼا اچول شوې ده باید وویل شي چې مې ددې اثر دمشخصاتو له پولو څخه دا زیاتښت ددې لپاره کړی دی چې نه یوازې دهغه ګټور توب ته کوم زیان نه رسوی بلکې د نورو څانګو دمحققینو سره د هغوئ د معلوماتو د لازیاتوالی په برخه کې یو څه کومك وکولای شي.

۳ - که څه هم زموږ هیواد له حماسو او کارنامو څخه ډك یو پرتمین تاریخ لري او زموږ د لرغوني تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت شوی دی.

خو کله چې د امیر شیرعلی خان له دورې راوروسته په هیواد کې د یو منظم اردو بنسټ کیښودل شو، ځینی پوځي اصولنامې، مقررې اونظامنامې تدوین او چاپ شوې او بیا د شاه امان الله په عصر کې هغه تکمیل، ترویج او عمومیت یې پیداکړ او په خاصه توګه د روانې پیړۍ د لسیزی راهیسي یعنی د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دوره کې په هیواد کې د عصر د غوښتنو سره سم نوی اردو تشکیل، عسکري مطبعه فعاله شوه او د عسکري ژوندانه د مناسباتو د غوره سنبالښت اوانسجام په خاطر نوې اصولنامې، مقررات او پوځي موازین تدوین او چاپ شول، پوځي لیکوالان رامنځ ته شول او ډګوتو په شمیر یې دعسکري موضوعګانو په تیره بیا د اردو په تاریخی سوابقو لیکنې پیل کړې چې په دې برخه کې د وخت د محترم ډګر جنرال غلام فاروق لوی درستیز، محترم ارکانحرب علی احمد جلالي، محترم ډګر جنرال عبدالرزاق میوند، محترم برید جنرال شاپور احمدزی، محترم محمد سعید و هابزاده، محترم سید عثمان اندیشه، محترم ګلزرك ځدراڼ، محترم نوالله تالقانی، محترم استاد شهید فضل الربی، (چې دعسکری تاریخ لیکنی پروژه تری ناتکمیله پاتې شوه) محترم سباوون او داسی نورو پوځي شخصیتونو، عسکری او تاریخی لیکنی او تتبعات د قدر وړ بولم او پراخه ګټه ترې اخستل کیدای شي، خو بیاهم لکه څنګه چې ښایي زموږ نورو نظامي لیکوالانو او شخصیتونو یوازې حربی فن، مسلکی او تاکتیکی برخو ته جدی پاملرنه کوله او خپلو فعالیتونو ته یې دعسکری ښوونې او روزنې چارو او اپراتیفی، تخنیکی او مسلکی مقالو ته استقامت ورکاوه او دعسکری

لرغوني او عنعنوی تاریخ او جاری تاریخ په باب یې تحـقیقات او تـتبعات تر سره نه کړل چې دا زموږ په عسکری ساحه کې ډېره لویه خلا بلل کیدای شي، نو مې د محترمو پوځي لیکوالانو او محقیقینو څخه په تیره بیا چې د هیواد نه د باندې دی، قلم او کتاب یې له لا لاسه نه دی غورځولی او د مطالعی او څېړنو لپاره د مربوطو هیوادونو د کتابخانو څخه پراخه استفاده کولای شي خلوصانه توقع داده چې د افغانستان د پوځي او عسکري ګردو موضوعګانو په اړوند لرغوني تاریخی اثار رامنځ ته کړی او زموږ د هیواد د پوځي لرغونی اثارو د نشتوالي نقیصه لیرې کړي او د پوځي محققانو لپاره هم مسلکی مـاخـذونه په واک کې ورکـړي.

*و من الله التوفیق*

*پوهاند ((رازقی)) نړیوال*

# اخستليکونه


١ - اسفزاری معين الدين محمد الزمچی روضات الجنات في اوصاف مدينه هرات، بخش يکم ١٣٣٨ .

٢ - اسفزاری معين الدين محمد الزمچی روضات الجنات في اوصاف مدينه هرات، بخش دوم ١٣٣٩.

٣ - اريانا دايره المعارف ټولنه - اريانا مجله شماره اول - دولتی مطبعه، کابل، ١٣٢٢ ش

۴ - اريانا دايره المعارف ټولنه - اريانا مجله شماره هفتم - دولتی مطبعه، کابل، ١٣۴٠ ش.

۵ - اريانا دايره المعارف ټولنه - اريانا دايره المعارف، ٧ ټوك، دولتی مطبعه، کابل، ١٣۵۵ ش

۶ - اداره‌ء مرکزی احصائيه - اتلس محلات افغانستان، کابل، ١٣۶۴ ش

٧ - الهروی سيف محمد بن يعقوب تاريخنامه هرات در اوايل قرن هفتم به تصحيح پروفيسورمحمد زبير الصديقی، ١٣٢۶.

٨ - بارتولد (ترجمه حمزه سرداد داور) جغرافيه تاريخی ايران، تهران، ١٣٠٨

٩ - بيهقی خواجه ابوالفضل محمد بن حسين، تاريخ بيهقی، کميته طبع کتب، کابل مطبعه دولتی، ١٣۶۴.

١٠ - پژواك عتيق الله، غوريان، انجمن تاريخ افغانستان، کابل، ١٣۴۵

۱۱ - پنحشیري، عزیزاحمد، جغرافیاي تاریخي غور، انتشارات پوهنتون کابل، مطبعه پوهنتون، ۱۳۶۰

۱۲ - جلالي علي احمد، مطالعه تاریخ افغانستان. از نگاه عسکر ي ج۱، مطبعه نشرات اردو، ۱۲

۱۳ - جلالي، علي احمد، مطالعه تاریخ افغا نستان، از نگاه عسکري ج۲، مطبعه نشرات اردو ۱۳۴۱

۱۴ - حبیبي، پوهاند عبدالحي (ژباړن عبدرالروف بینوا) دافغانستان لنډ تاریخ ۱۳۴۶

۱۵ - حبیبي، پوهاند عبدالحي، پنجاه مقاله ،د ښووني او روزوني مطبعه، کابل ۱۳۶۲

۱۶ - جوز جاني، منهاج الدین سراج معروف به قاضي منهاج طبقات ناصري، ج۱ - ۶۵۸

۱۷ - جوزجاني، منهاج الدین سراج معروف به قاضي منهاج طبقات ناصري، ج۲

۱۸ - ساد، خیر محمد ، تاریخي پلټنې، غوریان څوك دي

۱۹ - سیفزي شهزاده، مدنیت غوري در افغانستان. پوهنځي ادبیات وعلوم بشري کابل ۱۳۵۵

۲۰ - صدقي، محمد عثمان ، شهر هاي اریانا. موسسه طبع کتب بیهقی، مطبعه دولتی کابل، ۱۳۵۴

۲۱ - عرفان، محمود، ترجمه جغرافیاي تاریخي سرزمین هاي خلافت شرقي، لسترنج، تهران، ۱۳۳۷.

۲۲ - غبار، میرغلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه طبع کتب، مطبعه دولتی ۱۳۴۶ (۱۹۶۷).

۲۳ - غوری، مرحوم ډګروال ظاهرشاه (مشاهدات او روایات).

۲۴ - غلام فاروق ډګرجنرال، تاریخ حرب، نشرات اردو، مطبعه وزارت دفاع، ۱۳۴۶.

۲۵ - قادیانی، ابو شرف ناصح بن ظفر ....، تاریخ عینی، ۶۰۳ هـ.

۲۶ - مبارکشاه محمد، اداب الحرب والشجاعه به تصحیح و اهتمام خوانسازي تهران ۱۳۴۶.

۲۷ - میر حسین شاه (ترجمه) حدود العالم، مولف ګمنام، پوهنځی ادبیات و علوم بشری، کابل، ۱۳۴۲.

۲۸ - هوتك، محمد بن داؤد، پټه خزانه دوم چاپ، دولتی مطبعه، کابل، ۱۳۳۹.

## د لیکوال لنډه پېژندنه

پوهاند استاد محمدصدیق ((رازقی)) نړیوال د ملك عبدالرازق زوی اود محمد صدیق خان نمسی په ۱۳۲۰ هـ ل د کونړونو ولایت د بر نرانګ د کلي په یوه بزګره، بارسوخه او روشنفکره کورنۍ کې زیږېدلی دی.
خصوصی زده کړې یې د فقهی او د دري د نظم په برخه کې مخکې تر دې چې په ښوونځی کې شامل شي لومړی یې د خپل پلار او مشر ورور احمد هاشم خان او ورپسی د کلی له ملایانو او مرزایانو څخه وکړې، لومړنۍ سستماتیکی زده کړې یې د ۱۳۲۹ کال د جوزا په میاشت کې دنرنګ په کلیوالي ښوونځی کې، بیا یې د اسدآباد د لومړني ښوونځی په څلورم ټولګی کې پیل کړې او چې دنرنګ ښوونځي لومړني ته ارتقا وکړه، بیرته یې څلورم ټولګی له سره پیل او په ۱۳۳۷ له هغه ښوونځي څخه په لومړنۍ درجه فارغ شو اوپه همدیکال د یو هیئت له خوا حربي ښوونځی (لیسه حربی) ته انتخاب شو. په ۱۳۴۳ هـ ل له حربی ښوونځی څخه په ډېره ښه درجه د بکلوریا په اخستلو بریالی شو اود خپل ذوق خلاف چې لوړې زده کړې چې باید د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځی کې تر سره کړی وای، د حربی پوهنتون د استحکام او کیمیا په پوهنځي کې یې، دکیمیا په څانګه کې په ۱۳۴۶ هـ ل په ډېره ښه درجه د لیسانس په ترلاسه کولو پای ته ورسولې.
د تحصیل د دورې د رخصتیو په موده کې یې د قران مجید دڅو سپارو ترجمه کړې او د لومړی ګنځ (کنز) په شمول یې د فقهی د لومړنیو کتابونو زده کړه کړی ده او هم یې دخدمت په موده کې د ژور نالیزم د شپږم میاشتنی کورس د بشپړولو لومړی درجه سند اخستلی دی.

## دندې:

لومړنۍ دنده يې دانجينرۍ په لسمه قطعه کې د کيميا د آمر او دڅو جزوتامونو د پښتو د کورسونود ښوونکی په صفت پيل کړه، بيا په حربی پوهنتون کې د قرارګاه دکتابتون د امر. دحربی پوهنتون د مجلې د مدير او دنشراتو د آمر په توګه او ورسره د پښتو د ښوونکی په توګه وظيفه اجرا کړه، بيا د اردو په نشراتو کې، ورپسی د ستر درستيز د سانسور په مديريت کې. ورپسی د طبی علومو د اکادمۍ دنشراتو د آمر او تدريسی مدير او ددې ترڅنګه د پوځي اصولنامو او دکيميا د استاد په صفت دنده تر سره کړې ده د بدلولو او رابدليدو وروسته د دريم ځل لپاره په حربی پوهنتون کې د تاريخ حرب د استاد په توګه دنده اجرا کړې ده.

## داستاد پوهاند نړيوال ادبی،علمی او فرهنګی فعاليتونه:

پوهاند رازقی نړيوال له ۱۳۳۴ کال دمخه په شعرو شاعرۍ لاس پورې کړی دی او چې لومړني دوه شعرونه يې په ۱۳۳۴ هـ ل د اتحادمشرقی (ننګرهار ورځپاڼه) کې چاپ شول نو يې شعر ليکلو اوشعر لوستلو ته ملا وتړله او له ۱۳۳۷ راهيسې يې په کابل کې ادبي فرهنګی فعاليتونه پيل کړل او تر اوسه پورې دمرکز او ولايتونو په ټولو نشراتو کې يې په څوارلسو مستعارو تخلصونو اثار چاپ شوی دي. چې تر ۱۳۷۰ کاله پورې يې د ټول هيواد په مطبوعاتو کې تر ۲۰۰۰ عنوان زيات مقالې او اشعار چاپ شوي دي او اوس يې په ټولو زمينو کې د مستقلو کتابونو شمير تر (۶۰) ټوکو زياتيږي.

چې د نمونې په توګه يې يو څو په لاندنی ډول معرفي کيږي.

## د پوهاند نړيوال چاپ شوی کتابونه:

۱ - انديښنې (شعری مجموعه) ((په دوو وروستيو پيړيو کې د پښتو د چاپي اثارو دنړيوال سيمينار)) په مناسبت په ۱۳۵۶ کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت، دژوندون مجلې له خوا چاپ شوی چې متاسفانه يوازې د سيمينار په غړيو تر ويشلو وروسته سانسور شوه.

۲ - ((د افغانستان استحکامی کلاوې، حصارونه او بالاحصارونه) په ۱۳۸۳ کې په شخصی لګښت د ميوند په نشراتی موسسه کې چاپ شو.

۳ - د هيواد ښارونه او د تاريخ پاڼی (د هيواد لرغونی ښارونه) درې ټوکه. لومړی او دوهم ټوك يې په وقفوی ډول د هيواد په ورځپاڼه کې چاپ شوی او دريم ټوك يې خطی نسخه ده.

۴ - ((په پښتو شعر کې مذهبی څرکونه)) دشريعت په اخبار کې چاپ او دليکوال اعدام ته په محکومولو نور يې چاپ بند کړی شو.

۵ - د لرغونی غور استکامی کلاوې (همدا اثر) تر چاپ لاندې.

## د استاد نړيوال له خوا ژباړلی چاپ شوی کتابونه:

۱ - د پوهنې وزارت د درسی نصاب پروګرام. د يونسف له خوا.

۲ - د پوهاند غلام جيلانی (عازم) ((په افغانستان کې د استوګنځی ستونزی)) د اثر پښتو ژباړه د اکبر موسسی له خوا چاپ شو.

۳ - د پوهاند جيلانی (عازم) ((د افغانستان سيندونه)) د اثر پښتو ژباړه تر چاپ لاندې د اکبر موسسی له خوا.

۴ - د روغتيا د نړيوالی موسسی (WHO) ځينی روغتيايي اثارو مجموعه.

## هغه اثار چې د استاد نړیوال په اهتمام چاپ شوی دي:

۱ - د پښتنو تاریخ، لومړی ټوك په قاضی عطاء الله تالیف، په افغانستانی پښتو تر اړونې وروسته، په دوو وروستیو پیړیو کې د پښتو د چاپی اثارو دنړیوال سیمینار)) په مناسبت په ۱۳۵۶ کال د اردو په مطبعه کې.

## چاپ شوې رسالې:

۱ - د پوځي سانسور دمقررې مسوده چې د عدلیې وزارت له خوا رسمی شوه د اروانباد ډگروال محمد موسی محتاج په همکارۍ.

۲ - د استقلال په جګړه کې د چترال ځلورمه جبهه (په متفرقه ډول).

۳ - د کابل درې شاهی ارگونه، د انیس په ورځپانه کې.

۴ - د هیواد لرغونی منارونه او تاریخي څلي (په متفرق ډول)

۵ - د کابل بالاحصار لنډه پیژندنه، د اردو په مجله کې.

۶ - کتاب او شخصیت، دحربی پوهنتون مجله، ۱۳۵۵ کال.

۷ - سفر لیکونه، د هیواد او انیس ورځپاڼې او اردو مجله.

۸ - د افغانستان د بیرغ او علم مبارك تاریخچه، د اردو مجله.

۹ - د هیواد تاریخي ابنیې او آبدات او د کابل پلونه، انیس ورځپاڼه، پامیر جریده.

## په ملی او نړیوالو سیمینارونو کې مقالې:

۱ - په دوو وروستیوپیړیو کې د پښتو چاپی اثارو نړیوال سیمینار کې: په نولسمه پیړۍ پښتو عسکری اصطلاحات، علمی، تحقیقی مقاله، ۱۳۵۶ کال.

۲ - د مترقی مطبوعاتو سیمینار کې: ۱۳۵۸ کال.

۳ – دخوشحال ختټك سيمينار کې: د خوشحال ختټك په اشعارو کې عسکری او حماسی اړخونه، ۱۳۵۸.

۴ – د ابن سينا د سيمينار لپاره: ۱۳۵۹ کال د معاصرې فلسفی سره د ابن سينا د فلسفی د ځينو اړخونو نژديوالی مقاله.

۵ – د امير کروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلين د سيمينار لپاره: د غور لرغونی کلاګانې، ۱۳۶۳.

۶ – د ګل پاچا الفت په سيمينار کی: د ارواښاد ګل پاچا الفت په اړه زما فرهنګی خاطره، فرهنګی تحقيقي مقاله.

۷ – د کوشانيانو په نړيوال سيمينار کی: ((اهورا مزدائي ائين د ستر کنيشکا د يو عادي ائين په توګه)) علمی تحقيقی مقاله.

۸ - د عبدالله اشيزی دمړينې د ديرشم تلين په مناسبت سيمينار کی: دعبدالله اشيزي ادبی مقام، فرهنګی تحقيقی مقاله.

۹ – د رحمان بابا د ژوندانه او افکارو د څېړنې سيمينار کې: (۱۳۸۱)، ((د رحمان بابا په شعرونو کې دتصوف عرفاني وړانګی)) مقاله.

۱۰ – کندهار د تاريخ په اوږدو کې سيمينار لپاره: ((د کندهار تاريخي نومونه)) علمی تحقيقی مقاله.

۱۱ – د عبدالقادر مومند د يوسف او زليخا د پښتو ژباړنې د (۱۵۰) کال په مناسبت سيمينار کې د (( يوسف (ع) د کيسې قرآنی متن)) مقاله.

۱۲ – دپوهاند عبدالحی حبيبی دمړينی د شلم تلين په مناسبت د سيمينار لپاره، ((د استاد حبيبی پښتو شعر ته يوه کتنه)) مقاله او داسی نوروسيمينارونو کې چې په يادکی مې پاتی نه دی.

## د علمي رتبې لپاره کنفرانسونه:

۱ – دهرات د ښار تاريخي نومونه.

۲ - ((د احمدشاه بابا د پانې پټ جګړه)) په حربي پوهنتون کې.
۳ - د پوځي دسپلين د اصولنامې مطالعه او تطبيق: د طبي علومو په اکادمۍ کې.
۴ - نقش مورال در پروسه تطبيق کمکهای اولیه طبی: د طبي علومو په اکادمۍ کې.

## د استادنړيوال ناچاپ کتابونه:

۱ - د افغانستان د پوځي تشکيلاتو لنډ تاريخ.
۲ - لرغوني او اوسني کونړ.
۳ - د حرب تاريخ (درسي ممد).
۴ - د ډله ييز تاثير وسلې او د هغو زهري اغيزې.
۵ - د افغان ـ انګليس دري جګړې.
۶ - وتلي طبيبان او د هغوئ نوښتونه.
۷ - کوچني دايره المعارف.
۸ - د کونړ د خلکو کلتوري او فلکوري اړخونه.
۹ - د نقلو پاکټ (طنزي اثر؛ نثري، شعري او نکلي).
۱۰ - د ادب هنري څرکونه (ادبي تخليقي).
۱۱ - څېرې او خاطرې (په نامتو فرهنګي شخصيتونو ليکنې).
۱۲ - څراغونه بلېږي او ګلان خاندي (د ممتازې کورنيو ممتاز ماشومان).
۱۳ - د فارمسي او طبابت د ودې او پراختيا لنډ تاريخ، د پوهاند عبدالحی مومني تاليف، پښتو ژباړه.
۱۴ - تر بيلا بيلو عنوانونو لاندې د اشعارو مجموعې (۳۵) ټوکه.
۱۵ - داستانونه (۳) ټوکه.
۱۶ - د انسان د غړيو نومونه او ارقام په فلکلور کې (فلکلوري څېړنې).

۱۷ - زما د ژوند استادان او زما د شعر هڅونکي (۲ ټوکه).
۱۸ - د ګلو هار (د شاعرانو منتخب شعرونه).
۱۹ - د ویتنام د جګړو تاریخ، **۱۳۵۵** کال.

## ناچاپه رسالې او بروشورونه:

۱ - اهمیت کوها، کوتلها و راهای کوهستاني.
۲ - زرتشت او د زرتشتی آئین تعلیمات (۱۳۸۲ کال).
۳ - بودا، باني ائین انساني وعاطفه قرن ها و دیارها (۱۳۸۲)
**۴** - چهره های مشکوك و دست های نامريي.
**۵** - د غزنوی سلطان محمود د سومنات جګړه.
۶ - معاهدات مابین افغانستان و انګلستان (۱۳۸۲).
۷ - په پښتو لنډیو کې تغزلی انځورونه.
۸ - خوب او رویا.

## په ادبی - علمی - تحقیقی محفلونو او سیمینارونو کی ګډون:

پوهاندنړیوال له هغه مهاله چې مرحوم محمد صدیق روحي د پښتو ټولنې رئیس وُ د افغانستان د علومو د اکادمۍ افتخاری غړی دی، د ژبو او ادبیاتو دمرکز و د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د کوشاني څېړو دنړیوال مرکز، د باستانشناسۍ د ریاست او د تاریخ او د اتنوګرافۍ د امریت دخپرونو د علمی، تحقیقي مقالو قلمی همکار او رابطه ورسره لري.

له **۱۳۳۷** کال راهیسی په مشاعرو او له **۱۳۵۶** کال راهیسی د افغانستان دعلومو د اکادمۍ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل پوهنتون، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت او داسی نورو موسسو په ملی او نړیوالو علمی، تحقیقی او ادبی سیمینارونوکې یې فعاله برخه اخستلی ده د افغانستان د لیکوالو د انجمن، دژورنالستانو د اتحادیې،د اردو د شاعرانو او فرهنګیانو

د اتحادیې اصلي غړی او د افغانستان د روانشناسانو د انجمن افتخاري غړیتوب لري.

همداشان د سرې میاشتې دمجلې، رهنمای خانواده، مېرمن، جرګې او د هموطن دمجلو د لیکنې د هیئت غړیتوب یې کړی دی.

- ادبی جایزې یې وړې دي، په مډالونو او نقدي مکافاتو ویاړل شوی دی.
- بهر ته سفر څه چې د هیواد یو شمیر ښارونه یې هم نه دی لیدلی.
- په پښتو او دري لیکنې او څېړنې کوي، د انګلیسي، روسي او عربي ژبو سره پیژندنه لري.

## خاطره:

د موضوع د لنډیز په خاطر د استاد نړیوال د ډېرو کتابونو، بروشورونو (رسالو) علمي او تحقیقي اوږدو مقالو او د سیمینارونو له یادونو څخه صرف نظر وشو.

# منـنـه :

داطلاعات اوفرهنگ علم دوست شخصيت دکتــــــور سيد مخدوم « رهين » او له نشراتي معين ، سيد حسين فاضل « سانچارکي » څخه په زښته زياته مننه چې په خاصه علم دوستانه او فرهنګي پيرزوينې سره يې د دې کتاب دچاپولو په هکله هدايت ورکړ . او همدا شان د بيهقي د کتاب خپرولو د موسسې د رئيس ښاغلي محمد رستم د وطنپرستانه خلوصيت او د دې موسسې د مرستيال ښاغلي محمد صادق « عيار » له خاصي پاملرنې او د مطبعې له کارکوونکو څخه د زړه له کومي تشکر کوم چې د دې کتاب په چاپولو کې يې صادقانه برخه واخيستله .

پوهاند نړۍ وال